بُت‌شکن

د فاتح سلطان محمود غزنوي رحمه الله په یاد کې

سرطان، 1405 هـ.ش - مُحَرَّم، 1448 هـ.ق



ځوان مسلمان نسل بې مثاله دی!

هر ملک ملک ماست

طارق چـــو بر کنـــارهٔ اندلـــس سفینه سوخت
گفتـــند کـــار تو به نگـــاه خـــرد خـــطاست

دوریـــم از ســـواد وطـــن بـــاز چـــون رسـیم
ترک ســبب ز روی شـــریـــعت کـــجا رواست

خندید و دســت خویش بشـمشیر برد و گفت
هر ملک ملک ماست که ملک خدای ماست

علامه اقبال لاهوری
پیام مشرق، الملک لله



بسم الله الرحمن الرحيم

مهم موضوعات

اداري پلاوی

مسؤول مدير:

حسن ابراهیم زی

غړي:

بشير قريشي

مولوي سعد طارق

حافظ خالد سعيد دراني

ډاکټر محمد طنين

اول ګل زاهد

زمونږ سره رابطه

ایمېل آدرس:

tamas@butshikan.com

ټلګرام رابطه:

tamas_butshikan

وېب سايټ:

butshikan.com

مونږ په ټولنيزو رسنيو وځارئ:

ButShikan1404

لړلیک

ځوان مسلمان نسل بې مثاله دی!

پخواني خلک متل کوي چې غمی په ایرو کې پټ وي، ریښتیا هم کله کله خلکو ته نه معلومېږي چې په چاپېریال کې یې څه روان دي او بې توپیره چلند ورسره کوي، په داسې حال کې چې همدا چاپېریال د لویو پېښو او حادثو لپاره چمتوالی نیسي. نن ورځ دقیقاً په همداسې حال کې ژوند کوو، زموږ چاپېریال په مستقیم او غیر مستقیم شکل د یوه طوفان په لور حرکت پیل کړی دی، په دې خاوره، بلکې په ټولو اسلامي خاورو کې یوه ځوان نسل په روزل کېدو دی چې سترګې یې کیسې لري، هره ورځ د خپلو مشرانو او همزولو له لوري او یا خپله د رسنیو له لوري د کفارو ظلمونه او وحشتونه ویني او په ذهن کې دا خبره لیکي چې د بشریت دښمن صهیونیزم او کفار دي.

دوی د نړۍ د مسلمانانو تار تار ګریوانونه ویني، دوی د خپل شهید پلار پوښتنه کوي او د هغه د کارنامو په اړه پوښتي، دوی د خپلو مقدساتو د حرمت په اړه اوري او لولي، دوی په هره معنا خپل دښمن پېژندلی دی چې یوازې وحشت یې زده دی او یوازې وحشت کولای شي. دوی په خورا شوق او ذوق له ټوپک سره ناسته ولاړه کوي او د خپلو پلاستیکي اسلحو خیال ساتي، چې دا هر څه د بصیرت خاوندانو ته زیري ورکوي او د بصیرت خاوندان پوهېږي چې د دې نسل له ځوانېدو سره سم به کوم طوفان راپورته کېږي او بیا به دا طوفان کومې بېړۍ خپل منزل ته رسوي او کومې بېړۍ به د سمندر په منځ کې ټوټې ټوټې کوي.

په دې وروستیو کې یو شمېر ویډیوګانې او واقعات د رسنیو پرمخ نشر شوي دي چې دا ادعا لا پسې قوي چې دا نسل په تېره یوه پیړۍ کې یو بې مثاله نسل دی، په اوله ویډیو کې ښکاري چې یو خبریال له یو ماشوم څخه د هغه د آرمان په اړه پوښتنه کوي او ماشوم په ځواب کې ورته وایي چې زما تر ټولو لویه هیله او آرمان دا دی چې قبول شهادت راته نصیب شي.

په یوه بله واقعه کې راغلي چې په همدې تېره میاشت کې یوې ماشومې له خپلې مور سره خبرلې کولې او د خبرو په جریان کې شپږ کلنه ماشومه خپلې مور ته وایي چې زما زړه غواړي چې ژر شهیده شم، مور یې ترې پوښتنه کوي چې ولې یې د شهادت لپاره دومره بېړه ده؟ نو لور په حیرانتیا پوښتي چې آیا تاسې جنت ته د تللو لپاره بېړه نه لرئ؟ په واقعه کې راغلي چې د دې په اورېدلو سره مور بې ځوابه شوه.

البته چې د ماشومانو هغه ویډیوګانې به هرچا لیدلې وي چې د غزې له مبارکې خاورې څخه نشرېږي هلته چې مشر ورور خپلې کشرې خور ته په داسې حال کې د کلمې تلقین ورکوي چې دواړه د صهیونستي اشغالګرو په حمله کې زخمي شوي دي او په روغتون کې پراته دي. په ویډیو کې ښکاري چې د دواړو عمر د لسو کلونو څخه کم ښکارېږي.

له دې هرڅه ښکارېږي چې را روان نسل یو بې مثاله نسل دی او بې مثالي توب یې په دې کې دی چې د خپل دین او ارزښتونو باندې تر هر چا ښه خبر او د خپل دین د احکامو په ښه تطبیق باندې یې زړه آرام اخلي. البته چې باید یادونه وکړو چې دا هغه یو څو نمونې وې چې موږ راوړې له دې ور هاخوا هر ماشوم یو مجاهد دی، د خپل مقدساتو د آزادۍ آرمان او هیله لري او تل په دې هڅه کې دی چې په یوه شکل سره د خپل زړه براس وباسي، هغه که د لوبو په شکل سره د سنګر جوړول وي او که د خپلو پلاستیکي ټوپکونو په مرسته د خیالي صهیونستي عسکرو قتل عام وي.

په آخر کې لومړی له الله تعالی څخه هیله لرو چې په دې نسل کې برکت واچوي او په زړه کې یې د جهاد او شهادت جذبه ژوندۍ او ګرنده وساتي او بیا له خپلو مشرانو او د کورنیو له مشرانو څخه هیله لرو چې د دې ځوان نسل روزنې او تربیې ته خاصه توجه وکړي او له هرې ممکنې لارې څخه د دې نسل د تربیې لپاره کار واخلي، د ماشومانو لپاره د ماشومانو په ژبه کتابونه او رسالې ترتیب کړي او د دې ځوان او مسلمان نسل پر وړاندې خپل مسؤولیت په ښه شکل سره اداء کړي. الله تعالی د له موږ ټولو څخه د خپل دین خدمت واخلي، آمین.

ویره د انسان لپاره ګټوره ده

حضرت مفتي پیر سید مختارالدین شاه نوّر الله مرقده

نحمده و نصلي علی رسوله الکریم اما بعد!

الله تعالی د انسان په فطرت کې ډېرې ښې ځانګړنې ایښې دي او دا ځانګړنې د انسان لپاره ډېرې اړینې دي. له دغو ځانګړنو څخه یوه هم «ویره» ده. ویره هغه صفت دی چې الله تعالی د انسان په طبیعت کې ایښی دی. ویره ډېره ګټوره ده، ځکه د همدې له امله انسان د ځان ساتنه کوي. تاسې ګورئ، مثلا تاسې پر غره روان یاست او په لاره کې داسې درز یا ځوړند ځای وي چې د لوېدو خطر پکې وي، نو هلته به څنګه تېرېږئ؟ په احتیاط سره، ځکه وېرېږئ چې هسې نه ولوېږئ. همدارنګه هر هغه ځای چې انسان پکې د خطر احساس وکړي، احتیاط کوي. (مثلا) تاسې په کوم ځای کې مار ووینئ، نو د ویرې له امله به یا به لرګی راواخلئ او د ځان د دفاع له پاره به مار ووژنئ او یا به له هغه ځایه تېښته وکړئ. کوچني ماشومان وګورئ، تر هغه وخته چې د پوهې او شعور عمر ته نه وي رسېدلي، عموما ویره نه لري، له همدې امله کله ناکله له مار سره هم لوبې کوي. (لنډه دا چې) ویره ډېره ګټوره ځانګړنه ده. د همدې وېرې له امله انسان په دنیا کې له زیان او کړاو څخه ځان ژغورلی شي او له مرګ وروسته د قبر او دوزخ له عذابه هم خوندي کېدای شي. الله تعالی فرمایي:

﴿وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوَىٰ ۝ فَإِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَأْوَىٰ﴾ (النازعات: ۴۰-۴۱)

«او هغه څوک چې د خپل رب د حضور له ودرېدو څخه وېرېدلی وي او خپل نفس یې له ناروا غوښتنو څخه منع کړی وي، نو بېشکه جنت به د هغه استوګنځای وي.»

الله تعالی فرمایي چې د چا په زړه کې د خپل رب وېره وي، هغه به خپل نفس له خواهشاتو او هوا څخه منع کوي. دوزخ د خطر او عذاب ځای دی، نو کله چې یو انسان د ویرې له امله له ګناهونو ځان وساتي، همدغه وېره یې جنت ته رسوي. نو مطلب دا چې وېره یوه ډېره ګټوره ځانګړنه ده.

ګټوره وېره هغه ده چې په اعتدال کې وي

یوه خبره دا ده چې انسان وېره پر ځان مسلطه کړي. دې ته «وهم» ویل کېږي. په یاد ولرئ چې هر شی چې له خپل حد څخه واوړي، په بد خوی او منفي صفت بدلېږي. (مثلا وېره را واخلئ) د ویرې اصل دا دی چې انسان له خپل خالق څخه ووېرېږي او د همدې وېرې په نتیجه کې د هغه حکمونه پر ځای کړي، خو ځینې خلک پر ځان داسې وېره مسلطوي چې د دې نعمت ناسم استعمال کوي؛ ځکه د ویرې اصلي مقصد دا دی چې انسان د دنیا له زیانونو او ستونزو ځان وساتي او هم د الله تعالی له نافرمانۍ او ګناهونو څخه وژغورل شي، خو هغه کسان چې تل د یو ډول وېرې تر اغېز لاندې وي، غالبا د دنیا، دنیوي شیانو او د هغوی د له منځه تلو بېځایه اندېښنې لري. په دې توګه دغه ګټور نعمت بې ګټې او زیانمن ګرځوي. که له دې سره «وهم» هم مل شي، نو تاوان یې لا زیاتېږي.

د ټینشن او ډیپریشن حقیقت او تر ټولو آسانه درملنه

نن سبا دا پر خپل ځان وېره مسلط کول یوه لویه ناروغي ده. د دې یو مهم لامل دا دی چې زړونه د الله له وېرې او د آخرت له فکره تش شوي دي. ځکه په کوم زړه کې چې د الله وېره او د آخرت فکر وي، هلته بیا له نور (مخلوق) څخه وېره او اندېښنه ځای نه نیسي. الله تعالی پر یوه انسان دوه غمونه نه را جمع کوي، (پر انسان تل یو غم وي) یا به د دنیا غم ورسره وي او یا به د آخرت. په هر حال، وهم د دې زمانې یوه لویه ناروغي ده. همدغه وهم ته خلک نن سبا ټینشن او ډیپریشن وایي. دا ناروغي څنګه پیدا کېږي؟ دا (عموما داسې پیدا کېږي چې انسان له وخته مخکې د راتلونکي بار پر ځان واخلي) مثلا فکر کوي، چې «سبا به څه خورم؟ زما ښځه او اولادونه به څه خوري؟» ستا ښځه او اولادونه فقیران کله شول چې ته ورته اندېښمن یې؟

همدارنګه دا فکر کول چې«دا ماشومان به لوی شي، د دوی د ودونو بندوبست به څنګه وکړم؟ دا له وخته مخکې ویره ده. دا اندېښنه ځکه پیدا کېږي چې موږ ماشومان لا له وخته مخکې لوی او ځوان ګڼو او بیا پرېشانه کېږو. دا په ځان د وېرې مسلط کول دي. که په زړه کې د الله تعالی ویره وای، نو دا ډول نورې وېرې به نه وې. همدارنګه دا اندېښنه چې که مې دنده ختمه شوه، زه به څه کوم؟ زما خو بل کار نشته! (دا ټول ناسم خیالات او بې‌ګټې سوچونه دي، داسې فکرونه دي چې انسان بېځایه اندېښمنوي، نو باید په هر صورت ځان ورڅخه وساتل شي.) پخوا دا ناروغي په غیرمسلمانانو او فاسقو خلکو کې وه، چې مثلا ویل به یې، که زما ماشومان لوی شي، واده وکړي، نو څه به خوري؟ له کومه به روزي پیدا کوي؟ خو اوس دا ناروغي آن په مسلمانانو، بلکې په هغو کسانو کې هم راغلې چې ظاهراً دینداره ښکاري. دوی هم وایي، چې دا ماشومان لوی شي، له کومه به خوري؟ دا فکر وکړه چې دا ماشوم خو اوس هم خوراک کوي، نو اوس یې له کومه خوري؟ (د الله له خزانو یې خوري، نو په راتلونکي کې به یې هم د الله له خزانو څخه خوري، ته ولې بې له کوم دلیل څخه خفه یې؟) کوم خدای یې چې اوس ورکوي، چې را لوی شي، نور هم زیات ورکوي. ځکه فکر مه کوئ او وېرېږئ مه! له دننه څخه مه وېرېږئ؛ (یعني له خپل باطن څخه وېره لرې کړئ) ځکه ته چې هر وخت لوېږې، له خپل باطنه لوېږې. له بهره دې څوک نشي راپرځولای، بلکې ستا خپل «دننه حالت» دې راپرځوي. نو پر ځان ویره مه مسلطوئ، (بلکې داسې فکر وکړئ) چې هر څه کېږي، ګورو به یې. کله چې موږ ټول پوهېږو چې زموږ رب الله تعالی دی او هغه زموږ خیرغواړی دی، نو بیا څوک موږ ته زیان رسولای شي؟ (هېڅکله نه) البته له خپله نفسه باید ووېرېږئ، هسې نه چې نفس مو له الله تعالی څخه لرې کړي.

د غیر ضروري وېرې د زیانمنوالي په اړه د یوه فرضي مثال په وسیله په زړه پورې وضاحت

د غیر ضروري وېرې د زیانمنوالي په اړه یوه افسانه راپه یاد شوه. هیضه یوه ناروغي ده. یو ځل پر اوښ سپره کوم ځای ته روانه وه، په لاره کې یو کلیوال ورسره مخ شو. کلیوال له هیضې وپوښتل: ته څوک یې؟ هیضې په ځواب کې وویل: زه هیضه یم! کلیوال وپوښتل: چېرته ځې؟ هیضې وویل: عراق ته ځم. کلیوال وویل: ته عراق ته د څه له پاره ځې؟ ځکه ته خو سراسر آفت یې او په تا کې هېڅ خیر نشته، نو بیا عراق ته ستا د تګ موخه څه ده؟ (ځکه هیضه یوه خطرناکه او مرګونې ناروغي ده.) هغې وویل: زه به عراق ته لاړه شم او شل زره کسان به ووژنم. په هر حال، هیضه عراق ته ولاړه. څه موده وروسته بېرته له هغه ځایه راستنېدله. په دې موده کې دا خبر مشهور شو چې په عراق کې د هیضې ناروغۍ له امله یو لک کسان مړه شوي دي. دغه کلیوال هم دا خبره له یوې خوا واورېده. (هغه فکر وکړ، چې هیضه خو ډېره دروغجنه ده، د تلو پر مهال یې ویل چې زه به شل زره کسان ووژنم، خو هلته یې د شلو زرو پر ځای یو لک کسان وژلي دي.) کلیوال خلک خو د کلک فکر او کلکې ژبې خاوندان وي، (نو هغه هیضې ته ډېر غوسه و.) هغه خلک چې په غرونو کې اوسي، (عموما) د قوي فکر او کلکې ژبې څښتنان وي. نو کلیوال له ځان سره فکر وکړ چې د بېرته راتګ پر مهال به له هیضې سره ووینم او پوښتنه به ترې وکړم چې ولې یې د تلو پر مهال راسره ناسمه خبره کړې وه. په هر حال، د هیضې د بېرته راتګ پر مهال یې ورسره ولیدل. کلیوال چې ورسره مخ شو، لومړی یې همدا پوښتنه ترې وکړه: تا خو ویلي وو چې شل زره کسان به ووژنم، نو بیا هلته ولې یو لک کسان مړه شول؟

هیضې وویل: اې کلیواله! ما هېڅ ناسمه خبره نه ده کړې. زه خو یوازې د شلو زرو کسانو د وژلو له پاره تللې وم او هماغه شل زره کسان مې وژلي دي. پاتې اتیا زره کسان د وېرې او وهم له امله مړه شوي دي. (ځکه هلته دا خبره مشهوره شوې وه چې هیضه راغلې ده، هیضه راغلې ده نو کمزوري او ډارن خلک ناهیلې کېدل او مړه کېدل، تر دې چې په پای کې اتیا زره کسان یوازې د وېرې له امله مړه شول.)

د وېرې د له منځه وړلو طریقه

د دې کیسې د بیانولو موخه دا ده چې انسان باید بې له دلیله ویره ونه کړي. کوم چې واقعي خطرونه دي، له هغوی سره احتیاط وکړئ، خو فرضي او خیالي وېرې بالکل مه کوئ. د وېرې د له منځه وړلو یوه غوره لاره دا ده چې له الله تعالی سره خپله اړیکه پیاوړې کړئ. (ان شاء الله تعالی، له الله تعالی سره اړیکه به د هر غم درملنه ثابته شي.)

نهایت د دې حسين دی ابتــدا یې اســمــــــاعیل

معاذ ابراهیم زی

د اسلامي امت په تېر، اوسني او راتلونکي وخت کې داسې یوه ورځ نشته چې له سرښندنې او قربانۍ څخه خالي وي. د دې ټولو سرښندنو او قربانیو یوازینۍ موخه د الله ﷻ رضا ترلاسه کول دي. دا رضا څنګه ترلاسه کېدای شي؟ الله تعالی فرمايي:

قُلۡ اِنۡ كُنۡتُمۡ تُحِبُّوۡنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوۡنِىۡ يُحۡبِبۡكُمُ اللّٰهُ وَيَغۡفِرۡ لَـكُمۡ ذُنُوۡبَكُمۡ‌ؕ وَاللّٰهُ غَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ○(سورة آلِ عمران:۳۱)

«(اې پیغمبره! خلکو ته) ووايه که تاسې له الله سره مينه لرئ، نو زما پیروي وکړئ، الله به درسره مینه وکړي او ستاسې په خاطر به ستاسې ګناهونه در وبښي، او الله ډېر ښښونکی او مهربان دی.»

نو د مهربان، ښښونکي او رحم کوونکي ذات رضا د محبوب ﷺ د سنتو په پیروۍ کې ده. د هغه ﷺ پر نقشِ قدم قدم اېښودل او په همدې لاره روانېدل، تر هغه چې مرګ موږ په خپله غېږه کې ونیسي. همدا اصلي خبره ده. او د الهي رضا اصلي ځای آخرت دی. په هغه تلپاتې کور کې د خپل مالک د راضي کولو لپاره، که په دې فاني نړۍ کې هر څه قربان هم شي، نو هېڅ قیمت، ارزښت او حیثیت نه لري. همدا د سیرت المصطفی ﷺ پیغام دی.

د محبوب ﷺ په سیرت کې به هېڅ داسې کوچنۍ مسئله هم ونه مومې چې له حکمت او تدبیر څخه تشه وي. د صفا غره پر سر د هادي علیه الصلاة والسلام له بلنې څخه نیولې، تر دار الارقم او شعب ابي طالب، هجرتِ حبشې، د عقبې درې، هجرتِ مدینې، مواخات، د مدینې تر میثاق، بدر او خندق، حدیبیې او خیبر، تبوک او فتح مکې پورې، هر ګام له رازونو، حکمتونو او ژور تدبر څخه ډک دی. تدبیر کول، د اسبابو او وسایلو اختیارول، په دې نړۍ کې د الهي رضا لپاره د غلبې ترلاسه کولو یو لازم او نه بېلېدونکی جزء دی. په حقیقت کې حکمت د سنت بل نوم دی.

خو یوه ډېره مهمه خبره، چې د محبوب ﷺ سنت ترې ډک دی، بلکې د هغه ﷺ دې نړۍ ته د راتګ څخه وراندې د هغه د پلرونو له اسوې څخه نیولې، د هغه د لمسیانو تر ژوند او آن د قیامت تر ورځې پورې څرګنده او روښانه ده، هغه قرباني، سرښندنه، تر ځان تېرېدل او فدائیت ده. دلته یوازې خدمت او زحمت بسنه نه کوي. دلته یوازې تدبیر لرونکي قوماندانان هم بسنه نه کوي. د داسې تدبیر لرونکي امیر او جنرنیل به څه وشي چې ستر ستر پلانونه جوړوي، خو ژوند یې له دوامدار عمل او فداکارۍ څخه تش وي؟ هغه بې غرضه قرباني او سرښندنه چې له هغې پرته نه یوازې په نړۍ کې بدلون نه راځي، بلکې د یوه کوچني کور اور هم نه بلېږي. هر دعوت د فدائیت غوښتونکی وي او د دې فدائیت او قربانۍ پیل د خپل نفس او خپل کور له قربانۍ څخه کېږي. ابراهیم علیه السلام ته وحی کېږي، نو هغه خپل ګران اسماعیل، د سترګو رڼا، د زړه ټوټه، د خپلو هیلو نړۍ، د نړدې یوې پېړۍ دعاوو پایله او د خپل زوړ عمر محبوب زوی پر یوه ډېره څملوي او ذبح کولو ته یې چمتو کېږي، علیهما الصلاة والسلام. د دې لپاره چې د الله دین قائم پاتې شي او تر قیامته پورې په دې دین کې هېڅ تحریف رامنځته نه شي، نو د ابراهیم، اسماعیل او سیدنا محمد ﷺ د لمسي، حسین بن علي رضی الله عنهما، له خپلې پاکې او سپېڅلې کورنۍ سره یو ځای خپل هر څه قربان کړل او د الله په لار کې یې هر څه له لاسه ورکړل.

اندھیری شب ہے، جدا اپنے قافلے سے ہے تُو
ترے لیے ہے مرا شعلۂ نوا قندیل

غریب و سادہ و رنگیں ہے داستانِ حرم
نہایت اس کی حسینؓ، ابتدا ہے اسماعیلؑ

«توره شپه ده او ته له خپل کاروان څخه جلا شوی یې. زما د نغمو لمبه ستا لپاره د څراغ حیثیت لري او لار درښیي.

د حرم کیسه ساده، بې‌تکلفه او له رنګونو او معناوو ډکه ده. د دې کیسې پیل له اسماعیل علیه السلام څخه کېږي او پای یې حسین رضي الله عنه ته رسېږي.»

د امتِ مسلمه په تېرو څه باندې څوارلس نیمو پېړیو کې هېڅ داسې شېبه نه ده تېر شوې چې له فداکارۍ خالي وي. ټول تدبیرونه، غوره پلانونه، لوړ حکمتونه او ستراتیژۍ د الله پر ذات له توکل سره جوړې شوې دي. ملا عمر، اسامه بن لادن او یحیی السنوار غوندې د بې نظیر استعداد لرونکي مشران د همدې زرینې لړۍ کړۍ دي. د نننۍ نړۍ په صحنه کې چې هره لوبه کېږي، نه د فری میسنز، د یهودي مشرانو د پروتوکولونو او نه د واشنګټن او لندن د سیاستونو تابع ده، بلکې دا د اسامه بن لادن او یحیی السنوار له خوا د چلول شوو حکیمانه تدبیرونو او نقشو انعکاس دی. هغوی یوازې د فکر او تدبیر له لارې د جګړې نقشې نه دي جوړې کړې، بلکې د خپلو قربانیو بېلګې یې هم وړاندې کړې دي. دوی د جګړې په شطرنج کې د طاغوتي څواک لوېې کلاګانې نسکورې کړې او د اسماعیل علیه السلام او حسین رضي الله عنه په پیروي کې یې د خپل بدن وروستي څاڅکي وینې هم قرباني کړې. همدا بشپړ او کامل کردار نن له موږ ټولو څخه زموږ په خپلو خپلو ساحو، زاویو، ادارو او میدانونو کې غوښتل کېږي. تاریخ خپل تر ټولو قیمتي او زرین فصلونه پرانستي دي. هڅه وکړئ چې په

دې پاڼو کې خپل نوم د زړه د وینو په لیکلو ثبت کړئ. او د زړه د وینو بهېدونکي هغه کس حالت به د قیامت په ورځ داسې وي چې کله یې بدن بیا ژوندی کړل شي، د وینې رنګ به هماغه د وینې وي، خو خوشبویي به یې د مشک په شان وي!

اللهم اهدنا فیمن هدیت وعافنا فیمن عافیت وتولنا فیمن تولیت وبارك لنا فیما أعطیت وقنا شر ما قضیت إنك تقضی ولا یقضی علیك وإنه لا یذل من والیت ولا یعز من عادیت تبارکت ربنا وتعالیت!

اللهم وفقنا لما تحب وترضی وخذ من دمائنا حتی ترضی .اللهم اهدنا لما اختلف فیه من الحق بإذنك. اللهم زدنا ولا تنقصنا وأکرمنا ولا تهنّا وأعطنا ولا تحرمنا وآثرنا ولا تؤثر علینا وارضنا وارض عنا. اللهم إنّا نسئلك الثّبات فی الأمر ونسئلك عزیمة الرشد ونسئلك شکر نعمتك وحسن عبادتك. اللهم انصر من نصر دین محمد صلی الله علیه وسلم واجعلنا منهم واخذل من خذل دین محمد صلی الله علیه وسلم ولا تجعلنا منهم، آمین یا ربّ العالمین!

****

د الله تعالی لپاره قرباني ورکول

له حضرت انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی، چې حضرت ابوطلحه رضي الله عنه په مدینه کې له ټولو انصارو څخه زیات د خرما باغونه درلودل، د هغه تر ټولو خوښ مال د «بَیْرُحاء» په نوم باغ و، چې د مسجد (نبوي) مخې ته پروت و. رسول الله ﷺ به دې باغ ته ورتلو او د هغه خوږې اوبه به یې څښلې.

حضرت انس رضي الله عنه فرمایي، کله چې دا آیت نازل شو:

﴿لَن تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّىٰ تُنفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ﴾

«تاسو به پوره نېکۍ ته له سره ونه رسېږئ تر هغه چې له خپلو د خوښې وړ مالونو څخه (د الله په لار کې) لګښت ونه کړئ.»
آل عمران: ۹۲

نو حضرت ابوطلحه رضي الله عنه د رسول الله ﷺ حضور ته راغی او ویې ویل: ای د الله رسوله! الله تعالی فرمایلي دي چې: «تاسو به پوره نېکۍ ته له سره ونه رسېږئ تر هغه چې له خپلو د خوښې وړ مالونو څخه (د الله په لار کې) لګښت ونه کړئ.» زما په مالونو کې تر ټولو خوښ مال همدا «بیرحاء» باغ دی، نو زه یې د الله لپاره صدقه کوم. د دې ثواب او اجر له الله تعالی څخه غواړم. ای د الله رسوله! دا باغ هلته ولګوئ، کوم ځای چې درته مناسب ښکاریږي.

رواه البخاري



دښمن پېژندنه

ایلومیناتي او فراماسونري شیطاني تنظیمونه

أسامه أمجد

فراماسونري یا فري میسن لغوي معنی آزاد گِل کاران (خټگر)، معماران او جوړونکي ده، معاصره بڼه یې په 1717م کال انگلنډ کې رامنځته شوې، پداسې حال کې چې د دې خفیه تنظیم شجره تر فرعونیانو او قبل المیلاد پورې رسېږي یا هم د فرعونیانو له پاتې شونو او اثارو څخه په استفادې یې د خپلو مقاصدو او موخو د تحقق په پار کاروي؛ لومړی ځل د کنایټ ټمپلر په نوم یوې یهودي ډلې چې په اروپا کې استوگن وه او ځانونه یې صلیبیان او عیسویان معریفي کول د پاپ لخوا په 1035م کال کې د اسلامي نړۍ پر وړاندې د صلیبي جگړو په پیل سره د بیت المقدس د نیولو په پار صلیبي لښکرو کې داخل شول، دوی غوښتل د صلیبیانو له طاقت په استفادې بیت المقدس ته ځان ورسوي او هیکل سلیماني ورغوي، نوموړو په صلیبیانو کې ځانونه مدغم کړل چې بلاخره په 1096م کال کې صلیبیانو د همدې کنایټ ټمپلر ډلې پر مټ چې ځانونه یې په صلیبیانو کې پټ کړي او صلیبیان ښودل بیت المقدس اشغال کړ؛ د وخت په تېریدو سره صلیبیانو ددوی اصلیت تشخیص کړ او پاپ د کنایټ ټمپلر د مشر په دار کولو امر وکړ، د رهبر له وژلو بعد یې د افرادو په قتل عام هم پیل وکړ او له مرگ ژغورل شوي د کنایټ ټمپلر پاتې شونې سکاټلنډ ته وتښتیدل، دوی د سکاټلنډ په ازادۍ او جگړو کې مخکښ رول ولوباوه؛ د سکاټلنډ او انگلنډ له اتحاد وروسته یې د فعالیت ساحه نوره هم پراخه شوه، وروسته همدې د برتانیې یهودو چې همدا کنایټ ټمپلر وه خپل نوم فری میسن ته بدل کړ، جورج واشنگټن او بنجامین فرانکلن چې د امریکا دا رامنځته کېدو مخکښې څېرې دي هم د دې تنظیم غړي وه؛ همدې فري میسن یوه داسې امریکا وزیږوله چې ټول واک یې د همدوی په لاسونو کې ولوېده، فلسطین ته د یهودو را انتقال او یهودي دولت ته زمینه سازي هم د فري میسن کار وه؛ یهودو چې په سر کې یې فري میسن وه د بانکي سیستم په رامنځته کولو او د کاغذي کرنسۍ په ترویج چې ماشین یې ددوی په لاسونو کې وه د نړۍ حاکمان شول؛ IMF, World bank هم ددوی بانکونه دي، هېوادونو ته قرض ورکوي او وروسته خپل اهداف پرې پر مخ وړي.

د نړۍ پر اقتصاد له ولکې بعد دوی د نړۍ په جغرافیه، سیاست او هر اړخیز واک ترلاسه کولو په لټه او د یو سترگي دجال د ظهور لپاره په لار خلاصولو او لښکرو برابرلو بوخت دي، چې Media houses، fashion industry, tv channels, ، Hollywood, Bollywood تر خپل کنټرول لاندې لري او پر مټ یې د انسانیت د ذهنونو د تسخیر هڅې کوي. د دې دجالي تنظیم کارکوونکي په ظاهر او د انسانانو د تېر ویستلو لپاره داسې شعارات له خپلو ادرسونو ملتونو ته ور تلقینوي چې موږ د نړۍ د تعمیر لپاره په کار او زیار بوخت یو، همدارنگه د ښځو حقوق، صحت، تعلیم، د فقر پر وړاندې مبارزه، بشري حقوق او ازادي زموږ له اولویتونو څخه دي؛ دا دجالي تنظیم د همدې شعاراتو تر نامه لاندې د خلکو په تېر ایستلو سره خپل خفیه او سري مقاصد پر مخ وړي، د دې تنظیم غړو ځانونه د نړۍ سترو سترو چوکیو او پوستونو ته رسولی لکه: صدارتونو، وزارتونو، د سترو کمپنیو ملکیت، د اسلحو جوړونې صنعت تر خپل واک لاندې راوستل او داسې نور، نوموړي ځانونه د نړۍ تر ټولو څېرک او پوه انسانان گڼي؛ فري میسن په لومړیو کې خپل کارونه په پټه او سري بڼه ترسره کول مگر د وخت په تېریدو سره یې خپل تعلیمات په ښکاره بڼه پیل او نړۍ ته وړاندې کړل چې د فری میسنري په نوم مکاتب، ادارات او نور تعلیمي مراکز یې ځای ځای جوړ کړي دي

دوی د نړۍ تر ټولو پیسه دار او شتمن خلک په شعوري یا غیر شعوري ډول خپل تنظیم ته داخلوي او د نوموړو له شتمنۍ څخه په استفادې خپل اهداف پر مخ وړي، د فري میسن تنظیم په ظاهر د ښځو د حقوقو دعوه کوي مگر پخپلو غونډو، مراسماتو او جلسو کې هیڅ ښځه نه پرېږدي، ایلومیناتي

خفیه تنظیم هم له فري میسن څخه زیږیدلای یو خفیه تنظیم دی چې د illuminatus لاتیني کلیمې څخه اخیستل شوی چې معنی یې رڼا، روښنایي او روشنفکري ده؛ بنسټ ایښودونکی یې آدام وایس‌هاوپت نومیږي چې په نننی المان کې یې د نوموړي خفیه تنظیم د بنسټ ډبره کیښوده، آدام وایس هاوپت په لوموړیو کې د فري میسن تنظیم غړی وه چې وروسته یې د خپلو نورو ۹ تنو ملګرو چې دوی هم فري میسنان وه ایلومیناتي تنظیم تشکیل کړ، د دې تنظیم غړي د دې دعوه داران دې چې موږ په یو داسې علم منور یو چې پر مټ یې هر ناممکن کار ممکن کولای شو او د نړۍ نور انسانان له دې علم څخه محروم دي، د ایلومیناتیانو هر څه پر جادو بناء دي او خپلې ټولې کړنې په پټه او د نړۍ له سترګو لرې انجاموي؛ د ۱۷۸۰م کلونو په شاوخوا کې د کاتولیک کلسیا په اشاره د وخت پاچا د ایلومیناتیانو په شمول د فراموسونرانو د تنظیمونو د بندولو حکم وکړ، مګر دوی خپل کارونه د پردې تر شا له مخکې څخه په زیات سرعت پر مخ وړل پیل کړل چې په نتیجه کې د فرانسې د انقلاب په راوستو هم بریالي شول یعنې د فرانسې د انقلاب راوستو تر شا هم د ایلومیناتیانو رغنده رول موجود وه.

ایلومیناتیان چې یو شخص خپل تنظیم ته داخلوي لومړۍ د رازونو د ساتلو قسم ترې اخلي، دوهم شیطان به په خدایۍ نیسي او عبادت به یې کوي؛ د دې تنظیم غړي د ځانګړو مراسمو په جریان کې انسانان؛ په ځانګړې توګه پیغلې، حسینې نجونې او کوچني ماشومان د شیطان په نوم حلالوي چې دا حقیقیت مو د اپستین په فایلونو کې ولیده؛ د دې وحشي صفته امریکایي جفري اپستین په اسنادو او فایلونو کې ښکاره راغلي دي چې بې شمیره کم عمره ترکۍ ښایسته نجونې به د نوموړي په جزیرهٔ کې پلورل او د ځانګړو پروازونو له لارې هلته قاچاق کېدې، تر څو لوړو پوړو او شتمنو کسانو ته د جنسي استفادې لپاره وړاندې شي.

د اپستین په قضیه کې یوه زړه بوږنوونکې او وحشیانه کړنه داده چې دوی نه یوازې پر ماشومانو جنسي تېري کول، بلکې هغوی یې له جنسي تېري وروسته وژل، دهغوی وینې به یې څښلې او له دې شیطاني کار به یې خوند اخیسته؛ یو فایل کې رازي چې د امریکا ولسمشر بوش ولاړ دی، یوه ماشومه یې پر مخکې حلالوي، بیا لاسونه او پښې ترې قطع کوي، بیا یې نس څیرې کوي کولمې ترې راباسي او بیا یې stool یا فاضله مواد خوري.

همدا رنګه فایلونو کې رازي چې هلته به د انسانانو غوښې خوړل کېدې، وینې به یې څښل کیدې، ذبح کیدل به! اپستین دا هر څه په یوازې ځان نکول بلکې تر شا یې همدا مکمل صهیونیستي، ماسوني او ایلیومیناتي سازمانونه موجود وه چې د هغوی طرحه او پالیسي نوموړي پر مخ وړه.

ایلومیناتیان د انسانانو پر ذبح کولو سره انګیري چې شیطان پدې کړنو خپل خارق العاده قوت دوی ته ورکوي، او پر مټ یې له شیطانه غیبي مدد غواړي؛ ایلومینانتیان ۱۳ نسلونه لري چې ټول یې د نړۍ په اقتصاد او بانکونو واکمن دي، د ډیویډ راګ فیلر او راګ چایلډ خاندانونه د امریکا د Federal Reserve Bank څښتنان دي چې امریکا ته یې په قرض ورکولو د خپل ځان غلامه ګرزولې، د ښځو حقوق، د بشر حقوق، بیارغونه، برداشت، امن، انسانیت، انسانیت له مذهب لوړ دی، ساینسي ترقي، انساني ارتقاء چې د خپل معنوي پلار چارلس ډاروین نظریه ترویجول غواړي؛ پورتني اصطلاحات د دوی د هغه تسخیرونکې اسلحې دې چې په غیر شعوري بڼه پرې ملتونه له منځه وړي یا په بله اصطلاح په شاتو کې زهر ورکول دي.

د ایلومیناتیانو تر ټولو مشهور شیطان او معبود لوسیفر نومیږي چې همدا ابلیس دی او د دریابونو تر ټولو زورور خدای یې ګڼي، بل معبود شیطان یې بوفمیک دی چې د وزې شکل لري او په نړیواله کچه بیخي زیات تبلیغ ورته کیږي، خصوصًا د لوبو په میدانونو کې چې د رونالډو، میسي، ویرات کوهلي او نورو ورزشي ستورو له تصویرونو سره یې جوړه ټومبلی وي؛ په شیطاني کلیساګانو کې د همدې وزې شکله شیطاني معبود بوفمیک ستره مجسمه ایښودل شوې وي چې پیروان یې منظم ورزي او عبادت یې کوي؛ ایلومیناتي تنظیم ۳۷ درجې لري چې په ټوله نړۍ کې یې څانګې خوروې وړې دي او مرکز یې اسرائیل او امریکا کې دی، خلک په پیسو، شهوت او شهرت د ځانونو غلامان ګرزوي چې په دوی کې یې ځانګړی هدف ځوانان وي، د ایلومیناتي دجالي تنظیم اساسي هدف په نړۍ کې د مذاهبو خصوصًا د اسلام له منځه وړل او د شیطان عبادت ترویجول او ورته دعوت دی، د الله تعالی او مذهب تصور د انسان

د ذهن زیږنده بولي او دا فهم په لوړه کچه د رسنیو او نورو لارو څخه د نړۍ د هر فرد تر غوږونو رسول غواړي تر څو خلک ملحدین یا اقلاً په خپل دین شکمن کړي.

فحشا، عریاني او عیاشي ترویج ته د ترقی نوم ورکوي، د پردې تر شا د نشه یې توکو د عاملو تر ټولو ستر سپانسران همدوی دي مګر پر ظاهر یې پر وړاندې د مبارزې مبارزې او ختمولو چیغې وهي.

ددوی د استخدام طریقه کار داسې دی چې لومړی طریقه د نړۍ د زورورو تنظیمونو بارسوخه غړي په پیسو یا بلیک میل کولو سره د خپل لاس الې ګرزوي لکه د فري میسن غړي چې ظاهر د فري میسن غړي ځانونه بولي مګر کار او فعالیت د ایلومیناتیانو په نفع کوي.

دوهمه طریقه د معاهداتو ده: د دې معاهداتو پر مټ شهرت غوښتونکي خلک شهرت ته، پیسه دوست خلک میلیونران او بیلونران کوي، د واک او تحکیم تږي حاکمیت او لوړو پوسټونو ته رسوي، د دوی هدف ته له رسولو بعد پرې خپل اهداف پوره او پر مخ وړي، د نړیوال بانک او IMF پر ټاکلو کې د ایلومیناتیانو رضایت یو له اساسي شرایطو څخه ده؛ د ریګن، بوش او بوش ابن، اوباما او ټرمپ تر څنګ د نړۍ د زبرځواکونو هېوادونو خصوصًا غربي هېوادونو مشران د دې تنظیم غړي دي او وه؛ د ایلومیناتیانو د معاهداتو یو ستره برخه فلمي ستوري، ډمان او سندرغاړي تشکیلوي چې د پیسو او شهرت پر مټ یې تر لوړو رسوي او بیا یې په مقابل کې خپل اهداف پرې پر مخ وړي چې لیډي ډاګا، جیسټن بیبر یې ښه مثالونه دي؛ چې د جیسټن بیبر په سندرو کې د شیطان عبادت ته ښکاره بلنه او د ابلیس توصیف موندل کیږي.

په نړۍ کې د جنګونو تر شا د همدې خفیه شیطاني تنظیمونو لاسونه دي، د اسلحو سترې کمپنۍ یې په کار بوختې دي او د دې کمپنیو د بازار موندنې لپاره نړۍ کې جګړې په لار اچوي، د انساني نسل د محدودولو لپاره رنګارنګ وباګانې لکه کرونا، هانټا او نورو تر شا هم همدا ایلومیناتیان دي، د دې بل هدف یې اقتصادي انحصار هم دی چې پر مټ یې د ټولې نړۍ د خلکو شتمني ولوټي.

په نړۍ کې د مصنوعي فقر راوستنې اصلی مجرمین همدوی دي هغه افریقا چې د زراعت له مخې د نړۍ تر ټولو د پراخو ځمکو او مناسبو اب هوا لرونکې ده او د نړۍ تر ټولو زیات سره زر، الماس او نور قیمتي توکي لري مګر خلک یې له لوږې د ونو پاڼې خوري، له حیواناتو سره یو ځای غیر صحي اوبه څښي او د ژوند له لومړینو ضروریاتو څخه هم ندي برخمن د دوی تر شا هم د همدې دجالي شیطانانو لاسونه دي.

د الحاد او لادینیت خپراوي لپاره شپه او ورځ په زیار او هڅو بوخت دي، په زرګونو راډیوګانې، ټلویزونونه، سایټونه، مجلې او اخبارونه یې ورته وقف کړې دي!

د ایلومیناتیانو او فري میسن تر منځ ډېر مشترکات موجود دي چې له جملې څخه یې یو هم ددوی نښې او علامې دي چې تر ټولو مشهوره یې All Seen Eye ده، دوی لدې علامې څخه په اقتباس وایي چې په نړۍ کې هیڅ شی زموږ له سترګو پټ ندي او نه پټ پاتې کیدای شي، بلکې د هر شي په لیدو او تشخیص قادر یو، او همدا د دوی د مسیحا دجال د سترګې اقتباس هم دی، چې ورته له پیړیو راهیسې په انتظار او راتګ ته یې په زمینه سازۍ بوخت دي، د دوی بله نښه او علامه د بوم یا کونګ نومي مرغه ده چې د غربي تهذیب د روایاتو په اساس د عقلمندی نښه ده، له تندر سره مل بریښنا او 666 چې د شیطان چاپ بلل کیږي یې نورې نښې دي؛ ایلومیناتیان خپلو پلویانو ته وایي چې مه څه اورئ، مه یې وایئ او نه به یې ګورئ، صرف اطاعت به کوئ.

د هر مؤمن او با احساسه مسلمان ځوان له فرائضو او مسؤلیتونو څخه دي چې د دې شیطاني خفیه تنظیمونو له دجل خبر اوسي، پر وړاندې یې مبارزه وکړي، نور فکري ملګري یې له دسایسو او علایمو اګاه او پر وړاندې مبارزې ته چمتو کړي.

موږ پر الله تعالی جل جلاله باور لرو، شیطاني او دجالي قوتونه چې هر څومره د مسلمانانو د له منځه وړلو کوښښونه او هڅې وکړي مګر الله تعالی تر ټولو ښه تدبیر جوړونکی او د دوی رسوا کونکی ذات دی، شکست او ماتې ددوی ازلي برخه ده او غلبه او نصرت د مسلمانانو دی.

إن شاءالله

****



د اسلامي تمدن په غوړېدنه کې د نظامي هڅو او علومو ارزښت

اول ګل زاهد

کله چې هم موږ د تمدن نوم اخلو نو ذهن ته مو ښارونه، چراغونه، علم، آرامي او سوکالي راځي او باید چې همدا شیان مو ذهن ته راشي ځکه کله چې موږ تمدن تعریفوو نو د ابن خلدون تعریف هم مخې ته راځي هغه په خپل تعریف کې وایي چې تمدن هنر، رفاه او د ژوند د وضعیت ښه کیدو ته ویل کیږي چې په پایله کې یې ژوند ته آساني راځي[1] نو عموماً تمدن کې خلک یوازې هغه څه ویني چې د انسان د ژوند آساني ورسره تړلې وي، خو داسې نه ده بلکې ویلای شو چې حتی د سوله ایزو او تر ټولو آرامو تمدنونو تر شا هم د لښکرو او یو سمبال فوځ لاس شته وو او همدا فوځ باعث کیږي تر څو تمدنونو وغوړیږي. اسلامي تمدن د بشري تاریخ له هغو لویو تمدنونونو څخه دی چې یوازې یې د عبادت، اخلاقو، فقهې، ادب او فلسفې په ډګرونو کې نه، بلکې د دولت جوړونې، امنیت، نظام، پوځي نظم، ستراتيژۍ، لوجستیک، انضباط، سرحدي ساتنې، د وسلو د جوړونې او د جګړې اړوندو علومو په برخه کې هم ژور او تل پاتې اغېز پرې ایښی دی. کله چې د اسلامي تمدن د زرینې دورې، د عباسي، اموي، اندلسي، سلجوقي، ایوبي، غزنوي، مغل-- مملوکي او عثماني پړاوونو یادونه کېږي، نو زیاتره د علمي، ادبي او فلسفي پرمختګونو نمونه اخېستل کېږي او باید چې همدا یادونه وشي ځکه چې په دغو دورو کې جهانیانو د مسلمانانو لخوا له پرمختګ پرته بل څه نه دي لیدلي؛ خو دا حقیقت هم باید له پامه ونه غورځېږي چې د دغو ټولو علمي او فرهنګي غوړېدنو تر شا یو مهم بنسټیز عامل د اسلامي نړۍ سیاسي ثبات، نظامي توان، د سرحدونو ساتنه، د تجارتي لارو امنیت، د پوځي اداري پیاوړتیا او د جګړې اړوند علومو کې پرمختګ و.

په ځینو غربي درسونو کې د تمدن په هکله یوازې دا درس ورکول کیږي چې ګواکې تمدن د سوله ایزو حرکتونو په مرسته جوړیږي د ځینو نورو نظریه خو بیا د هېټلر نظریه ده چې غواړي په وچ زور او ځواک سره یو تمدن له منځه یوسي او همداسې ځینې نور بیا غواړي چې په وچ زور سره تمدن جوړ کړي، البته چې د دې کار لپاره جګړې هم کوي خو لکه موږ ته چې معلومه ده هغه جګړې چې د اسلامي لارښونو په رڼا کې نه وي نو هغوی یوازې شر راوړلی شي او یوازې د خلکو د تباهی باعث کیږي او بس!

تمدن یوازې د کتابتونونو مدرسو، مسجدونو او علمي مناظرو په برکت نه غوړېږي؛ تمدن د امن، ثبات، نظم، د دولت د اقتدار، د لارو د خوندیتوب، د سرحدونو د ساتنې، د بهرنیو یرغلونو د دفع کولو، او د داخلي فتنو د مهارولو په فضا کې وده کوي. همدا وجه ده چې قرآن کریم د روحانیت او اخلاقو تر څنګ د قوت، چمتووالي، نظم، صبر، ثبات، دښمن پېژندنې او د دفاعي توان د جوړولو تعلیم هم ورکوي. د اسلام له نظره ځواک یوازې د ظلم او استبداد وسیله نه ده، بلکې د حق د ساتنې، د دین د دفاع، د مظلوم د ملاتړ، د سرحدونو د خوندیتوب، د فتنې د مخنیوي او د امن د ټینګښت وسیله هم ده.

که د اسلامي تاریخ لومړیو پړاوونو ته وکتل شي، نو وبه وینو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په مدینه منوره کې یوازې یوه روحاني ټولنه نه، بلکې یو منظم دولت جوړ کړی وو؛ هغه دولت چې پکې جومات،

[1] د ابن خلدون مقدمه

قضاء، بیت المال، مواخات یا ورورولئ، میثاق، استخبارات، لښکر، قومانده، ساتندوی ځواک، سرحدي تدابیر او د جګړې اصول ټول موجود وو. له همدې ځایه د اسلامي تمدن د نظامي تفکر، دفاعي فلسفې او پوځي تمدني شعور بنسټ او اساس را شروع کیږي. وروسته د خلفای راشدینو په دوره کې دا بنسټ لا پیاوړی شو، او د اموي او عباسي خلافتونو په مهال د پوځ، سمندري ځواک، سرحدي رباطونو او پهره دارېو، کلاوو، اسلحو، برید او دفاعي ستراتیژۍ، او د جګړې اړوندو صنعتونو په پراخېدو سره د اسلامي تمدن د علمي او اقتصادي ودې لپاره زمینه لا نوره هم مساعده شوه.

د دې موضوع اهمیت په دې کې دی چې که چېرې اسلامي تمدن د عظمت په بحث کې که یوازې د فقهاوو، مفسرینو، محدثینو فلاسفهوو او طبیبانو ونډه وڅېړل شي، خو د هغو نظامي بنسټونو، دفاعي علومو او پوځي هڅو یادونه ونه شي چې د همدې علمي فضا د خوندي کولو لپاره یې کار کړی، نو انځور نیمګړی پاتې کېږي. بیت الحکمه، نظامیه مدرسې، د اندلس علمي مرکزونه، د قاهرې مدرسې، د سمرقند او بخارا علمي چاپېریال، او د استانبول سترې اداري ټول هغه مهال غوړېدلای او پراخېدلای شوې چې د دولت تر شا یو داسې ځواک موجود وي چې سرحدونه وساتي، لښکرې وروزي، لارې خوندي کړي او د بهرني ګواښ پر وړاندې د امت دفاع وکړي، له همدې امله دا مقاله د دې موضوع د روښانولو هڅه کوي چې نظامي هڅې او پوځي علوم د اسلامي تمدن په

غوړېدنه کې څومره مهم وو؟! دغه اهمیت د قرآن، سنت، سیرت، د خلفاوو د تجربې، او د اسلامي تاریخ د لویو دولتونو له مثالونو څخه څنګه ثابتېږي؟ او ولې د اسلامي تمدن د تاریخ په لوستلو کې باید د "علم " او" قوت" ترمنځ اړیکه یو ځای مطالعه شي؟ دلته به موږ وښیو چې اسلام د عسکریت، دفاع او ځواک تصور د اخلاقو، عدالت، نظم او علم تر چتر لاندې راوستی؛ او دا چې پوځي علوم د اسلامي تمدن لپاره یوازې د جګړې د وسیلې حیثیت نه درلود، بلکې د دولت جوړونې، اداري پیاوړتیا، صنعتي ودې، لوجستیکي نوښت، د سمندري او ځمکني ترانسپورت د پراختیا، او د علمي تولید د ساتنې لپاره یې حیاتي رول ادا کړی دی. تمدن هغه وخت تمدن کېږي چې په ټولنه کې د انسان د مادي او معنوي اړتیاوو د پوره کولو لپاره منظم نظام، ارزښتونه، اداره، امنیت، اقتصاد، علم، اخلاق او عدالت موجود وي. که یو ملت علم ولري خو د خپل علم د ساتنې توان ونه لري، که اقتصاد ولري خو لارې یې ناامنه وي، که کتابتونونه ولري خو د یرغلګرو له وېرې هره شېبه د سوځېدو په خطر کې وي، که پوهان ولري خو د فتنو او ګډوډیو له امله د تدریس او تحقیق فرصت ونه لري، نو هغه تمدني ودې ته نه شي رسېدای چې تاریخ یې یادونه په درناوي وکړي. له همدې ځایه د تمدن او ځواک اړیکه څرګندېږي.

په اسلامي فکر کې قوت د تمدن ضد مفهوم نه دی، بلکې د تمدن ساتونکی مفهوم دی. اسلام انسان ته نه وايي چې یوازې زاهدانه انزوا غوره کړه او د نړۍ له نظام، سیاست،

ځواک، اقتصاد او دفاع سره کار مه لره؛ بلکې اسلام د انسان د فردي تزکیې ترڅنګ د امت د اجتماعي بقا او عزت فکر هم کوي. قرآن کریم مؤمنانو ته د تقوا، صبر، توکل، عدل، شورا او احسان تر څنګ د "استعداد" او "قوت" امر هم کوي. دا چمتووالی یوازې د جګړې لپاره د وسلې نیول نه دي، بلکې د هر هغه مادي او معنوي ځواک رامنځته کول دي چې د امت عزت، امنیت او بقا ورباندې ولاړ وي.

همدا وجه ده چې د اسلامي تمدن په تاریخ کې د پوځ د تنظیم، د عسکرو د ثبت، د دیوانونو د جوړولو، د سرحدي مورچلونو د ټینګولو، د لښکرو د معاشاتو، د اسونو او وسلو د ساتنې، د کلاوو د جوړولو، د بحري بېړیو د رامنځته کولو، د لارې او پوستې د امنیت، او د جاسوسي او استخباراتي شبکو د فعالولو موضوعات د تمدني پروژې یوه برخه وه. مسلمانانو درک کړې وه چې که د دولت دفاعي ملا ماته شي، نو نه مدرسه خوندي پاتې کېږي، نه بازار، نه قافله، نه ښار، نه کتابتون، او نه د علم د تولید هغه فضا چې د تمدن د غوړېدو لپاره اړینه ده. بلکې دا اصل تر اوسه پورې د ځینو با احساسه وګړو په زړه او ذهن کې ژوندی دی هغه ډول لکه څنګه چې د فلسطیني معاصر جهادي حرکت یا حماس یو پخوانی مشر او مؤسس عزالدین القسام وايي: « چې د مسجدونو د ښایسته کولو مصارف باید په وسلو وشي، ځکه که چېرې مو ځمکه له لاسه ورکړه نو دیوالونو سینګار به څه ګټه وکړي؟!»

د اسلامي تمدن په لومړیو پېړیو کې مسلمانانو له روم، فارس، قبط، بربر، ترک،

هندي او نورو تمدنونو سره تماس پیدا کړ. دا تماس یوازې فکري او تجارتي نه و، بلکې پوځي هم و. له همدې تماسونو څخه مسلمانانو زده کړه وکړه، خپل نظامونه یې اصلاح کړل، د جګړې د وسایلو په جوړولو کې یې پرمختګ وکړ، د سمندري او ځمکني ځواک په برخه کې یې نوې تجربې حاصلې کړې او په عین وخت کې یې د جګړې لپاره خپل اخلاقي اصول هم وساتل. یعنې که له یوې خوا یې د کفارو سره د جګړې لپاره د لویو اسلحو په جوړلو فکر کاوه له بل طرف یې بیا د همدې اسلحو په واسطه د ملکي وګړو د ژوند د خوندیتوب لپاره هم فکر کاوه او تل به یې د اخلاقو او انسانیت په چوکاټ کې د ننه شیان جوړول او د هغوی استعمال یې هم د خپل دین د مبارکو لارښوونو په رڼا او د انسانیت په چوکاټ کې کاوه مطلب د کفارو سره په تعامل کې یې خپل اسلامي او انساني ارزښتونه هېڅکله تر پښو لاندې ندي کړي بلکې همېشه یې هغوی یاد ساتلي دي. همدا تعامل د دې لامل شو چې اسلامي تمدن د " قوت" او" علم" ترمنځ یو داسې توازن رامنځته کړي چې د نورو ډېرو تمدنونو په تاریخ کې یې بېلګې لږې یا بیخي نه لیدل کېږي.

که د تمدن تعریف یوازې په علمي تولید، فلسفي مناظرو او هنري لاسته راوړنو پورې محدود شي، نو بیا به د اسلامي تمدن نیمه کیسه لوستل شوې وي؛ ځکه د تمدن د دې باغ او ګلستان ساتونکي هغه پوځونه، هغه سرحدي مجاهدین، هغه انجنیران، هغه سمندري قوماندانان، هغه کلا جوړوونکي، هغه وسلې جوړوونکي، هغه لوجستیکي مدبرین او هغه سیاسي مشران وو چې د علم او ټولنیز ژوند لپاره یې امن تأمین کړ، له همدې امله د اسلامي تمدن په غوړېدنه کې د نظامي هڅو او علومو ارزښت د یوې فرعي موضوع په توګه نه، بلکې د اصلي تمدني ستنې په توګه باید مطالعه شي.

د قرآن کریم له نظره د قوت، چمتووالي او دفاع اصل

اسلام د سولې دین دی، خو د بې‌وسۍ دین نه دی؛ د رحمت دین دی، خو د ذلت او غلامۍ دین نه دی؛ د اخلاقو دین دی، خو د خپل ځان، امت او حق د دفاع د پرېښودو دین نه دی. قرآن کریم د مسلمانانو د روحاني روزنې ترڅنګ د هغوی د ټولنیز او دفاعي چمتووالي لپاره هم لارښوونې کوي. د دې لارښوونو تر ټولو مشهور او جامع اصل د سورة الأنفال دا مبارک آیت دی:

﴿وَأَعِدّوا لَهُم مَا استَطَعتُم مِن قُوَّةٍ وَمِن رِباطِ الخَيلِ تُرهِبونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُم﴾[2]

او تاسو قوت او تړلي آسونه تیار کړئ، څومره چې استطاعت یا وس لرئ، چې په دې سره به تاسو د الله دښمنان او خپل دښمنان وېروئ!

د دې آیت عظمت په دې کې دی چې اسلام دلته د مسلمانانو څخه د" قوت" د اعظمي چمتووالي غوښتنه کوي." ما استطعتم" دا معنا لري چې هر هغه څه چې ستاسو له وسه کېږي، هره هغه وسیله هره هغه روزنه، هر هغه تدبیر، هر هغه صنعت، هر هغه مهارت او هر هغه نظام چې د امت د دفاع لپاره اړین وي، باید رامنځته شي. دا آیت د وخت او مکان له قید څخه هم تر ډېره پورته دی؛ ځکه قوت یوازې د یوې زماني ځانګړې وسله نه ده، بلکې د هر عصر مطابق هغه ټول توانونه پکې شامل دي چې د دفاع او ځان ساتنې لپاره مهم وي

مفسرینو د «قوة» په معنا کې بېلابېل اړخونه ذکر کړي دي، ځینو یې د وسلو، ځینو د رمي یا ویشتلو، ځینو د آسونو، ځینو د کلاوو، ځینو د حربي تدبیر، او ځینو د عقل، سیاست، تنظیم او صنعت یادونه کړې ده. د همدې تفسیرونو له مخې څرګندېږي چې قرآن یوازې د خامې جذباتي جګړې دعوت نه ورکوي، بلکې د منظم، عاقلانه، صنعتي او حساب شوي چمتووالي دعوت ورکوي. دلته «قوت» د فزیکي زور ترڅنګ علمي قوت، صنعتي قوت، لوجستیکي قوت، استخباراتي قوت، اقتصادي قوت او د رهبرۍ قوت هم رانغاړي.

د دې آیت په پای کې د «ترهبون به عدو الله وعدوکم» جمله هم ژوره معنا لري؛ مقصود یوازې جګړه نه ده، بلکې د داسې قوت رامنځته کول دي چې دښمن له یرغل او فتنې څخه منع شي. یعنې ځواک د سولې د ساتلو وسیله هم ده. کمزوری ملت د جګړې بلنه ورکوي؛ خو قوي ملت د جګړې مخه نیسي، همدا دنن ورځې اصل

[2] سورة الانفال:٦٠

او د نن ورځېد نړیوالو ستراتیژیکو مطالعاتو یوه مهمه موضوع ده، خو قرآن کریم یې بنسټیزه معنا پیړی مخکې بیان کړې ده.

همدارنګه قرآن کریم په بل ځای کې د طالوت او جالوت په قصه کې د عددي کموالي باوجود د ایمان، صبر، نظم او پوځي انضباط ارزښت ښوولی دی. په بدر، احد، احزاب او حنین کې د مسلمانانو تجربو وښودله چې یوازې عدد کافي نه دی؛ بلکې رهبري، اطاعت، د موقف پېژندنه، د جبهې ساتنه، او د امر تعمیل د بریا او ماتې تر منځ لوی توپیر جوړوي، قرآن کریم د احد د پېښې له لارې امت ته دا درس ورکوي چې د نظامي امر څخه سرغړونه، د غنیمت په شوق د مورچل پرېښودل او د قوماندې د نظم ماتول څومره درنې پایلې لري. نو له قرآني نظره نظامي چمتووالی یوازې وسله نه، بلکې انضباط، اطاعت، استقامت، حوصله، اخلاص او د امر منل هم دي.[3]

له دې ټولو څخه دا پایله راځي چې د اسلامي تمدن پوځي بُعد د دین له متن څخه جلا نه دی؛ بلکې د دین د اجتماعي او تمدني فهم یوه برخه ده. قرآن د مسلمانانو د عقیدې او عبادت ترڅنګ د هغوی د قوت، امنیت، تدبیر او دفاع بنسټونه هم ږدي، او همدا بنسټونه وروسته د اسلامي تمدن په غوړېدو کې په عملي ډګر کې څرګند شوي هم دي او مونږ ټولو په خپلو سترګو باندې

لیدلي او همدا شان مو په تاریخونو او د سیرت په کتابونو کې لوستلي دي.

په نبوي سیرت کې د نظامي تیاري، مهارت او تدبیر مقام

که د قرآن کریم آیاتونه د اسلامي فکر بنسټ جوړوي نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت د دې بنسټ د عملي تطبیق میدان دی. نبوي سیرت موږ ته د اسلام د دفاع، پوځي مهارت، استخباراتي تدبیر، منظمې صف بندۍ، لوجستیک، روزنې او د جګړې د اخلاقو یو بشپړ درس او مکتب وړاندې کړی دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم یوازې مبلغ نه و، بلکې رهبر، قاضي، معلم، د دولت مشر او د جګړې د حالاتو امیر هم و.

د حدیث له مخې رسول الله صلی الله علیه وسلم د سورة الأنفال د "قوة" تفسیر په "الرمي" سره کړی دی او په حدیث شریف کې فرمایي چې: «ألا إن القوة الرمي» یعنې خبردار چې له قوت څخه مراد ویشتل دي.[4] دا حدیث څو مهم درسونه لري. لومړی دا چې اسلام مهارت ته اهمیت ورکوي؛ یعنې قوت یوازې د وسلې په لرلو نه، بلکې د هغې په سم استعمال، تمرین او مسلکي وړتیا پورې تړلی دی. دویم دا چې اسلام د تخصص ارزښت پېژني؛ هر عصر کې "رمي" د هغه وخت د مؤثر پوځي مهارت سمبول دی او یوازې متخصصین کولای شي چې د خپل وخت د ویشتلو اسلحې په مؤثره توګه سره استعمال کړي، نو نن یې

معنا د عصري پوځي مهارتونو، تخنیکي وړتیاوو، دفاعي انجینرۍ او ستراتیژیکو وسایلو د زده کړې تر حده غځېږي. دربیم دا چې اسلام د تیارۍ د دوام غوښتنه کوي، نه د اتفاقي او موسمي احساساتو.

نبوي سیرت راښیي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په غزواتو کې د جګړې له شروع مخکې مشوره کوله، جغرافیه یې سنجوله، استخباراتي معلومات یې راټولول، د لښکر مورال یې لوړ ساته، د صفونو تنظیم یې کاوه، ساتندوی ځواکونه یې ټاکل، د شپې او ورځې حرکتونه یې څارل او حسابول، او حتی د خندق په غزوه کې یې له عربي دودیزو لارو پرته د دفاع نوې لاره وکاروله. د خندق حفره یا ژور کانال د دې ښکاره مثال دی چې اسلام له نورو ملتونو څخه د ګټورو نظامي تجربو او استراتیژۍ کاپي کول او را اخیستل منع نه ګڼي؛ بلکې که یوه تګلاره د حق، عدالت او دفاع په خدمت کې وي، اسلام یې د کارولو اجازه ورکوي.

په بدر کې د اوبو د ځایونو کنټرول، په احد کې د غره پر شا د غشو ویشتونکو ټاکل، په حنین کې د ناڅاپي برید پر مهال د صفونو بیا تنظیم، په تبوک کې د اوږد واټن لپاره پوځي تدارکات، او په فتح مکه کې د لږې وینې تویېدو لپاره د ستراتېژیک فشار کارول او نور ټول ښیي چې نبوي مشري د پوځي مدیریت، لوجستیک او تدبیر له پلوه څومره عالي او ژوره وه.

---

[3] د دې د زیاتې تشریح لپاره کولای شئ چې د سیرة النبي له کتابونو څخه استفاده وکړئ!

[4] رواه مسلم و ابو داود

نبوي سنت د جګړې اخلاقي حدود هم ټاکي؛ د ماشوم، ښځې، راهب، بې‌وسلې او غیر محارب انسان وژنه منع ده؛ په اسلام کې د خیانت، مثله کولو، د ونو بې‌ځایه پرېکولو او د فساد خپرولو مخه نیول کېږي؛ د امان او عهد رعایت لازمي ګڼل کېږي؛ اسیرانو سره د انساني چلند لارښوونه کېږي. له دې څخه معلومېږي چې اسلامي پوځي تمدن یوازې د فتوحاتو ماشین نه و، بلکې یو اخلاقي حقوقي نظام هم و. د همدې اخلاقو په برکت اسلامي ځواک د تمدن د جوړولو وسیله وګرځېد، نه د محض تخریب. په حقیقت کې نبوي سنت د اسلامي تمدن د پوځي فلسفې هغه زېرمه ده چې وروسته یې د خلفاوو، فقهاوو، قاضیانو، قوماندانانو او دولتونو د پوځي اداري او نظامي علومو د پراختیا لپاره فکري بنسټ برابر کړ. که د نبوي سیرت دا برخه له پامه وغورځول شي، نو د اسلامي تمدن د دولت‌سازۍ او تمدن‌سازۍ انځور نیمګړی پاتې کېږي.

مدینه منوره؛ چېرې چې تمدن او منظم فوځي ځواک رامنځ ته شو

د اسلامي تمدن عملي پیل د مدینې له دولت څخه کېږي. مکه د ایمان، دعوت، صبر او ابتلاء مرحله وه؛ خو مدینه د دولت، قانون، ټولنیز جوړښت، اقتصاد، دفاع، سیاست او تمدني نظم مرحله ده. دلته رسول الله صلی الله علیه وسلم داسې ټولنه جوړه کړه چې پکې عبادت او سیاست، روحانیت او اداره، علم او دفاع، مسجد او میدان، مواخات یا ورورولي او امنیت ټول په یو منظم چوکاټ کې سره یو ځای شول.

د مدینې دولت له پیله د داخلي او خارجي ګواښونو سره مخ و. له یوې خوا قریش، له بلې خوا یهودي قبایل، له درېیمې خوا منافقین، او له څلورمې خوا د شاوخوا قبایلو نامعلوم دریځونه موجود وو. په داسې چاپېریال کې که مدینې دفاعي نظم نه درلودای، نو نه به دا نوې ټولنه پاتې شوې وای او نه به وروسته اسلامي تمدن د ودې فرصت موندلی وای. له همدې امله د مدینې دولت د خپل لومړي جوړښت له اولې ورځې د امنیتي او دفاعي شعور پر بنسټ جوړ او ولاړ و.

هغه تړون چې «میثاق مدینه» نومیږي، په حقیقت کې یوازې یو سیاسي تړون نه و، بلکې د مدني امنیتي نظم اساس هم و. پکې د ښار د دفاع، د ګډو ګواښونو پر وړاندې د ګډ دریځ او مبارزې، د داخلي شخړو د حل، او د وفادارۍ حدود روښانه شوي وو. دا د تمدني دولت هغه نښه ده چې د قانون، امنیت او مشارکت تر منځ توازن ساتي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د لښکر جوړولو لپاره بېلابېل قبایلي ځواکونه یوازې په احساساتي ډول نه راټولول، بلکې هغوی ته یې نظم ورکاوه، بیرغونه یې ټاکل، قوماندانان یې ټاکل، استخباراتي مأموریتونه یې ورکول، او د اړتیا په وخت کې یې بدیل پلانونه هم درلودل. د غزواتو او سریو تاریخ ښیي چې مدینې کې یو فعال امنیتي دولت و، نه یوازې یوه دیني ټولنه.

د مدینې د دولت په نظامي جوړښت کې څو مهم عناصر لیدل کېږي:

۱. قومانده او اطاعت: د هر لښکر لپاره ټاکلی امیر، او د هغه اطاعت د نظامي نظم بنسټ و.

۲. استخبارات او معلومات: د دښمن د حرکت، شمېر، لوري او نیت په اړه معلومات راټولېدل.

۳. تدبیر او مشوره: د جګړې پر ځای، وخت، صف بندۍ او د دفاع پر طریقه مشورې کېدې.

۴. اقتصادي ملاتړ: د جهاد او دفاع لپاره د مال مصرف ته خلک تشویقېدل، څکه پوځ بې لګښته نه چلېږي.

۵. اخلاقي کنټرول: ځواک د ظلم وسیله نه، بلکې د حق او امن د ساتنې وسیله وه.

٦. ټولنیز مشارکت: ټولنه له دفاعي مسؤلیت څخه جلا نه وه؛ شتمن، غریب، ځوان، سپین‌ږیري، ښځې او نارینه هر یو په خپل ډول د دولت د بقا په پروژه کې برخه لرله.

له همدې امله مدینه د اسلامي تمدن د لومړۍ پوځي مدني اکاډمۍ حیثیت لري، همدلته مسلمانانو زده کړل چې د دین ساتنه یوازې په وعظ نه کېږي؛ د حق د بقا لپاره اداره، نظم، قانون، اقتصاد او دفاعي ځواک هم ضروري دي. وروسته د راشدینو، امویانو او عباسیانو ستر نظامونه د همدې مدني نبوي بنسټ پر اوږو ودرېدل.

د خلفای راشدینو دوره: د عقیدې له ځواک څخه د منظم پوځ تر جوړښت پورې

د خلفای راشدینو دوره د اسلامي تمدن د نظامي ودې او سیاسي پراختیا له مهمو مرحلو څخه ده. په دې پړاو کې مسلمانان له یوه سیمه‌ییز دولت څخه د یوه پراخ نړیوال ځواک په لور ولاړل. خو دا پراختیا د ګډوډو یرغلونو او بې‌نظمه جګړو نتیجه نه وه؛ بلکې د عقیدوي روح، اخلاقي انضباط، اداري تدبیر، پوځي سازمان، د قوماندې د وحدت او د رهبرۍ د قوت ګډ محصول و.

د ابوبکر صدیق رضی الله عنه دوره: د بقا جګړه او د دولت د ټینګښت بنسټ

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات شو، اسلامي دولت له ستر بحران سره مخ شو؛ ارتداد، د زکات انکار، د پیغمبرۍ د درواغجنو مدعیانو راپورته کېدل، او د عربو قبایلو د مرکز نه منل د مدینې دولت د ړنګېدو خطر زیات کړی و. په دې نازک حالت کې حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه یوازې وعظ او نصیحت باندې اکتفاء ونه کړه؛ بلکې د دولت د بقا لپاره یې قاطع نظامي اقدامات هم وکړل. د ردت جګړې په حقیقت کې د اسلامي تمدن د بقا جګړې وې، که هغه مهال دولت کمزوری شوی وای، نو نه به وروسته د اسلامي تمدن ستر بابونه پرانیستل کېدل او نه به د اسلام سیاسي تمدني موجودیت خوندي پاتې کېده.

د ابوبکر رضی الله عنه هوډ وښودله چې دیني اصول او سیاسي اقتدار سره تړلي دي. د زکات انکار د فردي عبادت موضوع نه وه، بلکې د اسلامي دولت د مالي او حقوقي نظام پر ضد سرغړونه وه. له همدې امله د ردت جګړې یوازې نظامي نه، بلکې تمدني ارزښت هم لري: دوی د امت وحدت، د قانون حاکمیت، د دولت اقتدار او د راتلونکي تمدن د ودې بنسټ وساته.

د عمر فاروق رضی الله عنه دوره: له فتوحاتو څخه تر نظامي ادارې

د حضرت عمر رضی الله عنه په دوره کې اسلامي پوځ یوازې یو جګړه کونکی ځواک نه پاتې کېږي، بلکې په تدریج سره منظم دولتي شکل خپلوي. عراق، شام، مصر او فارس ته د فتوحاتو پر مهال عمر فاروق رضی الله عنه د پوځ د تنظیم، د عسکرو د ثبت، د معاشاتو، د دیوان، د، د لښکرو د استوګنې، او د سرحدي تدابیرو په برخه کې داسې بنسټونه کېښودل چې د اسلامي تمدن د دولت‌سازۍ په تاریخ کې ډېر ارزښت لري.

دیوان الجند د همدې پړاو ستره لاسته راوړنه ده. د عسکرو نوملړ، د هغوی حقونه، وظیفې او امتیازات ثبتېدل. دا کار پوځ له قبایلي شکل څخه دولتي اداري ته واړاوه. همدارنګه بصره، کوفه او فسطاط په څېر ښارونه یوازې د استوګنې ځایونه نه وو، بلکې د پوځ، اداري، اقتصاد او تمدن ګډ مرکزونه وو. په دې توګه پوځ او ښار جوړونه سره وتړل شول.

حضرت عمر رضی الله عنه د سرحدي سیمو د ساتنې، د قاضیانو او والیانو د څارنې، د پوځ د اخلاقو او د بیت المال د منظم مصرف په برخه کې هم ځانګړې پاملرنه لرله. د هغه په فکر کې پوځ باید د امت ساتونکی وي، نه د امت بار. له همدې امله د پوځي اداري اصلاح د تمدني ودې د بنسټ په توګه ودرېده.

د عثمان او علي رضی الله عنهما پړاوونه: سمندري ځواک او داخلي ازموینې

د حضرت عثمان رضی الله عنه په دوره کې اسلامي سمندري ځواک د پام وړ پرمختګ وکړ. د شام والي معاویه رضی الله عنه د بحري ځواک پر جوړولو کار وکړ، او مسلمانان د مدیترانې په سمندري فضا کې د خپل حضور خاوندان شول. دا پرمختګ یوازې نظامي نه و؛ بلکې د سوداګرۍ د لارو د امنیت، د ساحلي ښارونو د دفاع او د سمندري تمدني شبکو د پراختیا لپاره هم حیاتي و.

د حضرت علي رضی الله عنه دوره بیا تر ډېره د داخلي فتنو او سیاسي شخړو تر سیوري لاندې تېره شوه. خو د دې دورې یوه لویه زده کړه دا ده چې کله امت داخلي اختلافاتو او کورنیو شخړو ته ولوېږي، نو د تمدن د ودې سرعت کمېږي او پوځي انرژي د بهرني دفاع پر ځای په داخلي فرسایش کې مصرفېږي. دا تجربه وروسته اسلامي تاریخ ته یو ستر درس شو او هغه دا چې: داخلي وحدت د تمدن او پوځي ځواک د بقا شرط دی.

په ټوله کې د خلفای راشدینو پړاو د اسلامي تمدن لپاره دا حقیقت تثبیت کړ چې عقیده او قوت، اخلاق او اداره، عدالت او نظام، او فتوحات او مدني‌سازي باید سره یو ځای پر مخ ولاړ شي. د همدې دورې له تجربو

وروسته اسلامي تمدن د لويو امپراتوريو د جوړولو ظرفيت ومونډ.

په آخر کې ويلای شو چې د اسلامي تمدن د غوړېدنې تاريخ که په ژور نظر وکتل شي، نو روښانه کېږي چې د دې تمدن د علمي، فکري، اقتصادي او فرهنګي عظمت تر شا يو مهم رکن او ستنه نظامي هڅې، دفاعي شعور او پوځي علوم وو. اسلام مسلمانانو ته يوازې د عبادت او اخلاقو درس نه دی ورکړی، بلکې د قوت، نظم، تدبير، چمتووالي، دفاع، رهبرۍ او مسؤوليت درس يې هم ورکړی دی. قرآن کريم د «وأعدوا لهم ما استطعتم من قوة» په اصل سره امت ته دا وښوده چې بقا، عزت او امن د تياري، مهارت او قوت غوښتنه کوي. نبوي سيرت دغه اصل په عملي دولت، منظم پوځ، استخباراتي تدبير، صف بندۍ، لوجستيک، مشورې او د جګړې په اخلاقو کې مجسم کړ.

د خلفای راشدينو په دوره کې همدا نبوي بنسټ د دولت‌سازۍ، د پوځ د تنظيم، د ديوانونو د جوړولو او د اسلامي قلمرو د خوندي کېدو او پراختيا سبب شو. اموي او عباسي خلافتونو دا جوړښت لا پسې پراخ کړ، او د اندلس، ايوبي، مملوکي او عثماني پړاوونو تجربو وښودله چې پوځي قوت کله د سرحدونو ساتونکی، کله د علمي مرکزونو محافظ، کله د سوداګريزو لارو ضامن، او کله د امت د بقا د وروستي مورچل په توګه عمل کړی دی.

همدارنګه نظامي علوم په اسلامي تمدن کې يوازې د جګړې د هنر نوم نه و؛ بلکې د جغرافيې، فلکياتو، طب، رياضي، فلزکارۍ، انجينرۍ، ناوبرۍ، لوجستيک او اداري له ګڼو علومو سره يې ژوره اړيکه لرله. له همدې امله د پوځي اړتياوو له برکته د تمدن نورې علمي او تخنيکي څانګې هم پياوړې شوې. دا هر څه ښيي چې د اسلامي تمدن د غوړېدنې کيسه يوازې د مدرسې او کتابتون کيسه نه ده؛ دا د مسجد او مورچل، د قلم او تورې، د عالم او مجاهد، د قاضي او قوماندان، او د علم او قوت د ګډ کار کيسه هم ده.

په پای کې ويلی شو چې د اسلامي تمدن د زرينې دورې د سم فهم لپاره بايد د «علم» او «نظامي قوت» تر منځ مصنوعي بېلتون ختم کړو. اسلامي تمدن هغه وخت غوړېدلی چې عقيده يې ژوره وه، اخلاق يې ژوندي وو، علم يې فعال و، اقتصاد يې روان و، او دفاعي توان يې موجود و. کله چې له دې عناصرو څخه کوم يو کمزوری شوی، د تمدن ودې ته زيان رسېدلی دی. له همدې امله د اسلامي تمدن د تاريخ دا باب نن هم موږ ته دا درس راکوي چې عزت، علم، امنيت او خپلواکي د يو بل بديل نه دي؛ بلکې يو د بل شرطونه دي. هغه امت چې غواړي د خپل تمدن، هويت او ارزښتونو ساتنه وکړي، بايد د ايمان او علم تر څنګ د قوت، تياري، صنعت، تدبير او دفاعي شعور بنسټونه هم پياوړي کړي.

****

د مسلمانانو د تمدن او پرمختګ په زمانه کې به د اروپا ځوانانو اندلس ته سفرونه کول، له جرمني، بريتانيا، فرانسې او ايټاليا څخه به راتلل ترڅو د مسلمانو عالمانو څخه زده کړې وکړي، کله به چې اروپايي ځوانان بېرته خپل هېواد ته ستون شول نو په خپلو ملګرو کې به يې په دې خبره وياړ کاوه او همدا يې د فخر او وياړ نښه بلله، تر دې چې د ځان ښودنې لپاره به يې په خپلو خبرو کې د عربي الفاظ هم ورګډول. دغه کار د هغه وخت د اروپايي ديني مشرانو د غوسې سبب وګرځېده او په دې اړه يې تبليغات پيل کړل، ترڅو چې خلکو ته به يې ويل چې که د عربو تقليد وکړي نو جنت ورباندې حراميږي.

يوه المانۍ مستشرقه «سيګرېډ هونکا» ليکي: «زمونږ ځوانانو په اروپا کې د عربو جامو ته ورته جامې اغوستې، يو له بل سره به يې په عربي خبرې کولې او بيا به يې په دې هرڅه باندې وياړ او افتخار کولو، آن تر دې يو ديني راهب د ايټاليا په يوه ميدان کې خلکو ته وينا وکړه او له دې چارې يې شکايت وکړ، د عربو په کارونو دومره زيات افتخار کېده چې ځوان به خپلې نامزادې ته د ځان ښودلو او ځان ثابتولو لپاره ويل چې (احبک) يا زه مينه درسره لرم»

مقدمة ابن خلدون، الفصل الثالث و العشرون



رسم شوي سرحدونه

د غرب په لاس تر اسلامي امت را تاو د پاشلتیا او محاصرې جالونه!

ډاکتر محمد طنین

هغه وخت چې د اسلامي امت بنسټګر او د الله تعالی محبوب پیغمبر صلی الله علیه وسلم د نبوي مسجد په صحن کې د اسلامي نظام د بنسټ ډبره کېښوده؛ د هر مؤمن هویت یوازې لا إله إلا الله شو؛ همدا طیبة کلیمه د هر مسلمان تذکره او نشنلیتي شوه، پر همدې مبارکې کلیمې مزین توغ؛ عرب، عجم، سپین، تور، د لوړې او ټیټې طبقې وګړي په یوه غولي راټول کړل، عربي ژبی مؤمن عالم به د حبشي مسلمان تر شاه په یوه صف کې ولاړ وه، معیار تقوی وه، نه ژبه او رنګ؛ بلکې پوله عقیده وه، هېچا نه ویل: چې ته له موږ څخه نه یې؛ ځکه ټول د رسول الله صلی الله علیه وسلم تر بیرغ لاندې راټول وه؛ د امت جغرافیه په نقشو او پولو نه اندازه کېده؛ بلکې د اذان تر وروستي غږ پورې غځېدلې وه، کاروانونه به له اندلس تر خراسانه او تر هنده بې له وېرې تېرېدل، د یوې مسلمانې خور عزت به د ټول اسلامي خلافت مسئولیت ګڼل کېده، مؤمنان به د شپې ارام بیده کېدل ځکه پوهېدل چې د ستر فاروق رضي الله عنه په څېر یو څوک شته چې د فرات پر غاړه د یوه اوښ د لغزش پوښتنه هم له ځانه کوي؛ سکون ځکه موجود وه چې زړونه د ایمان په رڼا منور وو؛ انسان د مادیت غلام نه وو؛ مسجد یوازې د عبادت ځای نه، بلکې د امت د فکر، سیاست، تربیې، د جګړیزو فنونو د زده کړې معسکر، د تحکیم مرجع او د وحدت مرکز و. له اندلسه تر سمرقنده، له بخارا تر قاهرې، له یمنه تر قسطنطنیې پورې به که یو مسلمان تک تنها روان وو، ځان به یې پردی نه احساساوه ځکه امت یې کور او ځان یې ددې کور غړی بللو او ددې کور سرپرستي د عمر بن عبدالعزیز رحمه الله په څېر مشر ته ور له غاړې وه. خلیفه به ځان د رعیت خادم ګڼلو، نه مالک؛ عدالت تر دې حده حاکم وه چې د یهودي او مسلمان تر منځ به قاضي د حق په تله پرېکړه کوله، نه د دین او قوم په اساس. د خپلو مؤمنو ورونو د نصرت په تکل به له هر لوري خلک راخوځېدل، د شام له غرونو، د مصر له نیله، د موصل له کوڅو، د بغداد له مدرسو، د خراسان له دښتو به مسلمانان د یوې نعرې په اورېدو راپاڅېدل:

چا به زغره اغوسته، چا به آس تیاراوه، چا به توره تېزوله او چا به خپله مور وروستۍ ځل ښکلوله، ځوانان به د شهادت په شوق روان وو او سپین ږیرو به د دعا لاسونه پورته کول؛ هلته عرب، کرد، ترک، عجم، افغان، هندي او بربر سره اوږه پر اوږه ولاړ وه؛ ژبې بېلې وې، رنګونه جلا وه، خو مقصد یو وه؛ د اسلام تحکیم او د خپلو ورونو نصرت، هغه امت واحد قیادت درلود، له سمرقنده تر مراکش پورې به مسلمان په زړه کې د یو امت ساه اخیسته، د ژبو توپیر و، د رنګونو تفاوت و، خو قبله یوه وه، قرآن یو و او درد یو و، کله چې به د نړۍ په یوه څنډه کې د وامعتصماااا چیغې راپورته شوې، د بلې څنډې زړونه به تر هغه نارامه وه چې د عمورېې خښتې پر خښته جوړه ایښې وه. مګر موږ دا هرڅه هغه وخت له لاسه ورکړل چې د صهیو_صلیبي نړۍ دامونو ښکار شوو، د دنیا په مینه کې مو اخرت هېر کړ، له خپل هدف پر شا شوو او د تفرقې تخم راکې زرغون شو.

لکه نن د اسلامي امت پر یوې کوچنۍ جغرافیې ټول نړیوال کفر یرغل وروړی، د دوه میلیارده اسلامي امت د سترګو پر وړاندې یې نسل وژنه روانه ده، د مسلمانو ورونو او خویندو پر غوښو او هډونو مو خپلې اسلحې ازمایي، نښان ویشتونکې یې د مؤمنانو پر بچیانو نښې زده کوي، مګر پدې لویه اسلامي نړۍ چې د هېوادونو په نوم په ۵۷ سرخلاصو زندانونو کې محاصره کړای شوي دي؛ ددې توان نه موندل کیږي چې د خپلو ورونو نصرت وکړي، یو غړپ اوبه او یوه مړۍ ډوډۍ ور ورسوي. د

اسلامي امت د ذلت ستوری هغه وخت پر اسمان راښکاره شو چې لومړی یې ایل کړو او بیا یې بېل کړو.

زموږ دپاشلتیا کیسه داسې پیل شوه:

د 1914 م کال په وروستیو کې چې لومړۍ نړیواله جګړه هم د پیل په درشل کې وه، انګلستان یو داسې پلان ترتیب کړ چې عرب د عثماني اسلامي خلافت پر ضد عملي پاځون ته چمتو او راپاځوي؛

لومړۍ طرحه: داسې چمتو شوه چې عربستان د مصر له پولې د فارس تر خلیج له عثماني اسلامي خلافت جلا او پر یو داسې چا اداره کړي چې د صلیبیانو (انګریزانو) نژدې دوستان یا لاسپوځي وي.

دوهمه طرحه: په چل او دجل سره عربي غولیدلي او پیسه دوسته مشران باید د کفارو (انګریزانو) ملګري یا مطیع کړای شي.

دا چې شریف حسین په عربو کې منل شوی دیني شخص او په خلافت کې یې هم زیاته پېژندګلوي لرله ځکه ددې طرحې د عملي کولو لپاره غوره کړای شو.

دریمه طرحه: فلسطیني عربو ته له عثماني خلافت څخه د جګړې د ګټلو په صورت کې د ازادۍ وعده ورکړل شوه بله خوا صهیونیستي مشرانو ته د یهودي دولت جوړوني او ترې په لوړه کچه مایه.

لومړیو کې لارډ کیچنر Lord Kitchener او بیا هنري مک ماهون Henry Mc Mahon د شریف حسن شریف بن علي چې د مکې مکرمې اوسیدونکی وه او عثماني خلافت د حجاز والي او اداره کونکی ټاکلی وه؛ خلافت نوموړي ته د قدر په سترګه کتل او د اسلام، مکې او مدینې منورې په خاطر یې د لوړ منصب څښتن ګرزولی وه؛ همدارنګه عبدالعزیز بن سعود، عزیز علي مصري، امام یحیی او نورو د وخت عربي مشرانو سره پټ او په غیر مستقیم ډول په مکاتبه کې شول، وروسته یې مجالس او منظم تګ راتګ پیل کړ، صلیبیانو چې په رأس کې یې انګریزان او فرانسویان وه عربو ته په ښکاره ډاډ ورکړ؛ داسې که عرب د متحدینو چې انګلستان، فرانسه او روسیه وه په پلوۍ د عثماني اسلامي خلافت پر ضد ستر پاځون چې د جهاد لفظ به یې ورته کاراوه پیل کړي نو هغه لوی عربي دولت چې د شریف حسین له خوا وراندې شوی او د فلسطین په شمول حجاز، اردن، سوریه، لبنان، عراق او د ترکیې ځینې برخې هم په بر کې نیسي موږ متحدین (انګلستان، فرانسه او روسیه) به یې په رسمیت وپیژنو او په پرمختګ، سوکالۍ او هر رنګ مرستو در رسولو کې به خپلې هڅې ونه سپموو.

د صلیبي نړۍ هڅو او زیار رنګ راوور، عربي نشنلیستي فکر ته یې د خپلو روزل شویو ګوډاګیانو، مادیت، پیسو او غولونکو شعارنو پر مټ هوا ورکړه او په نتیجه کې عربو په 1916م کال کې د عثماني اسلامي خلافت پر وراندې لوی پاځون پیل کړ؛ انګلستان او فرانسې د لاندې طریقو په کارولو سره عرب د عثماني اسلامي خلافت پر ضد پاځون ته چمتو کړل:

۱. د مک ماهون او شریف حسین خطونه:

د عربو د راپارولو اصلي محرک د مصر لپاره د انګلستان عالي کمیشنر هنري مک ماهون او د مکې د والي شریف حسین بن علي ترمنځ پټې لیدنې او مکتوبونه وو.

۲. د مېډیا او پروپاګند کارول (د ملتپالنې او قوم پرستۍ روحیه):

متحدینو د عربو ترمنځ د عثماني اسلامي خلافت په وراندې کینه او د عربي هویت احساسات راژوندي کړل، دوی ته یې وویل چې عثماني ترکانو ستاسو حقونه تر پښو لاندې کړي او تاسو د هغوی له غلامۍ څخه د ځان ژغورلو حق لرئ؛ مکه معظمه ستاسو ده، مدینه منوره ستاسو ده، قرآن ستاسو په ژبه ده، پیغمبر له تاسو څخه ده نو ترکان څوک دي چې پر تاسو دې حکومت وکړي او لکه غلامان مو د خپلو موخو لپاره کاروي.

۳. د لارنس آف عریبیا (Lawrence of Arabia) رول:

انګلستان د توماس اډوارډ لارنس (.T. E Lawrence) په نوم یو تکړه استخباراتي افسر عربو ته واستاوه، لارنس په عربي کلتور او ژبه پوهېده، نوموړي د عربو په دودیزو جامو کې د هغوی منځ ته ورغی، باور یې ترلاسه کړ او د عثماني اسلامي پوځ پر ضد یې د چریکي او ګوریلایي جګړو تکتیکونه ور وښودل؛ هغه د عربو بېلابېل قبایل چې خپلمنځي اختلافات یې لرل د عثماني ترکانو پر ضد یو موټی کړل نوموړي هغه عرب عیسویان هم د مسلمانو عربو سره د عربي نشنلیزم په مفکوره د اسلامي عثماني خلافت پر ضد یو صف کې ودرول.

۴. مالي او پوځي ملاتړ:

انګلستان او فرانسې عرب پاڅون کونکو ته په پراخه کچه عصري وسلې، مهمات او پیسې ورکولې، د سرو زرو په مټ یې د هغو قبایلو ملاتړ هم وپیره چې په لومړیو کې یې له عثماني خلافت سره وفاداري لرله.

۵. په جګړه کې بریا او د عثماني پوځ پر شا تمبول:

عربي ځواکونو د لارنس په مشرۍ په ډېر مهارت سره د عثماني اسلامي خلافت د اکمالاتو تر ټولو مهمه لاره، یعنې د حجاز د اورګاډي پټلۍ والوزوله او د عثماني پوځ ارتباطات او روابط یې فلج او پرې کړل، عرب پاڅون کوونکي وتوانېدل چې مهم ستراتیژیک ښارونه لکه عقبه، دمشق او حلب له عثماني اسلامي خلافته څخه ونیسي او په دې توګه عثماني سلطنت په سیمه کې سختې ماتې وخوړې. مګر د پردې تر شا یو بله سِري لوبې هم جریان درلوده داسې چې د عثماني خلافت له نړېدو وروسته د خلافت عربي متصرفات چې فلسطین هم پکې شامل وه انګلستان او فرانسې تر خپل منځ په لیکلي بڼه له مخکې سره ویشلي وه.

متحدینو د عربي پاڅون کوونکو پر مټ په مفته او بغیر له خِسارې په عثماني اسلامي لښکرو بریالي شول او یو پر بل پسې یې تر خپل واک لاندې هېوادونه ورته پرېښودل؛

لکه کپټن لیدا هرټ لیکي: چې دا ټول د عربو مرسته وه چې چې د ترکي عثمانیانو د لښکر څلورمه برخه یې مکمله تصفیه کړه پداسې حال کې چې دا هغه تیار چمتو کړای شوی پوځ وه چې د برخلیک ټاکونکې جګړې لپاره چمتو وه مګر عربو یې په مفته کار یک سره کړ.

جنرال آلن بي خپل د جنګ وزارت ته لیکي: هغه وروستی بریاوې چې موږ تر لاسه کړې د عربي لښکرو ستره ونډه راسره مله وه او پدې لار کې یې له موږ سره نه هېریدونکې مرستې کړې دي.

پدې جګړه کې متحدینو له عربو څخه په استفادې وکړای شول چې ځانونه بریا ته ورسوي، په مقابل کې نه یې خپلواک او لوي عربي سلطنت ورته جوړ کړ، نه یې فلسطین ورته وسپاره او نه یې میاشتنیو پیسو لیږد دوام وموند. بلکې انګریزانو خپل وفادار او لاسپوڅی شریف حسین هم په کرار پرېنښود پر ضد یې وهابي ابن سعود راپورته او د سیاست له نړۍ یې حذف کړ؛ یوې لرې پرتې جزیرې ته وتښتېده او پاتې ژوند یې هلته د وجدان په عذاب کې تېر کړ.

د جګړې له پای ته رسېدو او د اسلامي عثماني خلافت له ماتې بعد هر بریالي هېواد ځانګړي استعماري اهداف لرل چې له مخکې یې طرحه کړي وه او پخپله بریا یقیني وه، چې له جملې څخه یې متحدینو غوښتل د عثماني خلافت پراخې سیمې چې له جملې یې فرانسې د سوریې او لبنان استعمار لپاره، انګلستان د عراق، ماوراء النهر او فلسطین استعمار لپاره سترګې پټې کړې وې تر څو له همدې لارې د هند د استعمار چارې هم ورته اسانه او پر خپلو حریفانو یې هم نظر وي د ځان لپاره خوښې کړې وې.

۱۹۱۵م کال د استعماري قوتونو د خپلو استعماري ارتیاوو د پوره کولو او تحقق په پار د انګلستان او فرانسې تر منځ په لندن کې خبرې اترې پیل شوې چې مارک سایکس د انګلستان او ژورژ پیکو د فرانسې د پلاوو مشري په غاړه لرله؛ وروسته د همدې کال د مارچ په اتلسمه د روسې او انګلستان او فرانسې او انګلستان تر منځ یو پټ تړون لاسلیک شو؛ لدې تړون وروسته په ۱۹۱٦م کال د مۍ پر ۱٦ مه انګلستان، فرانسې او روسې په پتروګراد کې یو بشپړ پټ تړون لاسلیک کړ چې وروسته د سایکس او پیکو د تړون په نامه ونومول شو، پدې تړون کې پدې پرېکړه وشوه چې د عثماني اسلامي خلافت له نړېدو وروسته به د عثماني خلافت خاورې د ترکیې د ځینو برخو په شمول به د پورته درې هېوادونو تر منځ چې له مخکې هر یوه ځانته هېوادونه او مستعمرې غوره کړې وې تقسیمېږي دا تړون دومره سرې او پټ طرحه کړای شوی وه چې د متحدینو له جملې ایټالیا هم پرې له سره خبره هم نه وه. دې درې استعماري هېوادونو د کاغذ پر مخ د اسلامي عثماني خلافت خاورې پدې ډول تر خپل منځ وویشلې؛

لومړی: سوریه د لبنان په شمول د فرانسې تر مستقیم استعمار لاندې راتلل، د عراق شمال د موصل په شمول د فرانسې تر غیر مسقیم استعمار لاندې د یوه عربي امیر چې ددوی لاسپوڅی به وي اداره کول.

دوهم: د عراق، بغداد، بصرې به شمول فلسطین د انګلستان تر مستقیم استعمار لاندې راتلل، او د فلسطین له جنوب د ایران تر سرحده په غیر مستقیم ډول د انګلستان تر استعمار لاندې راتلل او د یو خپل غلام عرب امیر په توسط کنټرولول.

دریم: له ارمنستان رانیولې، د کوردستان په شمول د ایران تر سرحده د روسیې د مستقیم استعمار لاندې راتلل.

د سایکس او پیکو ددې تړون له مخې اسلامي نړۍ ټوټه_ټوټه شوه او تر ننه له یوالي او یو موټي کېدو محرومه شوه، فلسطین له عربي او اسلامي نړۍ څخه جلا کړای شو او د یهودو په نوم سرطاني غده یې پکې غرس کړه. د سایکس او پیکو د محرم تړون ټولې مادې د جګړې له پایته رسېدو څخه وروسته هوبهو یو بل پسې عملي کړای شوې، دې تړون د عربي پاڅون هیلې له خاورو سره خاورې او ټولې هڅې یې په باد لاړې، دومره یې وکړل چې د اسلامي امت وحدت یې ونړاوه، د خپلو ورونو په مقابل کې د اسلام د دښمنانو نصرت وکړ او هغوی یې پر خپلو مسلمانو ورونو بریالي او له خلافت محروم کړل.

استعماري قوتونو د تېلو زېرمې، کاني منابع او ټولې سوق الجیشي سیمې له اسلامي عربي ولسونو څخه غصب کړې. لدې تړون وروسته یهودو ځانګړې خاوره له ځان لپاره ومونده، پکې میشته شول، اصلي اوسیدونکی یې په زور او جبر ترې وویستل، قوت یې حاصل کړ، او په ۱۹۱۷م کال نومبر په ۹ انګلستان په رسمي بڼه فلسطین د یهودو ټاټوبی اعلان کړ چې پدې سره د صهونیزم د پیړیو پیړیو خوب د تحقق جامه په تن او د بریا په لور رهي شول. سایکس او پیکو هغه شوم خنجر دی چې د اسلامي امت د یوالي هغه ستره قلعه او هغه لویه او مقدسه امپراتوري چې پېړۍ پېړۍ یې د وروروليٰ او وحدت فضاء حاکمه کړې وه خاورې ایرې کړه؛ سایکس او پیکو د اسلامي نړۍ هغه سپېڅلی او واحد وجود، چې د مدینې له نوره یې سرچینه اخیستې وه، د غربي ښامارانو په منګولو کې په ۵۷ ټوټو وویشله، هر یو ټوټه د غوښې داسې یو جلا شوی بند شو چې له خپلې بلې برخې سره یې هر رنګه ارتباط قطع شو داسې یوه جراحي چې نه یې د درد لپاره د ترحم درمل درلودل او نه یې د ټپونو د ګنډلو لپاره د انصاف تار.

دا دجالي کرښې یوازې پر خاوره ونه کښل شوې، بلکې د زړونو په منځ کې یې د فولادو داسې دیوالونه ودرول چې ورور یې د ورور له درد او نصرت څخه بې خبره او محروم کړ. ښکېلاکګرو یوازې په وېشلو بسنه ونه کړه؛ هغوی د دغو نویو جوړو شوو خپلو لاسپوڅو طاغوتي پاچاهیو او پولو پر سر داسې څوکیداران او مریيان کېنول چې ظاهري بڼه یې د ختیځ وه جامې او ژبه یې د مسلمانانو په تن وه، خو روح او اراده یې د غرب او صلیب په مېزونو کې بندیوان وو، د خپل ولس د ساتنې پر ځای د ښکېلاک د ګټو وفادار پاسبانان شول، بیا یې نو د تاریخ تر ټولو لویه او منظمه غلا پیل کړه، د دې امت د وجود له رګونو څخه یې د تورو سرو زرو (تېلو) او کاني توکو په بڼه د زمکې وینه وڅښله، د مسلمان په خپل کور کې د نعمتونو سیندونه بهېدل، خو اولادونه یې د یوې مړۍ ډوډۍ لپاره د پردیو درشلونو ته په تمه ناست وو، هغه شتمني چې باید د امت د لوړوالي، علم او ټکنالوژۍ لپاره لګېدلې وای، د غرب د تجملاتو او مالي امپراتوریو بقا یې تضمین کړه/ کوي یې.

****

یمني ګیدړ او امام شافعي رحمه الله

امام شافعي رحمه الله فرمایي:

«موږ د یمن په یوه سفر کې وو، موږ د ماښام ډوډۍ تیاره کړه په همدې وخت کې د ماښام د لمانځه وخت شو، زموږ خواره دوې چرګې وې موږ دا پرېښودې او په لمانځه ودرېدو، موږ په لمانځه ولاړ وو، یوه ګیدړه راغله او یوه چرګه یې وتښتوله، موږ چې لمونځ خلاص کړ نو په چرګه پسې ډېر خفه شوو ځکه همدا زموږ خوراک وو.

ناڅاپه مو ولیدل چې ګیدړ له لرې را روان دی په خوله کې یې چرګه وه او له موږ یې لږ لرې کېښوده او خپله هم ورسره ودرېده، موږ ټولو ورمنډه کړه، ګیدړه وتښتېده خو چې چرګه مو وکتله نو معلومه شوه چې چرګه نه وه بلکې ګیدړې واښه ټول کړي او د چرګې په شکل جوړ کړي وو، موږ ټولو په دې چل وخندل او بیرته د خپل ځای خواته راغلو، ګورو چې ګیدړې موږ مصروف کړي وو او دوهمه چرګه یې هم تښتولې وه. (ښايي) ګیدړې به پر موږ خندل ځکه چې موږ د زماني له سترو عالمانو څخه وو.

دا د یمن د ګیدړې مکر او هوښیاري ده، نو د یمن د خلکو هوښیاري به څومره وي!»

مأخذ: ارشاد الأریب الی معرفة الأدیب

صدقه

رسول الله صلی الله علیه وسلم معاذ رضي الله عنه ته وفرمایل:

صــدقــه، ګناهونه داسې له منځه وړي

لکه اوبـه چې اور له منځه وړي.

رواه الترمذي



په شام کې د جهاد راتلونکی ۳

استاد ابو اسامه عبدالعزیز حلاق

د بت شکن اداري یادونه

په شام کې د جهاد راتلونکی په نوم لیکنه د عالم او مجاهد ابو اسامه عبدالعزیز حلاق سره د النازعات اداري د یوې مصاحبې لیکل شوې بڼه ده، چې پکې یې ځینې واقعیتونو ته اشاره کړې ده، نه یوازې د شام بلکې د نورې نړۍ مسلمانانو ته هم پکې نصیحتونه او پندونه شته دي، په دې لیکنه کې هڅه شوې څو د شام او په ټوله کې د ټول امت اسلامي مشران وهڅوي چې د خپلو مسلمانو ورونو او مجاهدینو سره ریښتیني وه اوسي، د کفارو او نورو سیکولر هیوادونو له غیرې شخه لرې وه اوسي او پکې یې نورو ډیرو ګټورو خبرو ته هم اشاره کړې ده، د بت شکن اداري دا لیکنه په پښتو ژباړلې ده او له خپلو لوستونکو څخه هیله لري چې له افراط او تفریط، جذبې او احساساتو څخه لرې او تېرو تاریخي واقیعتونو ته په کتلو سره دا لیکنه په سړه سینه ولولي، مونږ له هیچا سره هیڅ ډول شخصي دوښمني نلرو، نو چې هر څه وي یوازینۍ هیله به مو دا وي چې د امت خیر پکې نغښتی وي او په واسطه یې وکولای شو د جهاد پاکه لاره همداسې پاکه وساتو او په دې لاره کې د بهېدونکو وینو سره له خیانت څخه خلک راوګرځوو.

النازعات اداره:

بسمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

الحمد لله رب العالمين، ولا عدوان إلا على الظالمين، والصلاة والسلام على رسولنا الأمين، وعلى آله وصحبه أجمعين، أما بعد.

محترمو لوستونکو! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن به ان شاء الله له محترم استاد ابو اسامه عبدالعزیز الحلاق صاحب سره په شام کې د جهاد د راتلونکي په اړه د خپلې پخوانۍ ناستې دوامداره مرکه وړاندې کړو. د دې مرکې په لومړۍ برخه کې زموږ خبرې په اوسنۍ زمانې کې د شامي جهاد پر حقیقت او په نږدې راتلونکي کې پر وړاندې ګواښونو راڅرخېدې او موږ د دمشق له آزادۍ وروسته په لومړۍ میاشت کې د نوې رهبرۍ او د هغې د سیاسي او ډیپلوماتیکو فعالیتونو په اړه پر اندېښنمنو اټکلونو او وېرو بحث کړی و.

نن د دې مرکې په دغه برخه کې به، ان شاء الله، پر دې خبرې وکړو چې په دې پړاو کې د اسلام د مجاهدینو پر غاړه کوم مسئولیتونه راځي او د دمشق له آزادۍ وروسته په افق کې راڅرګندېدونکي تر ټولو مهمې اغېزې او پایلې کومې دي. همدارنګه به دا هم وڅېړو چې په دغه وضعیت کې علماء او دعوت ګران باید د ورسپارل شوې امانت له مخې څه وکړي او د تل په څېر به دا خبرې موږ د شامي انقلاب تاریخ او د هغه په منځ کې د انقلابیانو اړوند ستونزو او قضیو ته هم راکاږي. موږ له خپل مېلمه، محترم استاد ابو اسامه عبدالعزیز الحلاق صاحب څخه هیله کوو چې خپلو درنو لوستونکو او آزادو مجاهدینو ته هغه لارښوونې او نصیحتونه وړاندې کړي چې دی یې د اوسني پړاو لپاره تر ټولو مناسب بولي.

نو له همدې امله، موږ خپلو درنو لوستونکو او محترم استاد ابو اسامه عبدالعزیز الحلاق صاحب ته ښه راغلاست وایو. زه له تاسې څخه غوښتنه کوم چې د سختو او بې پرې پوښتنو لپاره پراخه سینه ولرئ او د دغو پوښتنو پر صراحت او بې باکۍ تنګ نه شئ او ما ته اجازه راکړئ چې د شام د جهاد د راتلونکي په اړه خبرو ته دوام ورکړم.

نو مهرباني وکړئ موږ د شام د آزادۍ پر مهال د «ردع العدوان» له معرکې څخه د ترلاسه شوو مهمو ګټو په اړه خبر کړئ او هم دا روښانه کړئ چې د «طوفان الاقصی» او «ردع العدوان» له څپو څخه رازېږېدلې مهمې او سنګینې پایلې او اغېزې به څه وي؟

استاد عبدالعزیز الحلاق:

وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته. زما ګرانه وروره! الله تعالی دې برکت درکړي او هغو کارونو ته دې ستا لارښوونه وکړي چې د هغه خوښېږي. الله دې تاته د دې مېلمه پالنې او د نېک ګومان په بدل کې تر ټولو غوره اجر درکړي. زه له الله تعالی څخه دعاګو یم، چې ما او تاته په وینا او عمل کې د رښتینولۍ او امانتدارۍ توفیق راکړي او ما، تا او لوستونکي ټول د خپلو پرهېزګارو بندګانو په ډله کې شامل کړي. آمین، آمین.

تر کومه ځایه چې ستاسې د پوښتنې تړاو دی، نو زه داسې پوهېږم او حقیقي علم خو یوازې له الله تعالی سره دی، چې د «ردع

العدوان» له معرکې څخه ترلاسه شوې تر ټولو مهمې ګټې او مثبت اړخونه هغه وخت په سمه توګه درک کېدای شي، چې د شامي جهاد د رامنځته کېدو او بیا راڅرګندي کېدو اسباب وپېژندل شي. په دې توګه موږ کولای شو چې د هغه پرتله د معاصر جهاد له نورو خوځښتونو، لکه د عراق، افغانستان او سومالیا له جهادونو سره وکړو. د عراق او افغانستان جهاد د یوه ښکاره کافر دښمن پر ضد جهاد و؛ داسې دښمن چې کفر یې د ټول امت پر وړاندې څرګند او معلوم و. د دغه کافر دښمن پر ضد د امت د علماوو هڅونه، ترغیب او بلنه هم روښانه، پرېکنده او پیاوړې وه او د مسلمان امت د اکثریت په نزد دا د اسلامي او ولسي اجماع په څېر یو منل شوی دریځ ګڼل کېده.

خو تر کومه چې د شام د انقلابي جهاد خبره ده، نو دا زموږ د ولس له لوري د یوې استبدادي او کافرې واکمنۍ پر ضد جهاد و. دغه حکومت که څه هم د اسلامي حکومت دعوه او بڼه لرله، خو په شرعي لحاظ له دین څخه مرتد حکومت و او نن سبا پر اسلامي هیوادونو باندې په مسلطو اکثریت حکومتونو کې دا خصوصیت موندل کېږي، چې دا حکومتونه له دین څخه مرتد شوي دي. له همدې امله، د دې مرتد دښمن پر ضد د امت د علماوو هڅونه او ترغیب د عراق او افغانستان د جهادونو په پرتله نه یوازې ډېر کمزوری و، بلکې ځینو کسانو دا د الله په لار کې جهاد نه، بلکې فتنه او کورنۍ جګړه بللې ده. په داسې حال کې چې د امت ډېرو علماوو، مشائخو او د دین داعیانو دا شرعي قتال او د الله په لار کې جهاد ګڼلی او همدا په شرعي او فقهي لحاظ تر ټولو سمه فیصله ده.

همدا وجه ده چې شامي جهاد زموږ د اسلامي هېوادونو ډېری ظالم او جابر واکمنان سخت اندېښمن کړي دي، بالکل داسې لکه څنګه چې د عرب پسرلي خوځښتونو هم اندېښمن کړي وو. له همدې امله، د اسلام د مخالفینو ډېری ډلې د شامي جهاد بریا د ټول نړیوال نظام لپاره یو بنسټیز او وجودي ګواښ ګڼي. حقیقت دادی، چې د دې جهاد شرعي حیثیت او مشروعیت خپله د دمشق له آزادۍ څخه هم ډېر خطرناک ګڼل کېږي؛ ځکه د دې جهاد بریا به د «جهاد فی سبیل الله» تر شعار لاندې او د «مجاهدینو» په نوم ترلاسه کېږي، هغه کسان چې د سیمه‌ییزو طاغوتي حکومتونو پر ضد بغاوت کوي او دا جهادي کامیابي به د هغو فکري بنسټونو او مادي تخمونو له لارې رامنځته شي چې د القاعدې کاروان د سیمې زړه ته راوړي وو.

نن چې ته د سیمې یو ظالم او جابر واکمن وینې چې د شامي انقلاب او د دمشق له آزادۍ وروسته د شام د نوې ادارې د مشرانو ستاینه کوي، نو پوه شه چې دغه جابر واکمن که یې درک کوي او که نه په حقیقت کې د سیمه‌ییزو طاغوتي واکمنانو پر ضد د دې ډول انقلابي فکر او د «جهاد فی سبیل الله» د مفکورې شرعي مشروعیت مني، یا لږ تر لږه د هماغه جهادي واقعیت تر فشار لاندې سر ټیټوي او هغه مني هغه واقعیت چې د چا له اجازې پرته یې ځان د سیمې پر طول او عرض تحمیل کړی و. په دې ځانګړې او ستر جهاد کې دا مسئله خورا مهمه ده چې د داسې جهاد په اړه به د «ترهګرۍ» ټاپه لرې کولو په برخه کې د مسلمانو هېوادونو پر سر د واکمنو سیمه‌ییزو طاغوتي حکومتونو دریځ او موقف وازمایل شي او همدارنګه به دا هم وارزول شي چې نړیوال حقوقي نظام تر کومه حده د بدلون وړتیا لري. ځکه دا د نړیوالې ټولنې په هغه چلند کې یو لوی بدلون دی چې د هغې پدیدې پر وړاندې یې غوره کوي کومه چې دی یې «د مرتدو او جابرو طاغوتونو پر ضد جګړه او د معاصرو صلیبي اجنټانو پر ضد وسله‌واله مبارزه» بولي. نو دا ښکاره انقلاب او پاڅون به د علماوو، حکومتونو او نړیوال نظام له لوري د انقلابونو د منلو بهیر ته یو نوی اړخ ورکړي او همدارنګه به زموږ په اسلامي نړۍ کې د نورو ظالمو او جابرو حکومتونو د لېرې کېدو او د هغوی د واکمنیو د نسکورېدو په لړۍ کې هم یو نوی جهت او ځواک ور زیات کړي.

زما ګرانه وروره! ما هېڅکله دا تمه نه لرله چې د «طوفان الاقصی» او «ردع العدوان» د څپو له امله راپیدا شوې سترې او خطرناکې پایلې به ټوله سیمه تر خپل اغېز لاندې راولي او دا چې د «طوفان الاقصی» او د هغه په پایله کې د رامنځته شوې «ردع العدوان والطغیان» معرکې څپې به د سیمې نور ټول جابر حکومتونه او استبدادي نظامونه هم تر خپل اغېز لاندې راولي او له منځه به یې یوسي. نو هر څه خپل ټاکلی وخت لري، خیر او ښېګڼه حتمي راتلونکې ده او سهار نږدې دی، نو د انتظار کوونکي خلک څېرته دي؟

النازعات اداره:

محترم استاده! د شام مجاهد ځوانان د ډېرو انتقادي او بنسټيزو پوښتنو په اړه فکر کوي. د شامي جهاد په ډګر کې له دغو پوښتنو څخه تر ټولو ستره پوښتنه دا ده چې په دې پړاو کې زموږ مسؤلیت څه دی او پر موږ اوس څه واجب دي؟ نو تاسې څه فکر کوئ چې په دې پړاو کې د علم خاوندانو، د دعوت د څښتنانو او د الله په لار کې د جهاد د پلویانو مسؤلیت څه دی او پر هغوی څه واجب دي؟ همدارنګه، ستاسې په اند که د القاعدې پخواني مشائخ نن زموږ تر څنګ وای او په دمشق کې يې د مجاهدينو بريا او د ښار آزادي ليدلې وای، نو هغوی به څه ډول سپارښتنې او لارښوونې کړې وای؟

استاد عبدالعزيز الحلاق:

زه يقين لرم چې د دې پړاو فرائض او واجبات ډېر ستر او ډېر زيات دي او د هغو د ترسره کولو لپاره قوي او منظمې هڅې، لوړې حوصلې او ربښتيني عزم ته اړتيا ده. له دغو واجباتو څخه تر ټولو مهم دا دي:

۱. د الله د توحيد لوري ته بلنه ورکول، د الله بندګان هغه ته نږدې کول، د هغوی په زړونو کې د الله د کلام، قرآن کريم او د هغه د رسول ﷺ د سنتو مينه ځای پر ځای کول، د کلمه توحيد يعنې «لا إله إلا الله محمد رسول الله» د معنی د روښانه کولو اهتمام کول، د اسلامي عقايدو او نظرياتو وضاحت کول او خلک له هر ډول شرک او د هغه له بېلابېلو داخلي لارو څخه خبردارول. په ځانګړي ډول د عبادت او حاکميت په شرک باندې تنبيه کول او دا بيانول چې په خپل ځان، خپلو ټولنو او د حکومتونو په نظامونو کې د اسلامي شريعت نافذول د توحيد فی الحاکمية د اړتيا د بشپړېدو لپاره ضروري دي. او دا ټول بايد په ډېر نرم او له محبت څخه په ډک انداز وړاندې شي، تر څو خلک له دين او د خير له کارونو څخه کرکه ونه کړي او په دې مسئله کې بايد د شريعت په چوکاټ کې د عامه افکارو او د خلکو د ذوق رعايت هم وشي.

۲. د داسې ټولنې د جوړولو لپاره کار کول چې پر قرآني عقيده ولاړه وي او د جهادي ژوند د سختيو او ستونزو د زغملو توان ولري، داسې ټولنه چې د غزې د ټولنې په شان وي. که موږ وکولای شو چې په شام کې د خپلو خلکو اکثريت د غزې د خلکو د مشهور او منل شوي فکر تر کچې ورسوو، نو زما په اند دا به د شام د اسلامي پلان لپاره يوه ډېره ستره او ځلانده بريا وي.

۳. د شام د خلکو په عمومي ډول او د شام د نوي پوځ په ځانګړي ډول روحاني او پوځي روزنې ته پاملرنه کول، ځکه دا د دعوت، چمتووالي، تعليم او له دې سره سره د پوځي، ايماني او جهادي جوړونې مرحله ده. دا د عامو او خاصو خلکو په زړونو کې د توحيد د تصور د ټينګولو، هغوی ته د زهد او قناعت، زړورتيا، سرښندنې، قربانۍ او انغماسي او استشهادي روزنې ورکولو مرحله ده، تر دې چې شامي ټولنه د شام د اسلامي نظام د دفاع کولو، د مجاهدينو د کفالت، ساتنې او مرستې کولو، د هغوی د کورنيو، کونډو او يتيمانو د چارو د سمبالولو، او په خپله خاوره کې د راتلونکو سترو جګړو د سختيو، مصيبتونو او لګښتونو د زغملو وړ وګرځي او دلته د نوې شامي اداري لپاره ضروري ده چې د خلکو مجهز کولو او دې ته چې وسلې يوازې د دولت تر واک پورې محدودې نه وي، پاملرنه وکړي. همدارنګه بايد خپل خلک، په عمومي ډول د سيمې خلک او په ځانګړي ډول د شام خلک، د صهيوني ـ صليبي خطر او د هغه د موخو په اړه خبر کړي او د سيمې خلک د هغو سترو جګړو لپاره چمتو کړي چې حتما به د لوی شام (يعنې سوريې، اردن، فلسطين او لبنان) په خاوره کې رامنځته کېږي.

۴. بايد دولت په کرنه او اقتصاد کې پياوړی کړل شي، څو خپلواک او باعزته راتلونکی ولري، پر خپلو اصولو ولاړ پاتې شي او د نړيوال نظام د مکارو لوبغاړو پر لور د مرستې لاس ونه غځوي.

۵. بايد د راتلونکي لپاره داسې کار پلان شي چې له دې ظالمانه او ناعادلانه نړيوال نظام څخه غچ واخيستل شي او دغه نظام او ملګري ملتونه په اوږدمهاله ډول ورو ورو کمزوري کړل شي؛ هغه نړيوال نظام چې د شامي ولس د دردونو او کړاوونو پر وړاندې يې رضايت څرګند کړی دی. بايد هڅه وشي چې لوی شام په ځانګړي ډول او اسلامي امت په عمومي ډول له ټولو بهرنيو غاصبانو او سيمه‌ييزو جابرو واکمنانو څخه آزاد شي او ورسره د جهاد په نورو ډګرونو کې له جنګېدونکو مجاهدينو سره مرسته وشي، په ځانګړي ډول له هغو کسانو سره چې د هماغو دښمنانو پر وړاندې ولاړ دي کوم چې د شامي انقلاب دښمنان وو، څو دغه دښمنان ونه شي کولای خپل صفونه بېرته منظم کړي او د شام ډګر ته بيا راستانه شي.



د القاعدې د پخوانیو مشائخو د سپارښتنو په اړه، که فرض کړو چې هغوی زموږ سره په دمشق کې د مجاهدینو فتحه او د ښار ازادي لیدلې وای، نو زه باور لرم چې د عربي پسرلي د انقلابونو په پیل کې د هغوی خبرې او نصیحتونه لا هم د تطبیق وړ دي. خو زما په اند که هغوی نن زموږ ترمنځ موجود وای، نو پر لاندې دریو مهمو نصیحتونو به یې ډېر ټینګار کړی وای:

لومړی نصیحت:

زه په دې کې هیڅ شک نه لرم چې د مجاهدو ځوانانو لپاره به د القاعدې د پخوانیو شیخانو بلنه دا وه چې د شام له نوې رهبرۍ سره په تعامل کې صبر، زغم، تدبر او نرمي خپله کړي. نه یوازې دا، بلکې هغوی به یې دې ته رابلل چې د رهبرۍ خبرې واوري، اطاعت یې وکړي، د خیر او نېکۍ نصیحت ورته وکړي او د خیر، راستۍ او تقوا په چارو کې ورسره همکاري وکړي. همدارنګه به یې هغوی د حکمت او بصیرت په وسیله حق ته د بلنې، د نېکۍ د امر او له بدۍ د منع کولو لوري ته رابلل. ځکه په دغو ورځو کې د شام نوې رهبري تر هر وخت زیاته اړتیا لري چې د الله یاد وروپه زړه کړل شي، د الله نعمتونه ورته یاد کړل شي او د الله د سنتو لوري ته متوجه کړل شي. هغوی ته اړتیا ده چې د تېر وخت له تجربو څخه اخیستل شوي درسونه او ترې ترلاسه شوې له حکمت ډکې خبرې په نرمۍ سره ور ورسول شي. پر علماوو، داعیانو او د علم پر زده کوونکو لازمه ده چې دغه مهمه دنده ترسره کړي.

او د ځوانانو لپاره دا هم ضروري ده چې پوه شي د دمشق ازادي او د شامي انقلاب بریا پر خپلو ځینو دښمنانو باندې، د علم، فقهې او پوهې د خاوندانو په نظر، د اسلام او مسلمانانو لپاره په اوس او راتلونکي کې یوه ډېره ستره نېکي ده. همدا هغه حالت دی چې نن موږ د شام په خاوره کې پکې ژوند کوو، که څه هم دا هغه بشپړ حالت نه دی چې موږ یې هیله لرله او زموږ په ذهنونو کې یې انځور موجود و. خو بیا هم د شر او بدۍ یوه اندازه له منځه تللې ده او دا داسې څه دي چې مؤمن ته یو څه راحت او خوښي ورکوي. سره له دې، زموږ هیله دا ده چې دا ګام به ان شاء الله د راتلونکې خیر زېرى او د یوې سترې دروازې د پرانیستل کېدو وسیله وي.

او هغوی ته دا هم ضروري ده چې پوه شي دا فتوحات د هغو مجاهدینو د وینو ثمره ده چې د دفاع، جهاد او د ظلم پر وړاندې د مقاومت روحیه یې راژوندۍ کړه او د دغو انقلابونو په رامنځته کولو کې یې برخه واخیسته. نو څوک چې په شام کې د فاتحانو ریښې نه ویني، د جهاد تخم ته نه ګوري او د دې فتحې هغه مېوه نه ویني چې د مجاهدینو په وینو تر لاسه شوې ده، هغه له خپل ځان پرته له هر څه ړوند او له لارې بې لارې شوی دی او ځوانان باید د سترګو د رپ په اندازه هم شک ونه لري چې ان شاء الله له دغو بدلونونو او فتوحاتو څخه تر ټولو زیات ګټه اخیستونکی به اسلامي امت وي او بیا مخلص مجاهدین او د دین داعیان دي چې د دغو فتوحاتو له برکته برخمن کېږي او تر ټولو وړاندې د دې عمومي خیر په ګټه کې داخلېږي.

شیخ عطیة الله رحمه الله فرمایي:

«موږ پر ځوانانو ټینګار کوو چې د چارو ښه درک ولري، له تنګ نظرۍ، تشنج او جنجال څخه ځان وساتي او د بېلابېلو اسلامي خوځښتونو له غړو سره لکه په تونس کې له «النهضة» غورځنګ یا نورو ورونو سره په شخړو کې ونه لوېږي، بلکې د رغوونکو او مثبتو کارونو لپاره چمتووالی پیل کړي. په خپله بلنه کې دې نرمي، مهرباني او ښه اخلاق خپل کړي، د خلکو لپاره دې پراخ زړی ولري او د هغوی د فهم او درک توپیرونه دې په پام کې ونیسي او دا دې په یاد ولري چې زموږ امت له سختو او پېچلو پړاوونو څخه تېرېږي او اوس یې لا د هغه زوال له حالت څخه د راوتلو هڅه پیل کړې ده چې له لسیزو بلکې پېړیو راهیسې پکې راګیر و!

ځوانان باید د اړتیا وړ شعوري کچې ته ورسېږي او دا ټول صفات د دین لپاره له مبارزې، د دین لپاره له غیرت او حمیت، د حق له بیانولو او د منهج له روښانولو سره هېڅ ټکر نه لري.»

بلکې هغوی په دې کې هغه ځانګړنې هم شاملې کړې دي چې موږ یې پورته یادونه کړې ده:

«نرمي، مهرباني، بشپړ ادب او اخلاق، او له ټولو مسلمانانو بلکې له ټولو انسانانو سره په چلند کې د خواخوږۍ، رحمت او احسان صفتونه غالب ساتل. دا خپل اصل وګرځوئ: زه کولی شم نېکي او خیر وکړم، حقه خبره وکړم او ربښتیا ووایم، خو په بشپړ ادب او ښې طریقې سره. او زه کولی شم له فتنې او ګډوډۍ جوړوونکو مسئلو څخه ځان وساتم او پوه شئ الله دې تاسې ته برکت درکړي چې حق درجې لري. ځینې درجې یې داسې دي چې په هېڅ حالت کې یې په قول او عمل کې پرېښودل روا نه دي او ځینې نورې درجې داسې دي چې د مخالفت یا خنډ په صورت کې پرېښودل کېدای شي (چې دې ته عذر ویل کېږي). نو دا خبره ښه درک کړئ او خپل زړونه د ګټورو علومو د پوهېدو او د شعور او فهم د کچې د لوړولو لپاره پرانیستي وساتئ[1].»

دوهم نصیحت:

د القاعدې تنظیم به ځوانانو ته بلنه ورکوله چې له دې تاریخي فرصت څخه ګټه واخلي، د الله د دین تبلیغ وکړي، د توحید او جهاد دعوت خپور کړي، د هېواد د آبادۍ او پرمختګ او د خلکو د خدمت لپاره په دولتي ادارو کې شامل شي او خپلې اداري، سیاسي، رسنیزې، پوځي او اقتصادي وړتیاوې او مهارتونه داسې وروزي چې د هغه جهاد مهم ملاتړي وګرځي چې یوه ورځ به ان شاء الله بیت المقدس فتحه کړي او د دې خاورې د ناپاکو صهیونیستانو له

[1] عطیة الله، ثورة الشعوب وسقوط النظام العربي الفاسد: کسر صنم الاستقرار والانطلاقة الجدیدة، ضمن الأعمال الکاملة (۲/۸۳۸)

شتون څخه د پاکولو لړۍ به پیل کړي. همدارنګه دې خپل ټول هغه وروڼه خوندي کړي چې د هر اړخيز چمتووالي په ډګر کې کار کوي. د دولت په بنسټونو کې د حق د منهج او سمو عقائدو د خاوندانو شتون، په ټوله سیمه کې د اسلام د ملاتړ لپاره د کار کوونکو ځوانانو د ساتنې او خوندي کولو لپاره ډېر مهم ارزښت لري.

شیخ عطیة الله رحمه الله فرمايي:

«نن ورځ د اسلامي امت مصلحين، مجاهدين او داعيان بايد له دې تاريخي فرصت څخه ګټه واخلي او د دې انقلاب له بریا وروسته د ترلاسه شويو آزاديو او فرصتونو په رڼا کې او وروسته له دې چې ډېر خنډونه له منځه تللي او ګڼ محدوديتونه مات شوي دي، نه سترې کېدونکي دعوتي، تعليمي، تربيوي، اصلاحي او احيايي فعاليتونه پيل کړي.[2]»

دریيم نصیحت:

هغوی به پر مجاهدو ځوانانو ټينګار کاوه چې د اوسني پړاو سمه پوهه ترلاسه کړي، اوسني حالات په ژوره او دقيقه توګه درک کړي، د دې مرحلې فرضونه، واجبات او مستحبات وپېژني او په دې اړه اړينه عمومي تفقه حاصله کړي. ځکه نن چې په شام کې څه ترلاسه شوي دي، هغه جزوي فتحه او ازادي ده، بشپړه نه ده او کوم اهداف او مقاصد چې تر لاسه شوي، هغه یوازې ځينې ضروري اهداف دي، نه ټول او نه هم زياتره. له همدې امله د انقلاب سفر لا هم اوږد دی، انقلاب لا پای ته نه دی رسېدلی، بلکې جهاد خو اوس پیل شوی دی. که د سوريې نوې اداره د نړيوالې ټولنې او لوېديځ تسلط په وړاندې له کمزورۍ او د منهج له ضعف سره مخ وي، نو علماء، داعيان، ټول مجاهدين او تر شا یې شامي ولس باید د دې ناوړه کمزورۍ او سستۍ ښکار نه شي. بلکې بايد د حق په بيانولو کې ټينګ او د صحيح منهج په روښانه کولو کې څرګند وي. الله دې پر شيخ عطية الله رحمه الله رحم وکړي، هغه فرمایلي دي:

«القاعده د هر ډول بدلون غوښتونکې نه ده، مګر هغه بدلون چې جزئي، مرحله وار او د حکمت او ستراتيژۍ پر بنسټ وي. او القاعده پوهېږي چې دا بدلون به هم جزئي او مرحله وار وي، ځکه هغه بشپړ بدلون چې مطلوب دی، سمدستي ممکن نه دی. القاعده یو حقیقي، بنسټيز او انقلابي بدلون غواړي، داسې بدلون چې پايله يې داسې حالت وي چې د الله کلمه تر ټولو لوړه وي او د الله شريعت یوازینی حاکم او غالب وي. په همدې حالت کې به اسلامي امت خپله ازادي، عزت او وقار یوازې د الله د حاکمیت تر سیوري لاندې ترلاسه کړي. د دې معنی دا ده چې دين په بشپړه توګه یوازې د الله لپاره وي او حاکمیت هم یوازې د الله وي او همدا د اسلامي سلطنت هغه مفهوم دی چې د القاعدې او ټولو مجاهدینو مطلوب دی. نو د تونس او مصر د انقلابونو حالت همداسې و، که نيت او اراده يې سمه هم وه، هغوی هغه څه ترلاسه نه کړل چې غوښتل یې او نه یې هغه څه ترلاسه کړل چې القاعدې غوښتل، خو دا ویلای شو، چې القاعدې ان شاء الله د هغو اهدافو د ترلاسه کولو په لاره کې مرسته کړې ده، کوم چې یې غوښتل، د لارې په بنسټ ايښودلو کې او په سهولت فراهم کولو کې يې برخه اخيستې ده. همدارنګه القاعدې د دې انقلابونو د بنیاد ايښودلو او زمینې ورته برابرولو کې مرسته کړې، د امت د خلکو له زړونو څخه يې د وېرې خنډ مات کړی، د مقاومت روحيه يې پکې پوکلې او د ظلم او ظالمانو پر ضد يې د انکار او عزت احساس ژوندی ساتلی دی. د دې تر څنګ نور ډېر عوامل او اسباب هم شته چې که خبرې ورباندې وشي، ډېر څه ویل کېدای شي. بیا یو ډېر مهم عامل هم شته، هغه دا چې: امریکا یې تر یوه حده بې اغېزې کړه او د مستقيم نفوذ او استعماري واکمنۍ له دايرې یې وايسته.

الله تعالی د مجاهدينو د دې ډلې په برکت امت ته ډېر څه ورکړي دي. الله دې هغوی ته غوره بدله ورکړي او مرسته دې یې وکړي. دا د هغوی لپاره یوه غوره ازموینه وه چې په عراق، افغانستان او د نړۍ په نورو سیمو کې یې امریکا او د هغې متحدين دي

[2] (عطية الله، ثورة الشعوب وسقوط النظام العربي الفاسد: كسر صنم الاستقرار والانطلاقة الجديدة، ضمن الأعمال الكاملة، ٨٣٨/٢).

ته اړ کړل چې سر ټيټ کړي او پر هغوی يې دومره ويره، ذلت او فشار واچاوه چې په نورو دردناکو ستونزو، جګړو، شخړو او اضافي لګښتونو کې راګير شول، که داسې نه وای، نو امريکا به د عربي پسرلي انقلابونه له لومړۍ ورځې يوازې نه پرېښودل، بلکې حتمي به يې په تونس يا مصر کې پوځي مداخله کړې وای.

کله چې د امريکا تکبر، غرور او استعماري هيلې اوج ته رسېدلې وې، هماغه مهال مجاهدينو، د الله په فضل، لومړی ځل هغې ته د ذلت او ماتې خوند ور وڅکی، تر دې چې د حال په ژبه داسې ښکاره کېده لکه وايي: «سترګې يې ويني خو لاس لنډ دی»، يعنې سره له دې چې اراده او درک شته، خو د هدف د ترلاسه کولو توان له لاسه وتلی دی، لکه يو وخت چې د اسلامي امت حالت و. نو ټول حمد يوازې الله لره دی. د انصاف خاوندانو او د حق منونکو په نزد دا د مجاهدينو يوه ستره لاسته راوړنه او لويه بريا ده.

زه بېرته وايم چې موږ د دې انقلابونو ملاتړ ځکه کوو چې په هغوی کې د خير يو اړخ شته، لکه څنګه چې ما مخکې په څو جملو کې يادونه وکړه او ځکه چې دا يو داسې پړاو دی چې هيله لرو له هغه وروسته به ډېر خير خپور شي. له همدې امله القاعده د هغو کسانو له ډلې څخه ده چې د الله په فضل او کرم سره له دې انقلابونو څخه تر ټولو زياته خوشحاله او تر ټولو زياته ګټه اخيستونکې ده. نو دښمنان دې په خپله غصه کې مړه شي.

له همدې امله ما د دې انقلاب له لومړيو شېبو راهيسې ملاتړ کړی او ورسره روان شوی يم. او د امت په خوښۍ کې مې ګډون کړی، سره له دې چې په دې بهير کې شته ابهام او ګډوډي راته معلومه ده، موږ ورڅخه ناخبره نه يو، خو له صحنې لرې يو، ځکه القاعده د امت خير غواړي او تر وسه پورې غواړي کوچنی او لوی زيان ترې لرې کړي. د همدې موخې لپاره القاعده رامنځته شوې ده. هره هغه نېکي چې امت ته ورسېږي، القاعده ورسره ولاړه ده، پرې خوشحاله کېږي او مخالفت يې نه کوي. القاعده دا نه غواړي چې خير دې يوازې د همدې په لاس ترسره شي او يوازې همدا دې د نېکۍ مستحق وګڼل شي. بلکې د القاعدې موخه د خير، نېکۍ او سمون تحقق دی او د حق، عدل، رحمت او احسان غلبه ده او دا په خپل بشپړ شکل يوازې د الله تعالی د شريعت تر حاکميت لاندې رامنځته کېدای شي او يوازې د يوه حقيقي اسلامي سلطنت تر سيوري لاندې شونې ده، هغه سلطنت چې موږ يې په خپلو ټولو هېوادونو کې د قيام هيله لرو، که څه هم پر کافرانو بد لګي! او ځکه چې په يوه ټاکلي پړاو کې د مطلوب خير بشپړ ترلاسه کول ناشوني وي، نو موږ هڅه کوو چې تر خپله وسه پورې يې لږ تر لږه يوه برخه ترلاسه کړو.[3]»

ماته ددې نصيحتونو اندازه له دې ځايه کېږي، چې دا ډول نصيحتونه به د القاعدې پخوانيو مشرانو خپلو مجاهدو زامنو ته په داسې شرايطو کې کول او زه دلته له خپلو ځوانو ورونو غوښتنه کوم چې د عربي پسرلي د انقلابونو په پيل کې د شيخ اسامه بن لادن رحمه الله وروستي بيان ته مراجعه وکړي، همدارنګه د دغو انقلابونو په اړه د شيخ عطية الله الليبي رحمه الله او شيخ ابو يحيى الليبي رحمه الله مرکې ولولي. همدارنګه د شيخ ابراهيم الربيش رحمه الله يوه ځانګړې وينا هم شته چې عنوان يې «الثورات وموسم الحصاد» (انقلابونه او د فصل د رېبلو موسم) دی او د شيخ البليدي رحمه الله بيانات هم کم اهميت نه لري. دا ټول بيانات او ويناوې ډېر مهم نصيحتونه او لارښوونکي اصول لري. والله تعالی أعلم.

النازعات اداره:

زما محترم استاده! هغه کسان چې د شام د جهاد پېښې او د انقلاب د ديارلسو کلونو لوړې ژورې ګوري، داسې احساس کوي چې دا بهير ډېر پېچلی او له بدلونونو ډک و، په ځانګړې ډول د القاعدې له تنظيم څخه د «فک الارتباط» (اړيکې پرې کولو) له مرحلې وروسته. ستاسو په نظر، ايا د دمشق له آزادۍ وروسته به هم موږ نوي چټک بدلونونه او تاو راتاوونه ووينو؟ او په نړدې راتلونکې کې په شام کې د جهاد راتلونکی څه ډول ښکاري؟

استاد عبدالعزيز الحلاق:

---

[3] عطية الله الثورات العربية وموسم الحصاد، ضمن الأعمال الكاملة».(٢/٨٤١-٨٤٣)

زما ګرانه وروره! راځئ چې له بصيرت څخه کار واخلو او د حق لپاره بې پرې پاتې شو، څو په شام کې د خپل ولس د بريا په اړه زموږ مينه او خوښي، د حق په چوکاټ کې د شام د نوې ادارې ملاتړ، د دين او منهج لپاره زموږ غيرت او د حق د ښکاره کولو او د صحيح منهج د روښانه بيانولو هڅې، له يو بل سره په ټکر کې واقع نه شي. دلته غواړم په بشپړ صراحت سره درته ووايم چې زموږ په معاصره نړۍ کې، د ټولو ډلو، تشکيلاتو او ائتلافونو ترمنځ، له «پخوانۍ جبهې سره د اړيکو پرې کول» داسې څه نه وي، مګر دا چې ورسره له «نوې جبهې سره د اړيکو د ټرلو ټرون» هم موجود وي. له همدې امله، کله چې يو هوښيار انسان د نړيوالتوب (ګلوبلايزېشن) له دورې وروسته د نړۍ په شرايطو کې د کوم لوري په اړه له «پخوانۍ جبهې سره د اړيکو پرې کولو» خبر واوري، نو سمدستي به له «نوې جبهې سره د اړيکو د ټرون» په لټه کې شي او دا به وڅېړي چې دغه ټرون له کوم لوري سره شوی دی.

زه پوهېږم چې د نوې پېژندنې او هغه پلان په اړه، چې د شام د نوې ادارې مشرتابه ورسره خپل ټراو ټينګ کړی، تر دې وړاندې ډېر څه ويل شوي دي او نن دا موضوع ډېرو خلکو ته معلومه ده. خو تر ټولو خطرناکه خبره دا ده چې له دې ټراو سره د چټک استحکام او د هغه له پروژې او سيمه‌ييزو وسايلو سره په ستراتيژيک ائتلاف د بدلېدو سرعت حيرانوونکی دی.

له همدې امله زه باور لرم چې په شام کې د جهاد راتلونکی له ډېر پخوا راهيسې خورا سختو او پېچلو پړاوونو ته داخل شوی دی. همدارنګه زما په اند د شام د جهاد د راتلونکي طرحه او پلان په ۲۰۰٦م کال کې جوړ شوی و، يعنې د شامي جهاد او شامي انقلاب له پيل څخه ډېر مخکې. که څه هم صهيوني ـ صليبي لوېديځ د «اعتدال پال ديموکرات اسلام» خپل تصور جوړ کړی و، داسې اسلام چې دوی يې منلی او ورسره جوړجاړی کولی شي، خو په دې کې هېڅ شک نشته چې هغوی د همدې چوکاټ په دننه کې د «اعتدال پال ديموکرات جهاد» خپل تصور هم وړاندې کړی و، داسې جهاد چې دوی يې منلی او ورسره جوړجاړی کولی شي. د رينډ کارپوريشن له خوا په ۲۰۰٦م کال کې د انجل رباسا (Angel Rabasa) تر څارنې لاندې يوه ستره څېړنه خپره شوه چې عنوان يې و: «له القاعدې وروسته» (Beyond Al-Qaeda). د دې څېړنې په غور سره لوستل به موږ ته د هغو خبرو حقيقت را ښکاره کړي چې ما پورته يادې کړې دي، ځکه دغه څېړنه، چې په دوو لويو ټوکونو کې خپره شوې، يوه دقيقه نقشه وړاندې کوي او د شام د جهاد د راتلونکي، د هغه د ټولو پېښو، بدلونونو او د ننني حالاتو لپاره په خورا ښه ډول پلان جوړوي. هر څوک چې زما د خبرو په رښتينولۍ شک لري، د همدې څېړنې ژوره مطالعه ورته بسنه کوي، څو د شام د راتلونکي په اړه د هغوی د پلان جوړونې او د هغې د عملي پلي کېدو ترمنځ د همغږۍ اندازه درک کړي.

د صهيوني ـ صليبي لوېديځ تر واک لاندې نړيوال نظام په تېرو دوو لسيزو کې د «اعتدال پالو مسلمانانو د شبکو» په جوړولو او د «مدني ديموکرات اسلام» (Civil Democratic Islam) په ټينګښت کې بريالی شوی دی او د اوسنۍ لسيزې تر پيل پورې لوېديځ د «مدني اعتدال‌پالو جهادي سازمانونو» Moderate Civil Jihadist (Organizations) په رامنځته کولو کې هم سترې برياوې ترلاسه کړې دي. همدارنګه لوېديځ د ځينو جهادي خوځښتونو پر افکارو او تمايلاتو د خپل نفوذ په ټينګولو کې هم بريالی شوی دی. هغوی يې له هغه منهج او لارې څخه، چې لوېديځ يې نه خوښوي، اړولي او هغه مسير ته يې سوق کړي چې لوېديځ يې منلی او ورسره جوړجاړی کولی شي. سربېره پر دې، صهيوني ـ صليبي لوېديځ پر دغو تنظيمونو دا ليدلوری او تصور هم تپلی دی چې د «اعتدال پال جهادي خوځښت» د جګړې اصلي دښمن څوک دی او هغه دښمن څوک دی چې اعتدال پال مجاهدين يې بايد کمزوري او بې اغېزې کړي. لوېديځ د خپلو معيارونو له مخې د معتدلو مجاهدينو لپاره د هغو اشغالګرو دښمنانو يو لست ټاکلی دی چې د هغوی پر ضد د جهاد اجازه ورکوي. په دې کې بشار الاسد، د ايران–لبنان حزب الله، ايران او روسيه شامل دي. خو برعکس، د صهيونيستي او امريکايي اشغال په اړه هغوی د دې پر ضد د ژبې، مال، لاس او وسلو په وسيله له جهاد څخه منع کوي او حتی دا هم منع ګڼي چې هغوی اشغالګر صهيونيستي يا اشغالګر امريکايي وبلل شي. له همدې ځايه د شام د جهادي قيادت تر منځ يو نوی، ډېر انحرافي او ګمراه کوونکی سياسي تصور رامنځته شوی دی، هغه دا چې اشغالګرو (امريکايي) مشرانو ته د

ولسمشرۍ د بریا مبارکي ورکول او د اشغالګر (امریکایي) دولت لپاره د ځواک او سوکالۍ هیله کول.

په حقیقت کې دا د جهادي تصوراتو کې یو ډېر لوی انحراف دی. له همدې امله زه له هغو ځوانانو سره ډېر خواخوږی یم چې له جهاد سره مینه لري، خو له پوهې پرته د جګړو اور ته ورټېل وهل کېږي او د جګړو د سون مواد ګرځول کېږي، ځکه هغوی په هغو داخلي او خارجي توطئو خبر نه دي چې د دوی پر ضد او د شام د مبارک جهاد پر ضد رواني دي او همدارنګه د صهیونیستي-صلیبي لوېدیځ له پلانونو ناخبره دي.

په مقابل لوري کې بیا زه د الله تعالی پر وعدو یقین لرم او دا هم منم چې دا مبارک جهاد به ان شاء الله د بیت المقدس پر لور روان وي، ځکه چې شام د صدق او وفا مرکز او د اسلام زانګو ده. دا د الله له خوا خوښه شوې او د هغه له ځمکې څخه غوره شوې سیمه ده، چې د خپلو بندګانو له منځه هغه کسان په کې راولي، چې غوره کړي یې وي. الله د شام او د هغه د خلکو ذمه واري اخیستې ده او ملائکو خپل وزرونه ورباندې غوړولي دي. د شام او د شام د خلکو لپاره دا خبره بس ده چې زموږ نبي ﷺ د شام لپاره د برکت دعا کړې او موږ ته یې خبر راکړی چې د منافقانو لپاره پر مؤمنانو غالب کېدل حرام دي. نن موږ د الله په فضل شام وینو چې له خالص شر څخه د خیر پر لور بدلېږي، خو لا هم د هغه په خیر کې څه ناڅه تیاره شته. موږ له الله تعالی څخه دعا کوو چې د شام د ورونو په چارو کې د اسانتیا اسباب برابر کړي او د هغوی کارونه سم کړي.

په شام کې د جهاد د راتلونکي په اړه زما د خبرو خلاصه دا ده چې په راتلونکي کې د شام د جهاد واقعي بیا راژوندي کېدل یوازې هغه وخت ممکن دي چې اهلِ جهاد په داسې یوه لاره او صف کې سره راټول شي چې یو له بل سره تړلي وي او یو بل ته ځواک ورکوي. کله چې زه د «شام»خبره کوم، نو زما مطلب زموږ د لوی شام سیمه ده، یعني له اوسني شام څخه تر فلسطین، لبنان او اردن پورې. زما په ساده نظر، د شام خلک یوازې هغه وخت خپل لوی شام ته پرمختګ ورکولای شي چې یووالی او قوي اړیکه سره وساتي. د شام عقاب یوازې په دوو تړلو وزرونو الوت کولای شي: یعني د «طوفان الاقصی وزر» او د «ردع العدوان وزر».

د دې عملي ثبوت دا دی چې "طوفان الاقصیٰ" د "ردع العدوان" د بریا لپاره په سیمه کې د سیاسي او پوځي شرایطو په رامنځته کولو کې لوی رول لوبولی دی، لکه څنګه چې د شامي انقلاب ډېرو مشرانو هم دا خبره منلې ده. په هغوی کې یو کمانډر احمد الدالاتي دی چې په دې وروستیو کې یې په MBC چینل کې په خپله مرکه کې همدا خبره کړې ده. له همدې امله د «طوفان الاقصی» د جوړوونکو او د «ردع العدوان» د رامنځته کوونکو تر منځ له همغږي، یووالي او متقابل تړاو څخه انکار نه شي کېدلای. اوس یا خو به د دې دواړو صفونو یو د بل لپاره مرستندوی او ملاتړ کوونکي وي، یا به په راتلونکې کې «طوفان الاقصی» «ردع العدوان» تېر کړي (اغېزمن/محدود کړي)، یا به برعکس حالت وي، لکه څنګه چې د «طوفان الاقصی» د جوړوونکو صف بندي او د ایران له پلان سره د هغوی اتحاد د دې لوري نښه ښیي. نو هغه لوری چې دوی پرې روان دي، د «ردع العدوان» د جوړوونکو له صف بندۍ او اتحاد سره په ټکر کې ښکاري.

که الله دې دواړو ډلو ته اسانتیا ورکړي چې له یو بل سره همغږي او همکاري وکړي، پرته له دې چې د امت د اهدافو خلاف اتحاد وکړي یا د بهرنیو پلانونو تر اغېز لاندې لاړ شي، نو د شام د جهاد راتلونکی به د الله په اذن کامیابۍ او توفیق ته روان وي. په دې برخه کې زه د نوط شامي اداري ورونو ته مشوره ورکوم چې په لبنان کې د خپلو سني ورونو خیال وساتي، مرسته ورسره وکړي او د هغوی د جهادي پرمختګ لپاره کار وکړي، څو هغوی د سیمې لپاره یو ملاتړ او جهادي تکیه شي. هغوی باید په لبنان او غزه کې د کتائب القسام له ورونو سره د اړیکو او ورورولۍ د پُلونو جوړولو ته پاملرنه وکړي او په لبنان کې د شیعه محور پر ځای د یوه لبناني سني محور، بلکې د سني تهاجمي محور په جوړولو کې خپله ونډه واخلي. او الله تعالی ښه پوهېږي.

(ادامه لري، ان شاء الله)

****

له فتحې وروسته...!

دکتور لطف الله خیرخوا

لومړۍ خبرې:

دغې مرحلې ته یو څه ډېر تیاری په کار و. دا چې په ځان ته سر جګړه، سیاست او په ټوله کې د یوه ستر خطرناک بهیر اداره را تر غاړې وه، موږ هغومره تیاری ونه کړای شو. په هر صورت؛ کله چې په یو مسؤولیت کې خبره تر مجبوریته رسیږي، نو د مسؤولیت غوښتنې به هم د همدې مجبوریت پر بنسټ پوره کیږي.

د دې لپاره چې د منفي ذهنیت ښکار نه شم، دا نه وایم، چې «موږ باید بدل شو» بلکې وایم: موږ باید پر خپل ظرفیت لوړونې تر دې هم ډېر کار وکړو، هره ورځ باید نوي څه زده کړو. د ارتقاء حد معلوم نه دی، موږ باید د نظام د مجبوریتونو لپاره هم هره شېبه په دې لټه کې شو، چې څه ډول لوړ شو. فرصت مو له لاسه وتلی نه دی، خو بې شکه چې پر موږ ناوخته دی، د وخت د ضیاع، د فرصتونو د ضیاع او د قوت د ضیاع هېڅ فرصت نه لرو.

موږ اوس فعلاً حاکم نظام یو. پر ټول هېواد زموږ د واکمنۍ مطلق سیوری خپور دی. په دې مسلمانه خاوره کې اوسېدونکي ټول افغانان زموږ د نظام برخه دي. د دې مسلمانې خاورې د ټولو ګټو د خوندي کولو مسؤښښولیت لرو او د دې مسلمانې خاورې لپاره یې د ستراتیژیکو ګټو د انحصارولو ماموریت لرو، دا ګټې به د دې مسلمانې خاورې په انحصار کې وي. پر بل عبارت؛ عامه ګټې او ستراتیژیکې ګټې زموږ خدمت کې نه دي، بلکې موږ د خپلې مسلمانې خاورې د عامه او ستراتیژیکو ګټو د ساتنې خدمت کې یو. دا باید زموږ د کار اصل وي او سیاستونه مو باید د دې اصل پر بنسټ خپل لیدلوري وټاکي!

کله چې زموږ مسلمانې خاورې ته داسې نظریې راغلې، چې د مسلمانې خاورې ګټې یې پر ځان څرخولې، ګټې له نظریو سره وبایلل شوې. د امان الله پاچا له وخته یې درحسابوئ، همدې رویې دا مسلمانه خاوره په لمبو کې وسوځوله، چې اور یې د کمونیستي نظریې د حاکمیت پر مهال ډېر ژبغړاند شو او له بده مرغه د تېرو حاکمو نظریو په عکس العمل کې د اسلامي نظریې همدا ډول تطبیق د پرلهپسې ناکامیو ښکار شو. موږ که په دې کې سره رقابت لرلی، چې کومه نظریه په څومره کچه د دې مسلمانې خاورې ګټې خوندي کولی شي، ګټې او نظریې مو دواړه ساتلی، کرلی او زرغونولی شوې. موږ که څومره هم حاکم پاتې شو، مګر خپل فکر ونه ساتلی شو، ویې نه کرلی شو او زرغون یې نه کړی شو، موږ ناکام یو. لږ تر لږه موږ باید د کمونست او سېکولر په څېر فکر نه کولی، ځکه؛ که هغه دا خاوره د ځان په ګټه څرخوله، خو دلیل دا و، چې هغه کمونست او سېکولر و او دا خاوره مسلمانه ده. زه ولې د هغه په څېر فکر وکړم؟ زه باید ځان، فکر او زیار ټول د دې مسلمانې خاورې له ګټو وڅرخوم.

څومره ښه فرصت دی، چې زموږ نظریه په خپل جوړښت او مقصد کې زموږ د مسلمانې خاورې او مسلمان ولس د لومړنیو حیاتي اړتیاو د پوره کولو، رفاه او پرمختګ یوازې نوم نه، بلکې ترکیز لري. موږ چې څومره د خپلې مسلمانې خاورې او مسلمان ولس ګټو ته ژمن یو، همغومره زموږ نظریه او مقاصد ورسره خوندي کیږي. دلته موخه پر جغرافیه انحصار نه دی، بلکې موخه خپل پېژند، فکر، کلتور او تاریخ ته د بقاء لار پیدا کول دي.

موږ د دې مسلمانې خاورې دفاع او حریت ته ژمن وو، خلکو ورکولو، موږ شته شوو. موږ په یوه مرحله کې خپل وجود ثابت کړ. کار یې وغوښت، قرباني یې وغوښته، سترې یې وغوښته، نو نړۍ وپوهېده، چې موږ ورک نه یو، موږ شته یو. همداسې بله

مرحله وه، تر دې يې ډېر ځانګړى کار وغوښت، چې خپل تاثير وښيو.

شپه او ورځ نا ارامه، درد، ټپ او شهادت وزغمل شو، چې دفاع پر برید واوښته. زموږ يوې يوې خبرې، يوې يوې اعلامیې او يو يو دريځ خپل تاثير وښود. دا چې پر سلنيزې محاسبې مو حاکميت ثابتول غوښتل، کوم درد مو ونه ليد؟ څومره تيندکونه مو وخوړل؟ څومره وځورېدو؟ هر افغان يې حس کولی شي.

حاکميت پراخ شو، پر مخ لاړ، دا دی، حاکميت عام شو. هېڅ ننګونه نه شته. په کور دننه هېڅ فيزيکي خنډ نه شته. په کور دننه هېڅ سياسي او نظامي کړکېچ نه لرو، چې د نظام ګاډی مو د رغړېدو ګواښ سره مخ وي. بناءً؛ د استحکام اړتيا ده! هره مرحله کې دې ته اړتيا ليدل کيږي، چې په عموم کې يې په اړه رويې پرمختګ وکړي. د رويې پرمختګ تر هر څه لومړی د فهم پرمختګ ته اړتيا لري. که د مرحلې بدلون دې د لوړ شوي فهم پر بنسټ نه وي، تصادف ګڼل کيږي، چې بيا يې هم غنيمت کول، متفاوت فهم غواړي!

موږ د نظام د استحکام مرحلې ته ورا‌وړو، خو فهم يې بايد ولرو. نظام څه ډول ټينګېدی شي؟ څه ډول همداسې ټينګ پاتې کېدې شي؟ موږ بايد په لومړي سر کې درک کړو، چې موږ اوس نه دننه، نه بهر چا سره پر جګړه بوخت يو. موږ ته يوازې د تېر نظام تاثيرات او ننګونې پاتې دي. ځان، خاوره او ولس به له دغو بدمرغو تاثيراتو ښنګه ژغورو، دا مهمه ده. يوازې دا هم نه ده، چې بد مرغه تاثيرات پاتې دي، ډېر فرصتونه هم راپاتې دي، له دې به څه ډول استفاده کوو؟

په لومړي سر کې دوهم درک بايد دا وي، چې موږ اوس نظام يو، موږ طبعاً او ولس ذهناً ټول بدلون ته اماده يو، نو معقول، نرم او ټولګټی بدلون زموږ چاره اسانوي. موږ ته د استحکام او بقاء چانس راکوي. له موږ سره بايد ولس بدلون حس کړي. دلته د بدلون معنا مازې بدلون نه دی، بلکې مثبت او ښه بدلون مراد دی، چې ولس په کې خپل راتلونکی روښانه ووينې او که په تش نس هم وي، خو چې په يو خوړه هيله د ارام خوب چانس ولري.

ښه، څه کول په کار دي؟ زه به د خپل ذهن خورجين راوځنډم، خو هېڅوک دې هم، په دې اړه خپل نظر او مشوره نه سپموي. دا د ضرورت وخت دی، نظام ته لاس ورکول فرض دي.

د واقعيتونو منل:

موږ ته په عين اليقين ثابته شوه، چې نړۍ په عسکري لحاظ زموږ هېواد کې ماته شوه او موږ تل کوښښ کوو، چې څوک دا ستره سوبه له نظره غورځوي، پام يې ور واړوو. دا مهمه هم ده او زموږ د تاريخي ارزښتونو د لړۍ تر ټولو مهمه کړۍ ده، مګر دا هم بايد هېره نه کړو، چې پوځي صورت، د دې جګړې يو اړخ و. دا جګړه بل اړخ هم لري، چې د مرمۍ غږ نه لري، خو درد يې د مرمۍ تر ټپ زيات دی.

دا لومړی ځل نه دی، چې موږ جګړه ګټو. موږ تکرار جګړې وګټلې او موږ د مسلمانانو په توګه يوازې جګړې ګټلې نه دي، موږ انتخابات هم وګټل، موږ جرګې هم وګټلې، مګر موږ نظام قايم نه کړی شو. دا د غور خبره ده. موږ د مسلمانانو په توګه په خپل هېواد کې د روسانو پر ضد جګړه وګټله، موږ د مسلمانانو په توګه په مصر کې انتخابات وګټل، موږ په تونس کې پارلماني انتخابات وګټل، موږ له تاجکستان سره جرګه وکړه او په نظام ور ګډ شوو، خو نظام څه شو؟ همدا لامل دی، چې په عموم کې د «سياسي اسلام» د ماتې نغاره هم وهل کيږي.

يوه ستونزه، چې موږ يې د اسلامي حرکت په ډول په کور دننه نه لرو، د مخالف نظامي ځواک هغه ده. موږ دا ستونزه نه لرو. په نورو اسلامي هېوادونو کې دا ستونزه هم لومړي سر کې ور اضافه ده او ډېر کرت اسلامي حرکتونه تر هر څه له مخه د مخالف نظامي ځواک له امله له ماتې سره مخ کيږي. دا د ماتې «يو» لامل دی. د اسلامي نظام د نه قايمېدو ډېر لاملونه نور هم دي، چې موږ بايد ورته د نظام په توګه متوجه شو. په مخالف نظامي ځواک پسې دوهمه ستونزه، دا وي، چې اسلامي حرکتونه په کور دننه پر ملي محورونو د پرګنو په راټولولو کې تغافل کوي. موږ په کور دننه داسې نور محورونه هم لرو، چې د خپلې مسلمانې خاورې ټولې پرګنې پر خپل نظام راټولې کړو او دا د ستونزو لړۍ کولو دوهم ستر ګام دی. موږ بايد په کور دننه په ملي کچه هېڅ ستونزه ونه لرو او که يې ولرو، داسې ستونزه بايد نه وي، چې د حراب دليل وګڼل شي.

موږ په فکري بُعد کې په کور دننه له خپل حرکت وراخوا داسې نور اړخونه هم لرو،



چې موږ ته خوشبين وو او دي. موږ سره يې سم غم گاللی، موږ سره يې خوشحالي شريکه لمانځلې او دوی حتماً بشري، علمي او کاري قوت لري. د هېواد د هر اړخيزې ښېرازۍ لپاره يې فکر کړی، کار يې کړی، تر يو بريده رسېدلي دي، مخکې تللي دي، زموږ د ټولنې يو واقعيت دی او موږ بايد واقعيت ومنو.

د واقعيت منلو معنا دا هېڅکله نه ده، چې موږ دې ټول واقعيتونه ومنو، بلکې بهرنی اشغال مو که د يو واقعيت په توگه وننگاوه، داخلي موافق واقعيت نه بايد د يو فرصت په توگه استفاده وکړو او ټول هغه اړخونه چې پر مشترکاتو د راټولېدو جوگه دي، ځان کې ذوب کړو. هر واقعيت خپل تعامل غواړي، دغه سمت نيول غواړي.

تر ټولو ستر واقعيت دا دی، چې موږ له خپل تاريخ او تمدن شکېدلي خلک نه يو. نه بايد نورو ته له خپل تاريخ او تمدنه د شکېدلو خلکو په نظر وگورو. له خپل، جمع ټولو شريکو جريانونو سره د عام اسلامي تصور او د اسلامي شريعت د مقاصدو پر بنسټ تعامل په کار دی. که زموږ نظام په مقاصدي بعد کې د نظام د مستحکم کولو لپاره له موافقو واقعيتونو استفاده ونه کړي، ستره اشتباه به وي.

که خدای مه کړه زموږ ظرفيت دومره ټيټې کچې ته راشي، چې په داسې سختو شرايطو کې هم د نظام په توگه په ليدلورو کې تقسيم او پراگنده قوتونه راټول نه کړی شو، دا به د اسلامي تاريخ يو ډېر نادر او ننگوونکی باب وي. بناءً، نه په گټلو کې يوازې يو او نه بايللو کې. که مو نظام

مستحکم شو، له موږ سره به زموږ ټول هغه امت ګټلي وي، چې د اسلامي نظام غوښتنه کوي او د بهرنيو د اشغال ضد فکر لري. که مو وبايلله، همدا ډول به يې ټول امت راسره بايلي او بيا به څوک د کوم ارزښت خبره راپورته نه کړی شي.

زموږ هيواد کې چې زموږ د نظام کومه خوشبيني شته، دا خوشبيني له هيواده بهر پالونکي لري. که مو خپل خوشبين خلک وبالل، د نړۍ د مسلمانو ولسونو تر منځ مو محبوبيت ستري کچې ته ځي او د

﴿هُوَ الَّذِي أَيَّدَكَ بِنَصْرِهِ وَبِالْمُؤْمِنِينَ﴾ (سورة الانفال:٦٢)

(الله) هماغه ذات دی چې ته يې په خپل مدد او مؤمنانو سره مضبوط کړې يې.

پوره مصداق ته به ورننوځو. څومره چې د خوشبينۍ انعکاس خپريږي، هغومره د ملاتړ دايره پراخيږي او پروردګار په اسلامي امت کې داسې معجزانه ښېګڼې ايښې، چې د دولتونو له ناکامه مو هم ژغورلی شي.

موږ که د جګړې ميدانونو کې وو، نو ډېرې لپې اسمان ته پورته وې، ډېرې سترګې هسک ته رنې وې، ډېرې ژبې په دعاء وې، ډېرې هيلې له موږ سره وې..بالاخره زموږ جهاد که موږ خپله تنګې دايرې ته ننباسو، زموږ کمزوري به وي، که نه د ﴿فَشَرِّدْ بِهِم مَّنْ خَلْفَهُمْ﴾ پر معکوس مفهوم موږ ستر امت تر شا درلود او له هر تراو پورته يې يوازې د مسلمانۍ په تراو راسره پاللې، زموږ لپاره يې ژړلي او زموږ لپاره خاندي. موږ څنګه کولی شو، چې ان د هغوی اخلاقي حق هم ونه پالو؟ بناءً له هر څه لومړی بايد د حنفي مېتود په انتخاب شريعت محوره دريځ غوره کړو او سليقوي وېشونو ته په کې کوز نه شو.

له هر هغه قوته بايد استفاده وکړو، چې په کور دننه يې لرو او پرېښږدو، چې قوتونه مهمل پاتې شي يا يې دښمن په کمال هوښيارتيا د ځان په ګټه وڅرخوي.

د ولس قاطع اکثريت اسلامي نظام غواړي

دا هغه فکر دی، چې موږ ته زموږ د نظام استحکام اسانه کوي. اوس نو زموږ ظرفيت پورې اړه لري چې څه ډول خپل ولس راسره په نظام کې شريکوو او پر مخ ځو. که ساده محاسبه وکړو او نتيجه يې واخلو: د نړۍ کوم بل ولس که پينځه شلويښت کاله د پرديو او خپلو ګډو وډو نظامونو تر سيورې لاندې پاتې شي، بيا به هم د قربانۍ دومره حوصله ولري؟ ساده نتيجه يې دا ده، چې بل ولس دا حوصله نه لري او زموږ ولس خامخا اسلام غواړي او په اوږد نفَس يې لپاره قربانۍ ته هم تيار دی.

بناءً موږ به ددې ولس په اړه مناسب فکر او رويه خپلوو. موږ بايد دې ته متوجه يو، چې موږ څوک نه مسلمانوو، ځکه چې دا خلک له پخوا مسلمانان دي او ښه مسلمانان دي، بلکې مسلماني وريادوو، خپل تاريخ او تمدن ورته مخې ته ږدو، بيا يې دې ته تياروو، چې خپل اصل ته ور وګرځي. دا کار په عهد نبوي کې شوی او ګټه يې کړې، اوس يې هم کوي.

دلته يوه خبره مهمه ده، چې د اسلامي نظام په غوښتنه کې موږ سره په کور دننه نا لوستی ولس هېڅ ډول مخالفت او حتی اختلاف نه لري، بلکې که په کور دننه زموږ مخالف او موږ سره اختلاف لرونکی وي، سل سلنه لوستي هغه دي او فکر مو وي، چې لوستی او پوه توپير لري!

دغسې يو حالت کې بايد نظام ډېر هوښيار چلن وکړي او د هوښيار چلن بنسټ دا دی، چې يو ځل به ټول خلک د خپل نظام پر ماهيت، ځانګړتياوو، ګټو او تاثيراتو پوهوو. که مو دا کار ښه وکړ، ټول ولس به راسره د مسووليت احساس کوي او د نظام بار به راسره پر اوږو اخلي.

کله چې په ملت دولت سيستم حاکم شوی، دا سوال زېږېدلی، چې اسلامي نظام راځي، نو څه ډول به وي؟ همدغه سوال اوس هم سوال پاتې دی، چې بايد لومړی په رانه تعبير او بيا په متمدن تعامل ځواب شي!

موږ بايد دا مجبوريت حس کړو، چې پر دې ولس له پېړيو راهيسې کوښښ شوی، چې له اسلامه لرې وساتل شي. پوځي يرغلونه پرې وشول، فکري او کلتوري هغه پرې وشول. د يرغلونو بڼې ورته بدلې شوې، يرغلونو ته مفاهيم بدل شول، نوي مفاهيم ورته ايجاد شول، چې اوسنی له شلو تر څلويښت کلنو قشر ددې يرغلونو سيده هدف و او ترې متاثر شوی. دا قشر د همدې يرغلونو په توپان کې دې عمر ته رسېدلی. ده چې څه زده کړي، څه يې خپل کړي، څه ډول فکر کوي، څه ډول حس لري، دا پرې چا په زور نه دي کړي، بلکې

ده ته په تهیه شوي چاپېريال کې يې دا لوستي، اورېدلي، ليدلي او دده فکر ور اړول شوی.

دا څه چې موږ ورته وايو، دا يې نه مکتب کې لوستي، نه يې اورېدلي او نه يې ليدلي. دا يې نه پوهنتون کې لوستي، نه يې اورېدلي، نه يې ليدلي. ښه، موږ اوس کوښښ وکړو، چې زموږ د سرک چيک پواينټ به د ده فکر بدل کړي، د ده رويه به بدله کړي، د ده حس به بدل کړي، د ده فهم به بدل کړي؛ دا سطحي فکر دی، بلکې هېڅ فکر نه دی، ساده‌ګي ده.

دا چې څه ډول د علم، عرفان، ادب، کلتور، عصريت، نوښت، بدلون او پرمختګ په نوم محاصره و او ده ته ځان ازاد معلومېد. ده سره ظلم کېدۀ، دۀ ته انصاف برېښېد. دی په تياره کې ساتل کېدۀ، خو مصنوعي رڼا يې سترګې نيولې وې، دی له خپل تاريخ او تمدنه وشکول شو، مګر دۀ ځان د خپل تاريخ او کلتور ترجمان ګاڼه.

اوس که موږ د سرک پر سر ورته د ازادۍ حس ورکوو، دی ځان مقيد ګڼي. که انصاف کوو، ظلم ورته برېښي، که يې رڼا ته راکاږو، تياري ورمعلومېږي!! پر دغه ټکي فکر او ترکيز په کار دی.

زما خپله مشوره دا ده، چې موږ بايد د نظام ټولې ننګونې پر فرصتونو بدلې کړو او د يوې معقولې او منطقي دعوتي ستراتيژۍ پر بنسټ پر مخ لاړ شو. ډېر لنډ وخت کې به وګورو، چې موافق، مخالف او متفاوت به زموږ په څېر فکر او رويه کوي، خو لومړی به خپل فکر او خپلې رويې ته ارتقاء ورکوو، خپل ظرفيت به لوړوو، بله لار نه لرو.

موږ نظام يو. مکتب، مدرسه، مسجد، پوهنتون، رسنۍ او د معقول بدلون ټول وسايل را سره دي. فکر ته اړتيا ده، له شته وسايلو، امکاناتو او قوتونو استفاده په کار ده. د نظام په حيث جامع او مقاصدي چلن په کار دی. موږ که د دې کار لپاره پينځه کلنه معقوله ستراتيژي ولرو، پينځه کاله وروسته به دا هر څه بدل وي. موږ به ننګېدلي نه يو، بلکې له خپلو فرصتونو به په شوق ګټه اخلو، پر مخ به ځو او خپل مسووليت به اداء کوو.

موږ وينو، چې نړۍ مو په بشر حقونو او د نجونو په زده‌کړو او کار ننګوي، خو دا ننګونه فرصت ته اوړي. د غرب د دې غوښتنې په اړه زموږ حس دا دی، چې غرب د حق او علم غم نه لري، بلکې له دې وسايلو د فيمينزم لپاره کار اخلي او زموږ کورنۍ نړول غواړي. له تېرو سلو کلونو چې اسلامي نړۍ خپل نظام نه لري، وجود يې کورنۍ ساتلی. که کورنۍ ونړېده، نو د «اسلامي امت» په نوم به څه وانه وړي. د «اسلامي ورورولۍ» بوی به هم را نه شي. درځئ، دوی يې چې د کومې موخې لپاره غواړي، هغه موخه نه ظاهرولی شي او نه يې مستقيما غوښتلی شي، موږ ته فرصت دی، چې د نړۍ نر او ښځې خپل اسلامي حقوق وپېژني، د نړۍ نر او ښځې پر خپل رسالت فکر وکړي او کار ورته وکړي. درځئ، په هر کور کې د علم، فکر او اسلامي هويت ډيوې بلې کړو. پر ښوونځي او روزنې او پر لوړو زده‌کړو پانګونه وکړو، تقويه يې کړو، ځانګړې يې کړو او بېلګه يې کړو!

له دې کوره، چې بيا ماشوم راوځي، د دين، ايمان، علم من حيث العلم، عفت، حياء، جهاد، امت، اخوت، اطاعت، بيعت، خپلواکۍ، صبر، ثبات، ارزښتپالنې او … خبرې به ورته يوازې دا نه چې نا اشنا نه برېښي، بلکې کله کله به د معلم، استاد، حاکم او مشر پام ور اړوي، چې مور مې ويل دا فکر مسلمانانو سره نه ښايي!

دلته به بيا د اسلامي نظام هغه اصل هم په ټوله معنا پلې شي، چې ټول رعيت بايد د امير المؤمنين مبايعين وي. په اسلامي نظام کې هغه شکلي اپوزېسيون هم متصور نه دی، بلکې د نظام تر سيوري لاندې هر وګړی به د امير بيعت لري. نظام او رعيت به سره پېيلي او اغړلي وي. د ولس د قناعت قيضه به د نظام لاس کې وي. د نظام هر ګام به د خپل ځان د ګټې، رفاه او پرمختګ لپاره ګڼي. د نظام مدافعين به وي او هره دسيسه به په نطفه کې خنثا وي. نظام به په سړه سينه خپل کار، مسووليت او دندې ته متوجه وي.

که کار معکوس و، موږ به هغو کارونو کې مصروف يو، چې زموږ نه دي. خپل اصل کارونه به راڅخه پاتې وي. د انسان تربيه له کوره، مکتبه، تر پوهنتونه او د دعوتي وسايلو په فعالولو په تراکمي ډول ممکنه ده. د سرک سر، چيک پواينټونو او د يوې شپېې کار نه دی.

درځئ، ننګونې فرصت وګڼو او پر خپل محور يې وڅرخوو!

****

حجاب

د مسلمانې خور د حیا او عفت نښه ...!

مولوي سعد طارق

حجاب او حیا په اسلامي ټولنه کې د ایمان تر ټولو ښکاره او ژوندي مظاهر دي، چې د انسان باطني پاکي په ظاهري سلوک کې منعکس کوي. کله چې موږ د حجاب پر اړتیا او شرعي حیثیت نظر اچوو، نو دا روښانه کېږي چې دا د خالق جل جلاله یو داسې تلپاتې قطعي حکم دی چې هدف یې د ښځې بندي کول نه، بلکې هغې ته په ټولنه کې یو داسې معنوي او امن لرونکی حصار جوړول دي چې د هر ککړ نظر او د هوس بازانو له لومو څخه په امان کې پاتې شي. حجاب د یوې مؤمنې ښځې د هویت، وقار او لوړاوي نښه ده چې د ټولنې اخلاقي امنیت ورباندې تړلی دی. کله چې یوه مسلمانه ښځه ځان په شرعي حجاب سمبالوي، هغه په حقیقت کې د دیموکراسۍ او مادیت پرستۍ پر وړاندې د فکري او عقیدتي اصالت اعلان کوي او ثابتوي چې د هغې حقیقي ارزښت د هغې په عقل، ایمان او انساني عفت کې دی، نه د هغې په فزیکي بڼه او د بازار په مادي نمایشونو کې.

له فکري او فلسفي اړخه، حجاب د جنسیت پر وړاندې د جنسیت د غلبې مخنیوی او د انسانیت د ترجیح په معنی دی. کله چې په یوه کلتور کې ښځه د حجاب له حصاره بهر ایستل کېږي، هغه د پانګوالۍ او مادي نظامونو لپاره په یو تجاري کالج بدلېږي چې یوازې د مصرفي کلتور د ترویج او د جنسي غریزې د اشباع لپاره کارول کېږي. اسلام د ښځې دغه مادي استثمار ردوي او حجاب د یو داسې فکري ډال په توګه وړاندې کوي چې ښځې ته د ټولنې په عامه فضا کې د مادي او جنسي لید پر ځای د یو همکار او عاقل انسان په توګه د حضور حق ورکوي. حجاب په اصل کې د ښځې روح او افکارو ته د آزادۍ د بخښلو په معنی دی، ترڅو د هغې فکري وړتیاوې د ظاهري رنګ او بوی تر شعاع لاندې پټې نه شي، بلکې د یو رښتیني کلتوري او فکري پرمختګ لامل شي. د حیا کلتور انسان ته ورزده کوي چې د بدن ښکلا د نندارې لپاره نه، بلکې د حریم او کرامت ساتلو لپاره ده. کله چې یو تمدن د حیا سرحدونه مات کړي، هغه په اصل کې د انسانیت او حیواني غرایزو ترمنځ شته پوله له منځه وړي.

د حجاب فرضیت د اسلام په سپېڅلي شریعت کې د قرآن کریم د مُحکمو ایاتونو په واسطه ثابت دی. الله تبارک و تعالی په خپل مبارک کتاب کې د حجاب او حیا په اړه په خورا صراحت سره امر کړی دی. په سورة الاحزاب کې د امت میندو، د رسول الله صلی الله علیه وسلم لوڼو او ټولو مؤمنو ښځو ته د خطاب په ترڅ کې داسې فرمايي:

«يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاءِ الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيبِهِنَّ ذَٰلِكَ أَدْنَىٰ أَنْ يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَحِيمًا»
(سورۀ احزاب:۵۹)

(ای پیغمبره! خپلو مېرمنو، لوڼو او د مؤمنانو ښځو ته ووایه چې خپل څادرونه پر ځانونو راځوړند کړي، دا کار د دې لپاره ډېر نږدې دی چې دوی وپېژندل شي [چې پاک لمنې دي] نو تکلیف به ورته ونه رسول شي، او الله بخښونکی او مهربان دی).

د دغه الهي فرمان فکري ابعاد دا دي چې حجاب د مسلمانې ښځې لپاره د مصئونیت او ټولنیز خوندیتوب تر ټولو لومړی او اساسي حق دی. دغه راز په سورة النور کې د سترګو د حفاظت او د زینت د پټولو په اړه فرمايي:

﴿وَقُل لِّلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَىٰ جُيُوبِهِنَّ﴾ (سورة‌النور:۳۱)

«او مؤمنو ښځو ته ووایه چې خپلې سترګې ټيټې کړي او د خپلو شرمګاوو ساتنه وکړي او خپل زينت دې نه ښکاره کوي مګر هغه چې پخپله ترې ښکاري او خپل پوړني دې پر خپلو ګرېوانونو واچوي».

دا په ډاګه کوي چې د ټولنې روحي سلامتيا او د فکري چاپيريال ډاډمن کېدل د هوس بازۍ د اسبابو له مهارولو او د حيا له ثبات سره مستقيم تړاو لري. د وحې دا مکتوب او آسماني دستور ثابته کړي چې حجاب د وخت او زمان په بدليدو نه زړېږي، ځکه د انسان فطرت او معنوي اړتياوې د تل لپاره ثابتې دي.

نبوي احاديث هم په خورا صراحت سره موږ ته دا درس راکوي چې حيا د ايمان رګ دی او د حيا مړينه د ټولنې د فکري او اخلاقي مغز د شل کېدو په معنی ده. رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

«الْحَيَاءُ لَا يَأْتِي إِلَّا بِخَيْرٍ»

«حيا له خير څخه پرته بل څه نه راوړي».

او په بل ځای کې په خورا سختو الفاظو سره د هغو ښځو په اړه وعيد ذکر شوی چې د حجاب احکام تر پښو لاندې کوي. په يو مشهور حديث شريف کې راغلي دي:

«صِنْفَانِ مِنْ أَهْلِ النَّارِ لَمْ أَرَهُمَا... وَنِسَاءٌ كَاسِيَاتٌ عَارِيَاتٌ مُمِيلَاتٌ مَائِلَاتٌ رُؤُوسُهُنَّ كَأَسْنِمَةِ الْبُخْتِ الْمَائِلَةِ لَا يَدْخُلْنَ الْجَنَّةَ وَلَا يَجِدْنَ رِيحَهَا» (صحيح مسلم).

(د دوزخ دوې ډلې دي چې ما لا نه دي ليدلي... او هغه ښځې چې جامې يې اغوستې وي مګر بربنډې وي، نورو ته ميلان ورکوونکې او پخپله ميلان کوونکې وي، د دوی سرونه به د اوښانو د هغو بوکانو په څېر وي چې مايل وي. دا ډول ښځې به نه جنت ته ننوځي او نه به د جنت بوی ومومي»

دا مبارک ارشادات ښيي چې بې حجابي د انسان فکر ته انحطاط او د روح تنزل وربخښي. کله چې په يوه ټولنه کې د حجاب کلتور حاکم وي، هلته د کورنيو بنسټونه محکم وي، ځوان نسل د لوړو انساني او ديني آرمانونو په فکر کې روزل کېږي او د غربي ناهيليزم او کلتوري يوازيتوب هغه زهرجنې څپې چې غواړي د کورنۍ رښتينې مينه له منځه يوسي، له ماتې سره مخ کېږي. د نبوي منبر دا پيغام نن ورځ هم د هغو کلتوري يرغلونو په مقابل کې تر ټولو لويه فکري وسله ده چې غواړي د حيا



پر ځای ابتذال او فحشا ته قانوني بڼه ورکړي.

که موږ تاریخ او د تمدنونو فلسفې ته ځیر شو، د ځمکې پر مخ د هر ستر تمدن د نړېدو لومړنی گام د هغوی له فکري زوال او بیا د عفت او حیا له منځه تلو څخه پیل شوی دی. کله چې په یوه ټولنه کې د آزادۍ تر عنوان لاندې بې بندوباري رواج شي، هلته تفکر، تولید او علم ځای مادي خواهشاتو او سطحي غوښتنو ته پرېږدي. حجاب هغه غښتلی فکري توازن دی چې ټولنه د غریزو له بې بندوباره سېلاب څخه ساتي او انسان د انساني کرامت لوړو پوړیو ته رسوي. دا د اسلامي امت د فکري عظمت راز دی چې ښځې ته د کور د ملکې او د معنوي او علمي ثبات د تضمین کوونکې په توگه درناوی کوي. په داسې یو چاپېریال کې، حجاب د فکري استقلال نښه گرځي چې انسان د نورو د کلتوري غلامۍ او فکري تسلیمېدو څخه ژغوري. لوېدیځ تمدن نن ورځ د کورنیو د پاشل کېدو او د اخلاقي بحران په هغه دلدل کې ډوب دی چې دقیقا د حیا له لاسه ورکولو او د حجاب د فلسفې د نشتوالي زېږنده ده.

له همدې امله په یو رښتیني اسلامي نظام کې، چې د زرگونو شهیدانو د پاکو وینو په برکت او د امت د غیورو زامنو د فکري او جهادي مبارزو په پایله کې رامنځته شوی وي، د عفت او حجاب ساتنه د حکومت، علماء کرامو او د ټولنې د هر فکري او بااحساسه فرد تر ټولو لومړۍ شرعي وجیبه ده. دا نظام د دې لپاره راغلی چې د تېرو کلونو د اشغال، کلتوري مسخ کولو او دیموکراسۍ د اخلاقي انحراف ټولې نښې له منځه یوسي او د اصیل فکر او شریعت رڼا خپره کړي. خو په خواشینۍ سره، کله ناکله زموږ دغه دینداره چاپېریال د ځینو غافلو او د غرب د فکري یرغل تر اغېز لاندې کړیو د هڅو له امله د فتنې ښکار کېږي، چې د ټولنې په زړه کې د حیا د مهارولو هڅې کوي. د داسې فکري انحرافاتو پر وړاندې چوپتیا او بې تفاوتي د ټول ملت د معنوي مرگ په معنی ده. یو اسلامي حکومت د معمار په څېر دی چې د ټولنې د پناه ځایونو د جوړولو مسؤولیت لري او د عفت سنگر د دغه جوړښت تر ټولو حیاتي برخه ده.

په دې وروستیو کې په هرات کې د ځینو بې لارې او د لوېدیځ په مړاوو کلتوري شعارونو غولېدلو کسانو لخوا د بې حجابۍ، بې بندوبارۍ او اخلاقي انحراف کومې پېښې چې رامنځته شوې، د غندنې تر ټولو توند، سخت او د غیرت له احساسه ډک الفاظ ورته لږ دي. هرات د علم، فقهې، تاریخي وقار، تصوف او د حیا ځانگو ده، په داسې یوه مذهبي او دینداره ښار کې دا ډول حرکات زموږ پر اسلامي هویت باندې یو ښکاره او بې شرمانه برید دی. دا پېښې ثابتوي چې دښمن لا هم د خپلو فکري نفوذي کړیو له لارې غواړي زموږ د غیور مسلمانانو له معنوي وجود څخه حیا او مېړانه وباسي، ځکه هغوی پوهېږي چې کله په یوه ټولنه کې حیا له منځه لاړه شي، نو د حق غوښتنې او زړورتیا روحیه پخپله مړاوې کېږي. دا حرکات یوازې انحراف نه دی، بلکې د هغو قربانیو سپکاوی دی چې د شریعت د نفاذ لپاره ورکړل شوې دي. هرات د خواجه عبدالله انصاري ځانگو ده، د دې ښار په کوڅو کې بې حجابي د تاریخ او عقیدې په مخ یوه لویه څپېړه ده.

موږ د دغه غیور ملت د یو بااحساسه فکري او اسلامي غړي په توگه په خورا پرېکنده توندۍ سره وایو، چې د داسې وایرسونو او د فکري انحراف د تخم شیندونکو پر وړاندې باید مسؤول امنیتي، کلتوري او کشفي ارگانونه، غیور علماء کرام او د ټولنې قلموال په خورا سخت او بې رحمانه ډول ودرېږي. که نن د داسې فکري انحطاط او انحرافاتو مخه د شریعت په رڼا کې په عبرتناکو سزاگانو او شرعي تعزیراتو سره ونه نیول شي، سبا به دا اور زموږ د هر مسلمان کور اخلاقي او کورنی ثبات په سیند لاهو کړي. زموږ د خوېندو او میندو عزت، عظمت او خوندیتوب په حجاب او شرعي عفت کې دی او د دغه عزت هر دښمن چې غواړي زموږ په صفونو کې د پردیو مړاوي شوي مادي ارزښتونه بیا ترویج کړي، باید په کلکه وپېژندل شي، رسوا شي او په شرعي توگه مجازات شي، ترڅو د راتلونکو نسلونو لپاره د فکري بیدارۍ او عبرت درس وگرځي. پر مسؤولو چارواکو غږ کوو چې په دې برخه کې هیڅ ډول سستي او مصلحت ونه مني، ځکه د ناموس ساتنه له نظامي سنگرونو څخه کمه نه ده او د هر غافل او مفسد لاس باید په لومړي گام کې مات شي، ترڅو هېڅوک بیا دا جرأت ونکړي چې زموږ د سپېڅلي دین او غیور ولس له اصیلو ارزښتونو سره لوبې وکړي.

****

په رزق پسې حرامې لارې مه لټوئ!
الله تعالی چې څه درکړي هغه به درسيږي

حضرت علي بن ابي طالب رضي الله عنه يوه ورځ مسجد ته داخل شو، مسجد ته د داخلېدو په وخت کې يې يو سړي ته چې د مسجد په مخ کې ولاړ و، وويل چې زما قاطر (کچر) ونيسه، هغه سړي د قاطرې (کچر) مهار يا پړی ونيولو خو وروسته يې کچر يوازې پرېښود او خپله لاړو.
کله چې حضرت علي رضي الله له جمات څخه راووت په لاس کې يې دوه درهمه وو چې غوښتل يې د کچرې د ساتنې په بدل کې يې شخص ته ورکړي، خو چې بهر راووت ګوري چې کچر ولاړ دی خو مهار يا خپل مشخص پړی يې نشته او هغه سړي غلا کړی دی!
سيدنا حضرت علي رضي الله په خپل قاطر يا کچر سپور شو او روان شو، بيا يې خپل غلام ته دوه درهمه ورکړل چې د کچر لپاره مهار يا لجام يا هماغه جلب واخلي، غلام بازار ته لاړ او هماغه غلا شوی پړی يې وموند چې غل په دوه درهمو پلورلی و، نو حضرت علي رضي الله تعالی عنه وفرمايل:
«بنده د بې صبرۍ له امله ځان له حلال رزق څخه محروموي، خو له هغه څه چې په تقدير کې ورته ليکل شوي هېڅ زيات شی نه ترلاسه کوي.»

البداية و النهاية





د وخت انصار؛

شهید ملا سنګین فاتح

د سپین کاروان سرلاري له کتاب څخه

پېژندنه

شهيد مولوي سنګين فاتح د حاجي مرسلين زوی په قوم ځدراڼ، د پکتيکا ولايت زيروک ولسوالۍ د تنګي د کلي اوسيدونکی و. مولوي صاحب په ۱۹۷۴ کال د هجرت په ديار شمالي وزيرستان دته خيلو سيمه کې پيدا شوی و چې په پنځو ورونو کې تر ټولو مشر و .

لومړنۍ ژوند او تعليم

ملا سنګين لومړنۍ زدکړې د شمالي وزيرستان همزوني کلي کې د مولوي حبيب الرحمن صاحب نه پيل کړې، د لوړو ديني زدکړو لپاره د ستر مجاهد مولوی جلال الدين حقاني صاحب مدرسې منبع العلوم ته لاړ. نوموړی په دې وخت کې زلمی و، د جهاد او وطن سره يې ډېره مينه درلودله، د طالبانو د اسلامي امارت د واکمنۍ پر مهال به يې د درسونو د رخصتيو نه په استفاده د شراو فساد د عناصرو په ضد جهاد کې برخه اخيستله.

وروسته بيا دوره يې په مدرسه (جامعة العلوم السلاميه زرګری) کې له شيخ الحديث مولوي عبدالستار جان رحمه الله او شيخ مولوي سيف الله صاحب څخه ولوستله او په ۲۰۰۵ کې يې د فراغت پګړۍ وتړله.

د صليبيانو په ضد جهاد

کله چې صليبي وحشي ځواکونو په ګران وطن افغانستان يرغل وکړ، د خلکو په ذهنونو کې د دوی د ټيکنالوژي، قوت او زندان رعب و؛ په هغه وخت کې شهيد مولوي سنګين فاتح د اسلامي امارت له طرفه د مولوي جلال الدين حقاني صاحب په جبهاتو کې په پکتيکا کې د يوه نظامي مسؤل په حيث وټاکل شو.

مولوي صيب د لومړنيو مجاهدينو څخه و چا چې په کمزورو وسايلو په خوست او پکتيکا ولايتونو کې د يرغلګرو په اکمالاتي کاروانونو او د دوی په پوځي مراکزو ځيونکي بريدونه پيل کړل .

يو قومي مشر او د عوامو د خوښې قومندان:

نوموړي د نظامي پوهې او مسلکي توب تر څنګ د ولسي قضاياوو او د هغوی د منازعاتو په حل او فصل کې خاص مهارت درلود .

مولوي سنګين (فاتح) سره له دې چې د جګړې په مورچل کې يو باتور قومندان و خو له ولسي خلکو او خپلو ملګرو سره يې د يوه صميمي دوست او خواخوږي ورور په حيث چلند درلود.

شهيد مولوي سنګين د مجاهدينو په پوځي او اخلاقي تربيه کې ډېر کوښښ کاوه او د نظامي عملياتو د تر سره کولو په مهال به يې د ولسي خلکو د سر او مال خاصه پاملرنه کوله .

صفات او خويونه يې:

تقوی، ديانت او په نبوي سنتو تمسک يې طبيعي خاصه او له تظاهر او رياکاري څخه يې کرکه کېدله او د خپلو ملګرو تر څنګ د دښمن عسکرو هم مولوي صاحب ته لوړ احترام درلود

په لومړي ځل د امريکايي عسکر بندي کيدل

شهيد مولوي سنګين (فاتح) هغه بريالی قومندان و چې د پکتيکا ولايت د مسؤليت په مهال دده تر امر لاندې د قاري اسمعيل صاحب د ډلګۍ مجاهدينو په ۲۰۰۹ کال کې د پکتيکا په ولايت کې امريکايي افسر بوبريګدال له وسلې سره د امريکايي اډې له

څو متری څخه ژوندی اسیر کړ . د بوبرګډال نیول کېدل او بیا د هغه په محفوظ شکل ساتل چې په پای کې ورباندې د اسلامي امارت او امریکا تر منځ تاریخي تبادله وشوه په پکتیکا کې د شهید مولوي سنګین د مسؤلیت د مهال یوه تاریخي پیښه وه .مشهور لیکوال او د سیاسي چارو شنونکي وحید مژده په خپلې یوې مقالې کې د مجاهدینو په لاس د دغه امریکایي افسر د اسارت قصه داسې لیکي :

کله چې برګډال د ۲۰۰۹ میلادي کال د جون په دېرشمه د پکتیکا د یوسف خېلو په ولسوالۍ کې له خپل مرکز نه وتلی و طالبانو ونیو. د نیول کېدو پر مهال ورسره یو M16 ټوپک و (خو که یې له دغه ټوپک څخه کار اخیستی وای، حتماً به وژل شوی و) د بریګډال د نیولو او موندلو لپاره، امریکایانو په پکتیا، پکتیکا او د غزني په اندړو او نورو ډیرو ولسوالیو کې پراخ عملیات ترسره کړل، همدا رنګه د ده د ساتنې د ځای په اړه یې د معلوماتو پیدا کولو له پاره د جائزې وعده هم وکړه، خو طالبانو دی د امریکایانو له لاس رسي څخه لرې ځای کې ساتلی وو.

د طالبانو په روایت مولوي سنګین ځدران چې هغه وخت د پکتیکا نظامي مسؤل و- برګډال یې د یوه بوډا کور ته بوته او هغه ته یې وویل :

”کاکا ! پام پرې لره چې دا سړی درنه ونه تښتي. زه ډېرې وخت بوخت یم نو تا ته یې درسپارم“

بوډا له ځان سره فکر وکړ چې دا سړی خو د تېښتې لار نه لري. که له کوره ووځي، نو چېرته به لاړ شي؟ نو نه یې لاس ته زولنې ور اچولې او نه یې پښې ورتړلې، خو بریګډال وېرېده. هغه په دې اندېښنه کې و چې طالبان به یې ژر تعذیب کړي، یا به یې سر پرې کړي او ویډیو به یې خپره کړي، په داسې حال کې چې طالبان د دغه اسیر په ارزښت پوه ول او هېڅکله یې داسې اراده نه لرله. برګډال د تېښتې لار لټوله، د همدې لپاره به چې کله بوډا ورته ډوډۍ راوړه، ده به لړه لړه پټه ساتله. تر دې چې یوه ورځ بوډا اودس ته د باندې ووت، برګډال هم له کوره نه راووت او ورک شو. برګډال چې خپل نظامي کالي بدل کړي وو او ځایي کالي یې په تن وو، پرته له دې چې څوک پرې پوه شي یا ورته ځیر شي، ډېر ژر د کلي له بازاره ووتلی او د کلي نه لرې ځنګل او غره ته یې ځان ورساوه. بوډا چې کله د اسیر له تېښتې خبر شو، طالبان یې خبر کړل. طالبان درې ورځې ورپسې ګرځېدل، بالآخره کلي ته څېرمه سیمه کې یې یو وار بیا ونیو .

اوس بریګډال پوی شوی وو چې د تېښتې لار نه شته، نو باید نوی حالت رامنځ ته کړي. همدغه امریکایي عسکر بریګډال و چې وروسته په تبادله کې یې هغه ۵ طالب مشران امریکایانو د ګوانتامو نه راخلاص



کړل ځوک چې د لس او دولس کاله د ګوانتنامو په زندان کې بندیان وو.

د دښمن په ضد کامیاب عملیات:

د مولوی سنګین صاحب تر قوماندې لاندې په ۲۰۰۶ کال کې مجاهدینو د پکتیکا نکې په ولسوالۍ تعرض وکړ او په مکمله توګه یې فتحه کړه .

امریکایانو او اجیرانو یې څو وار کوشش وکړ چې په ولسوالۍ برید وکړي او بیرته یې ونیسي خو د مولوي صاحب د ملګرو له طرفه د سخت غبرګون سره مخامخ شول او ماته به یې وخوړله، د نکې ولسوالۍ تر اوسه پورې د اسلامي امارت د مجاهدینو تر ولکې لاندې ده .

د اتل سنګین تر قوماندې لاندې مجاهدینو د پکتیکا ولایت د ګیان ولسوالۍ ودانۍ او ورسره نېږدې د امریکایانو او ځانګړو ځواکونو په ګډ کمپاین باندې تعرض وکړ او د سخت جنګ نه وروسته یې دواړه مرکزونه فتحه کړل چې د ګیان ولسوالۍ تر اوسه د مجاهدینو په لاس کې ده .

د ګیان ولسوالۍ پورې مربوط د لواړه په سیمه کې د امریکایانو په کمپاین یې مسلسل بریدونه وکړل په اکمالاتی کاروانونو یې دوامداره کمینونه ووهل چې بالاخره امریکایان مجبور شول د لواړه کمپاین پریږدي .

د پکتیکا ولایت د چاربران په ولسوالۍ د مولوي سنګین تر قوماندې لاندې مجاهدینو تعرض وکړ او ولسوالۍ یې مکمله فتحه کړه چې لله الحمد تر نن ورځې پورې د اسلامي امارت سپین بیرغ ورباندې رپاند دی .

د منظم پلان له مخې د پکتیکا زیروک ولسوالۍ په ودانۍ باندې اول د موټر بم برید او وروسته پراخ تعرض هم د مولوي صاحب له طرفه ترتیب شوی وو چې په نتیجه کې یې بې شمېره امریکایانو ژوند د لاسه ورکړ .

د اتل سنګین نور بې شمېره ځپونکي او بریالي عملیات چې د دښمن په وړاندې یې ترسره کړي دي چې دلته یې پدې لنډه لیکنه کې ځایول ناممکن دي.

په جهادي مزل کې زخمی کېدل:

مولوی صیب په جهادی مزل کې دوه واره ټپي هم شو ،یو وار د پکتیکا ولایت اورګون ولسوالۍ مربوط ګربګي کنډو سیمه(اوس د شهیدانو په کنډو یادیګی) کې امریکایانو بمبار ورباندې وکړ د مولوی صیب څلوېښت ملګری شهیدان شول او مولوی صیب سخت زخمی شو،سانحه لویه وه خو دومره نه چې د مولوی صیب حوصله یې ماته کړې وی،مولوی صیب بیا روغ شو او د یرغلګرو انګریزانو په ضد جهاد ته یې دوام ورکړ،

کله یې چې په میرانشاه بازار کې په شرخوښو او غلو باندې عملیات پیل کړل نو مولوی صیب د هر وار غوندې تر ټولو مخکې جنګیدو او په همدغو عملیاتو کې په مرمۍ ولګیدو خو الله تعالی د خپل دین د خدمت لپاره ژوندی وساتو.

شهادت:

امریکایان د اتل مولوي سنګین د کامیابو عملیاتو نه ډېر تنګ شوي وو همدا علت وو چې په ۲۰۱۱ کال کې یې مولوي صیب په تور لیست کې شامل کړ، دغه د خدای د لارې سرښندونکی مجاهد او د دعوت د لارې ستر داعي د ۲۰۱۳ میلادي کال د سیپتمبر د میاشتې په نهمه نېټه په شمالي وزیرستان کې امریکایي بې پیلوټه الوتکې د یوه ملګري په حجره کې په نښه کړ، د صلیبیانو قاتل، د پکتیکا د غرونو زمری، د مجاهدینو او عوامو محبوب مشر، شمله ور ځوان مولوي سنګین فاتح په شهادت ورسید او د تل لپاره د ابدي ژوند په لور رخصت شو.

انالله وانا الیه راجعون

مولوي صیب د خپل پلار اولنی او آخرنی شهید زوی نه وو بلکې د مولوی صیب نه مخکې د مولوي صیب ورور عبدالوارث ‹حیدری› د پکتیکا ولایت په زیروک ولسوالۍ کې د امریکایانو سره په مخامخ جنګ کې شهید شوی و او د مولوي صیب د شهادت نه وروسته یې بل ورور محمد فاروق په جنوبي وزیرستان کې د پاکستاني پوځیانو په لاس په شهادت ورسیدو.

روح دې ښاد او یاد دې یې تل ژوندی وي.

****

د غزې ولس د حال په ژبه ...!

مولوي سعد طارق

دا غزه ده! د عزت، شجاعت او د معاصر تاریخ د کربلا غونډې د سرښندنې چیغه! دا یوازې د ځمکې یوه داسې وړه ټوټه نه ده چې په جغرافیه کې محدوده وي، بلکې دا د اسلامي امت د غیرت، د الیاسین -۱۰۵ د راکټونو د غړ او د "رباط" تر ټولو کلکه او نه ماتېدونکې کلا ده. د دې مبارکې ځمکې د سرلوړي ولس حال د الله تعالی د دې مبارک فرمان ښکاره مصداق دی چې فرمايي:

الَّذِينَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ إِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَانًا وَقَالُوا حَسْبُنَا اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ» (ال عمران: ۱۷۳)

هغه کسان چې خلکو (منافقانو) ورته وويل: "ستاسې پر خلاف لویې لښکرې راغونډې شوې دي، له هغو څخه ووېرېږئ ."- نو ددې په اورېدو يې نور هم ایمان پیاوړی شو او هغو (مؤمنانو) ځواب ورکړ چې زموږ لپاره خدای کافي دی او هماغه ډېر ښه کار جوړوونکی دی.

کله چې موږ د غزې غږ پورته کوو، موږ د نړۍ د فرعونیانو او غاصبو صهیونیستانو پر وړاندې د هغو حقپالونکو مجاهدینو د وینو قصه بیانوو چې په خپل ایثار او مېړانې يې د معاصرې نړۍ د استکبار غاښونه ور مات کړل او د ازادۍ او کفر ماتولو رښتونې معنی يې ثابته کړه. له کلونو کلونو راهیسې په غزه کې زموږ په غیورو خویندو، وروڼو او تنکیو ماشومانو باندې د کفر او نفاق د نړیوال اتحاد لخوا یو ظالمانه او وحشیانه حصار تپل شوی دی. د دښمن زړونه دومره تور دي چې هغوی زموږ د ملت پر وړاندې له پاکو اوبو، رڼا او درملو نیولې تر هر انساني حقه پورې هر څه بند کړي دي. خو ایا هغوی په دې وتوانېدل چې زموږ د تندې په مټ زموږ عزم مات کړي؟ هېڅکله نه! که څه هم نن زموږ د تنکیو ماشومانو مړي په خاورو کې پراته دي، زموږ میندې او پلرونه د خپلو شهیدانو پر جنازو د "الحمدلله" او د احتساب چغې وهي او زموږ ښوونځي، مقدسات او روغتونونه د دښمن د وحشي بمباریو ښکار کېږي، خو دا ټول دردونه زموږ د جهاد لمبې نورې هم تېزوي. د نړیوالو بې کفایته سازمانونو او د منافقو واکمنانو مړژواندی سکوت د دې خبرې څرګند ثبوت دی چې د نړۍ په مظلومانو د زړه سواندې هېڅوک نشته، پرته له الله تبارک و تعالی او د هغه د مخلصو بندګانو له تورو. دښمن په خپلو مدرنو الوتکو، ټانکونو او جاسوسي شبکو مغرور دی، خو هغوی د ایمان په معجزه، د غزې د تونلونو په اسرارو او د "الله اکبر" په غږ نه پوهېږي. غزه تسلیمي نه پېژني؛ ځکه چې دلته مقاومت او جهاد د یو څو کسانو کار نه دی، بلکې دا یوه سپېڅلې عقیده ده چې د هر غزه وال، د هرې کونډې او د هر یتیم په رګونو کې لکه د وینې غونډې بهېږي. زموږ مېړني مجاهدین نن د رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه مبارک حدیث رښتینې نمونه ده چې فرمايي:

«لَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي عَلَى الدِّينِ ظَاهِرِينَ، لَعَدُوِّهِمْ قَاهِرِينَ... لَا يَضُرُّهُمْ مَنْ خَالَفَهُمْ إِلَّا مَا أَصَابَهُمْ مِنْ لَأْوَاءَ، حَتَّى يَأْتِيَهُمْ أَمْرُ اللهِ وَهُمْ كَذَلِكَ. قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَأَيْنَ هُمْ؟ قَالَ: بِبَيْتِ الْمَقْدِسِ وَأَكْنَافِ بَيْتِ الْمَقْدِسِ».

«زما د امت یوه ډله به تل پر دین باندې ثابته وي، پر خپلو دښمنانو به غلبه لرونکې وي ... هر څوک



چې د دوی مخالفت وکړي، دوی ته زیان نه شي رسولی، پرته له هغې تنګسې او سختۍ څخه چې دوی ته به رسیږي، تر هغه چې د الله امر راشي او دوی به په همدې حال وي. ورته وویل شول: اې د الله رسوله! دوی چیرته دي؟ هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل: په بیت المقدس کې او د بیت المقدس په شاوخوا (اکنافو) کې.»

هغوی نن د غزې په ځمکنۍ غېږ کې د ټول اسلامي امت د کبر او لوړتیا ساتونکي دي. موږ نړۍ ته وښودله چې کله په زړونو کې د شهادت شوق او د ایمان رڼا وي، نو بیا د دښمن تر ټولو پرمختللې وسلې او زغروال ګاډي هم د مجاهد له خوا د هډوکو ماتونکې او نږدې فاصلې (نقطة الصفر) څخه په نښه او په ایرو بدلېږي.دا قرباني، دا د زلمیو بهېدلې وینې او د بې ګناه ماشومانو فریادونه به هېڅکله بې ځایه لاړ نه شي. زموږ د هر شهید وینه د هغه مبارک سهار لپاره رڼا ده چې د بریا تکبیرونه به د اقصی جومات په انګړ کې انګازې وکړي. تاریخ به زموږ دا کلابندي، زموږ لوږه او زموږ مظلومیت ولیکي، خو د هغه ترڅنګ به زموږ د سرلوړۍ، د غاړې نه ټیټولو او زموږ د شمشاد په څېر ولاړ د ارمان داستان هم تر ابده پورې ژوندی ساتي. ترڅو چې زموږ په رګونو کې د وینې وروستی څاڅکی وي، موږ به د الله تعالی د دې وعدې پر اساس مبارزه کوو چې فرمایي:

«وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ» (ال عمران:۱۳۹)

بې زړه کېږئ مه، اندېښمن کېږئ مه. همدا تاسې برلاسي یاست، که تاسې مؤمنان اوسئ.

موږ د حق د اعلاء او د کفر د ذلت لپاره خپلې غزا ته دوام ورکوو.موږ د خپل رب جل جلاله پر بریا پوره باوري یو، د سپېڅلې ازادۍ سپېدې را نږدې دي او زموږ د غاصبو دښمنانو د تېښتې او ذلت ورځ را رسیدونکې ده.

وإنه لجهاد.. نصرٌ أو استشهاد!

****

د مجاهد پیغام

د حماس د نظامي څانګې ویاند «ابو عبیده» په خپل وروستي پیغام کې څه وویل؟

● د ابو عبیده د وروستي پیغام پښتو ژباړه

بسم الله الرحمن الرحیم

اِنْ يَّمْسَسْكُمْ قَرْحٌ فَقَدْ مَسَّ الْقَوْمَ قَرْحٌ مِّثْلُهٗ ؕ وَتِلْكَ الْاَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ ۚ وَلِيَعْلَمَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَيَتَّخِذَ مِنْكُمْ شُهَدَآءَ ؕ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ الظّٰلِمِيْنَ ○

که چېرې تاسو ته څه زخم رسېږي، نو یقیناً (کافر) قوم ته (هم) د دې په شان زخم رسېدلی دی او دا ورځې (حادثې) دي چې مونږ یې د خلکو په منځ کې په وار سره اړوو را اړوو او لپاره د دې چې الله مؤمنان معلوم کړي او له تاسو څخه شهیدان واخلي او الله له ظالمانو سره مینه نه کوي.[1]

الحمد لله رب العالمین ناصر عباده المجاهدین ومذل الکفره والمشرکین الذي شرفنا بالجهاد واصطفی منا الشهداء والصلاه والسلام علی نبینا المجاهد الشهید الذي تقدم الصفوف وطلب الشهاده في مظانها القائل صلی الله علیه وسلم لوددت ان اغزو في سبیل لله فاقتل ثم اغزو فاقتل ثم اغزو فاقتل اما بعد!

اې په غزه، لوېدیځه غاړه، قدس، اشغال شوي داخل او دیار هجرت (شتات) کې زمونږ غښتلیه او قرباني ورکوونکیه فلسطیني ملته! اې زمونږ د عربي او اسلامي امت پرګنو! اې د مقاومت په جبهو کې د وینې او وسلې ورونو! اې د نړۍ ټولو ازادي غوښتونکو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.

هر د بصیرت او پاک فطرت خاوند ته په ډاګه شوې ده چې مونږ له داسې رذیل او پست دښمن سره مخامخ یو چې د اخلاقو په ځای یوازې د هغو ضد (بداخلاقي) لري، د جګړو په اړه د ولسونو په دودونو نه پوهېږي او د ترونونو درناوي او حرمت ته غاړه نه ږدي. هغه یو ځل بیا د وضعیت په لوستلو کې تېروتنه وکړه او غلطه ارزونه یې وکړه؛ زمونږ نرمښت یې کمزوري او زمونږ ځنډ او تامل یې شاته تګ وګاڼه. خو هغه په دې ونه پوهېد چې مونږ نه هېروو او نه بښنه کوو او د حساب کتاب فاتوره (پاڼه) به تر هغه وخته پرانیستې پاتې وي ترڅو چې هغه د الله په اذن سره دا حساب دروند او پوره پرې کړي او که چېرې زمونږ بې‌جرأته دښمن داسې ګومان کوي چې زمونږ د مشرانو په شهادت رسولو سره مونږ ضعیفوي، نو په پوه دې شي، چې د دوی وینه هغه تېل دي چې زمونږ کښتۍ د سختیو د ماتولو لپاره مخې ته بیایي. دا زمونږ د مبارزې د ربښتینولۍ، رهبرۍ، له خپل ملت سره د پیوستون او د دوی په ځای د خپلو سرو د قربانولو نښه ده.

ونصبت نفسي للـــرماح دریئه
ان الکـــریم لمثـــلها لفعول

«ما خپل ځان د نېزو لپاره ډال کړ ... بېشکه چې سخي (شریف) انسان د داسې کارونو کونکی وي.»

مونږ د شهادت او شهیدانو په دې مقام کې یو او زمونږ د ویاړلې غزې د خلکو د هغې رواني وینې د سېلاب په سیوري کې یو چې له درواغجنو ترونونو او غولوونکو تفاهمونو سره سره لا هم نه ده درېدلې. مونږ د خپل ملت او امت ټول شهیدان، مشران او مجاهدین یادوو، د دوی پاکو ارواو او صابرو کورنیو ته سلامونه او درناوی لېږو. په دې برخه کې مونږ د خپلو هغو سترو مشرانو یادونه کوو چې په دې وروستیو کې شهیدان شوي دي او په ځانګړې ډول د ستر شهید قومندان عزالدین الحداد «ابو صهیب» یادونه کوو چې د القسام غونډونو لوی درستیز

---


[1] آل عمران: ۱۴۰

و. هغه خپل سفر د جهادي هلو ځلو له پیل څخه پیل کړ، بیا یې زموږ د ملت د مقاومت بېلابېل پړاوونه وځارل او په جهادي کاروونو کې یې یو په بل پسې پرمختګ وکړ. د ډېرو اتلوالو عملیاتو څارنه یې وکړه او ډېرې رهبري کوونکې دندې یې پر غاړه لرلې، چې تر ټولو مهمې یې د غزې لواء مشري او د جنګي وسلو د څانګې مسؤلیت و. همدارنګه د اکتوبر د اوومې نېټې په پلان جوړونه، چمتووالي او څارنه کې یې مرکزي رول درلود. وروسته یې د غزې په شمالي برخه کې د دفاعي عملیاتو مشري وکړه چې دښمن ته یکې درانه زیانونه واوښتل. تر هغه چې د محمد الضیف او محمد السنوار په څېر له دوو سترو مشرانو څخه وروسته یې په یوه خورا حساس پړاو کې د القسام د لوی درستیز مشري پر غاړه واخیسته او په بشپړ حکمت او ورتیا سره یې پرمخ بوتله، ترڅو چې الله پاک ورته له خپلې کورنۍ او مجاهدو شهیدانو زامنو سره یوځای د شهادت لوړ مقام ور په برخه کړ او له خپلو مجاهدینو شهیدانو زامنو سره یوځای شو. همدارنګه موږ د لوی شهید مشر «محمد عوده (ابو عمرو)» یادونه کوو. هغه سخاوتمند او خاموش سړی چې په هر ډګر کې یې خپل نښان او اغېز پرېښود او په پټه یې کار کاوه. هغه د امت د لوی شهید «ابو خالد الضیف» نږدې ملګری و او د القسام کنډکونو کې د نظامي تصنیع یعنې وسلو جوړولو له لومړنیو بنسټګرو څخه و. هغه د شمال د لوا، د وسلو او جګړې د خدماتو د څانګې مشري وکړه، مخکې له دې چې د پوځي استخباراتو د څانګې مشري په غاړه واخلي ترڅو د اکتوبر د اوومې د عبور په پلانولو او څارنه کې اساسي رول ولري، لکه څنګه چې د طوفان الاقصی په جریان کې یې په شمال لوا

کې د دفاعي عملیاتو څارنه وکړه چې دښمن پکې سخت ګوزارونه وخوړل. بیا زموږ شهید خپله لاره د لوی مشر «عز الدین الحداد» څخه وروسته د درستیزوالۍ په مشرۍ پای ته ورسوله، مخکې له دې چې د عرفې په مبارکه ورځ له خپل مشر زوی او کورنۍ سره یوځای د عظیم شهادت مقام ته ورسیږي.

زموږ پیاوړی فلسطیني ولسه، زموږ لوی امته، د نړۍ ازادي غوښتونکو! موږ په داسې حال کې چې د شهید عز الدین القسام کنډکونه د خپل مرابط ولس دغه اوسنی حالت وینو، په لاندې ټکو ټینګار کوو:

لومړی: ترڅو دغه ډارن دښمن پوه شي چې د



(صحابه کرامو) زید، جعفر او ابن رواحه (رضي الله عنهم) شهادت د مسلمانانو د مشرانو د ختمیدو یا د دوی د دعوت د له منځه تلو نښه نه وه، بلکې برعکس هغه د «سیف الله

المسلول» زیږون و. نو د هغه څه زیری ولرئ چې تاسې به خفه کړي اې د الله دښمنانو! تاسې هیڅ نه دي کړي. له موږ څخه داسې مشران پاتې دي چې ستاسې لپاره ځواکونه راټولوي، داسې مشران چې د قرآن او سنتو له خوږو چینو څخه خړوب شوي او د خپلو لویو شهیدانو مشرانو تر لاس لاندې روزل شوي دي، نو د هغوی علم او حکمت یې جذب کړی دی. دوی د رباط او چمتووالي په ډګرونو کې لوی شوي، تجربو پخ پاخه کړي او جګړو تېره کړي دي ترڅو نن داسې تېرې تورې شي چې قسم یې خوړلی چې د خپلو اسلافو لاره به نه پرېږدي. د الله په اذن سره به په دوی کې هیڅ

تغییر او بدلون نه مومئ. او زموږ تاریخ ته مراجعه وکړئ او ترې وپوښتئ اې د ځمکې تر ټولو ګمراه خلکو! کله زموږ عزم کمزوری شوی او کله پر موږ داسې سخت پړاو تېر شوی

چې ستاسې د مقابلې لپاره مو سرې پکې نه وي موندلي؟ الله تعالی ته زموږ سفر به ونه دریږي او دغه بیرغ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم پورته کړی دی، هېڅکله به سقوط ونه کړي.

دوهم: د شهادتونو جنایتونه او زموږ د خلکو، ملت او مقاومت کوونکو د ورځني قتل عام لړۍ چې ماشومان، سپین ږیري او ښځې یې قرباني شوي دي او په غزه ترانګه کې د اوربند د تړون د نقضولو او له خپلو ژمنو څخه د اشغالګرو د سرغړونې ټول شاهدان، منځګړي او تضمین کوونکي د حقیقت له شیبې سره مخ کوي نو تاسې چېرته یاست؟ ستاسې رول چېرته دی؟ او ستاسې تضمینونه چېرته دي؟ موږ چې کله له امریکا پرته نورو منځګړو ته خطاب کوو، نو خپل ملت او د خپل امت بچیانو ته خطاب کوو چې د مظلوم او ظالم ترمنځ یو شان قضاوت مه کوئ او په غزه کې له خپلو ورونو سره د شرف داسې دریځ غوره کړئ چې تاریخ یې ثبت کړي او ټولې هڅې باید یوځای شي ترڅو اشغالګر چې زموږ، ستاسې او د ټول امت او د دې نړۍ د هر ازادي غوښتونکي دښمن دی، مهار کړل شي او هغه (اشغالګر) خپلو ژمنو ته تسلیمېدو ته اړ کړي، نه دا چې زموږ له مظلوم او ځورېدلي ملت څخه د نورو امتیازاتو او تېرېدنو غوښتنه وشي.

دریېم: په ټولو ځایونو کې زموږ مرابط ملت او زموږ د عربي او اسلامي هېوادونو مجاهدینو ته وایو چې تاسې نن د دغو وینو خاوندان (اولیاء الدم) یاست او د وخت فرض دا دی چې د حق او باطل په دې معرکه کې په عملي توګه ورګډ شئ، ځکه چې چوپتیا یا د بې پلوۍ غوره کول نور د منلو وړ نه دي. له الله تعالی او بیا له تاسې څخه زموږ هیلې نه پرې کېدونکې دي او موږ د خپل امت له ټولو بچیانو، جریانونو او ځواکونو څخه خپله غوښتنه بیا تکراروو چې اختلافات یوې غاړې ته کړي او خپله قبله د امت د لومړي نمبر دښمن په لور سمه کړي، ځکه هغه امت چې څو ورځې وړاندې د خپل رب د بلنې د لبیک ویلو لپاره په یو میدان کې ودرېد او د عرفات غره ته وختل ترڅو د اسلام یو شعار را ژوند کړي، نو پکار ده چې د خپلو مظلومو بچیانو د نصرت او مرستې لپاره د جهاد او سرښندنې لوړو څوکو ته هم وخېژي او (که هغوی له تاسې څخه په دین کې مرسته وغوښته، نو پر تاسې فرض ده چې مرسته ورسره وکړئ). ستاسې دښمن د غزې د هغو مبارزینو پر وړاندې خپله کمزوري وښودله چې په خپلو ساده وسلو یې هغه ذلیل کړ او د هغه اتل مجاهد امجد النتشه پر وړاندې چې په نیول شوې لوېدیځه غاړه کې یې په خپل موټر باندې هغوی تر پښو لاندې او هلاک کړل. تاسې ته د هغو ازادي غوښتونکو بېلګه شته چې د فلسطین پر پولو یې پر دښمن بریدونه وکړل او د مقاومت د ټولو هغو ځواکونو بېلګه چې صهیونیستي دښمن ته یې د ماتې خوند ور وڅکلو؛ او همدارنګه د عزتمن لبنان بېلګه چې اتلو بچیانو یې حماسې رامنځته کړې. نو پر هر هغه چا دې سلام وي چې له فلسطین سره ودرېدل او د هغه نصرت یې وکړ او د دښمنانو او بې‌غیرته خلکو سترګې دې هېڅکله خوب ونه ویني. او په پای کې، اې د غزې سخي مله، او اې د غزې صابرو ښځو، اې د دې ځمکې سپین ږیرو، ځوانانو او ماشومانو! اې د شهیدانو کورنیو او د سرښندنې سمبولونو! موږ ستاسې ویناوې تعقیب کړي، ستاسې شعارونه مو واورېدل او د شهیدانو مشرانو په مخه ښه کې مو ستاسې د خلکو ګڼه ګونه او لاریونونه وکتل. پر موږ حرام دي چې له دې وینې، له دې هوډ او له دغو قربانیو سره خیانت وکړو. نو لومړی پر خپل رب، بیا پر ځان او پر خپل مقاومت باوري اوسئ. موږ به هغې لارې ته دوام ورکړو چې زموږ مشران پرې شهیدان شول او د هغه څه لپاره به هڅې کوو چې تاسې ورته قرباني ورکړې ده. موږ به تاسې ته او د خپلو مجاهدو زامنو د ملاتړ او غېږ کې نیولو په چاره کې تل وفادار پاتې شو.

دا قرباني که څه هم ډېرې لوېې دي، خو د الله په مرسته به یو ښکاره بری راوړي، ځکه هیڅ داسې توره تپه تیاره نشته چې ورپسې سپېده چاود او بریا رانشي. د هغه شاعر خبره څومره پر ځای ده چې وایي:

کم وحشة جاء بعدها انس
وظلمة منها النور يقتبس
لا سيف امضى في كل معركة
من امل الناس بعدما يئسوا

«څومره وېره او یوازیتوب و
چې ورپسې مینه او انس راغی
او څومره تیارې وې چې رڼا
ترې واخیستل شوه. په هیڅ
جګړه کې داسې تېره توره نشته
لکه د خلکو هغه هیله چې له
ناهیلۍ وروسته پیدا کېږي.»

والله غالب على امره ولكن اكثر الناس لا يعلمون

وانه لجهاد .. نصر او استشهاد
والسلام عليكم ورحمه الله وبركاته
****

څو خبرې او یادونې

بت شکن یوه خپلواکه، اسلامي، فکري او دعوتي اداره ده چې د هېچا نماینده ګي نه کوي.

زمونږ په خپرونو کې د دیني، سیاسي او جهادي شخصیتونو لیکنې شته، چې د هر چا نوم ورسره ذکر شوی دی او د امت د ښېګنې لپاره نشر شوې دي.

د دې مجلې او زمونږ د نورو خپرونو د نشر حق د هر مسلمان لپاره محفوظ دی.

زمونږ د آدرسونو له لارې د خپلو لیکنو د نشر، انتقاد، پیشنهاد، مرستې او اصلاح لپاره کولای شئ زمونږ سره په رابطه کې شئ!

ایمېل (Email) آدرس:

tamas@butshikan.com

ټلګرام آدرس:

tamas_butshikan

بت شکن اداره

غزنوي په سومنات پسې روان دی

لکه گوري مچې شات پسې روان دی
دا سړی د سر خیرات پسې روان دی

دا زلمی چې شهید کیږي او لا خاندي
دا د رب په ملاقات پسې روان دی

د هندو پټکی یې پښو ته راغورځیږي
غزنوي په سومنات پسې روان دی

دا صلیب چې نن کوڅه په کوڅه گرځي
دا ابلیس په آدم ذات پسې روان دی

نو ضرور به خالدي توره شرنگیږي
څوک په لات څوک په منات پسې روان دی

دوه سړي دي یو طاغوت ته غاړې وځي
بل حدیث او په آیات پسې روان دی

خوار ترون په دغه دویم سړي پسې دی
ورته وایي مناجات پسې روان دی

سمیع الله ترون



«د خدای په لاره کې، د خدای په دین باندې ځان قربانول د ټولو عباداتو لپاره روح دی، په یوه منطقه او یو مملکت (هېواد) کې به د خدای ټول عبادات هغه وخت ژوندي وي چې جهاد پکې موجود وي، که جهاد نه وي ټول عبادات مړه کیږي!

جهاد د ډال حیثیت لري که چېرې جهاد موجود وو نو د مسلمانانو مال، ناموس، خاوره او ژوند به ساتلی وي، حتی مرگ به یې محفوظ وي. (یعني) که چېرې مړه کیږي نو په غلطو طریقو به نه مړه کیږي بلکې په جهاد کې به شهیدانیږي.

که چېرې د لااله الله کلمه نه وي او د خدای قانون نه وي (یعني مونږ ته په جهاد سره امر ونکړي) نو یو مجاهد به هم چېرته ډز ونکړي خو چې کله د خدای قانون شته وي (او مونږ ته په جهاد سره امر کوي) نو بیا که امریکا او د نړۍ ټول حکومتونه ووايي چې جنگ به نه وي (خبره یې نه منل کیږي، بلکې) جنگ به روان وي د خدای په فضل سره.»

مولوي جلال الدین حقاني رحمه الله

له اووم بدري لښکر څخه اخیستل شوی

بُت‌شِکَن

د فاتح سلطان محمود غزنوي رحمه الله په یاد کې